
زه یم تږی
ته اوبه یې
شعري ټولګه
علم ګل سحر

# زه یم تږی ته اوبه یې

د علم ګل سحر د شعرونو ټولګه

راټولوونکې: پاکیزه ارزو
۱۳۹۱ لمریز کال

**کتاب پېژندنه:**

دکتاب نوم: زه یم ترې، ته اوبه یې
وینا وال : علم ګل سحر
خپرونکې : مصور خپرندوی بنسټ
کمپوز : پاکیزه ارزو
دخپرونو لړ: ۳۸
راټولوونکې: پاکیزه ارزو
ډیزاین: محمد داوود تپان
دچاپ کال: ۱۳۹۱
چاپ ځای : مومند خپرندویه ټولنه – ننګرهار
شمیر: ۱۰۰۰ټوکه

ډالۍ

هغو ته چې وخت ته ارزښت ورکوي او د ژوند له وړو شیبو ګټه اخلي

ع سحر

## نيوليک

غزل
دمينې پته
بغاوت
عزل
يوه هيله
ګل او اغزی
موږ
تعجب
د خوشحال بابا پر مزار
نهيلي
غچ
الوتکه
غزل
کنګل ژمی، کنګل زړونه
ځانځاني
هيله
ښکلا
دنيا تشه ښکاري ماته
احساس
د زمانې ژبه
رڼا
د زړه په شاړه
نيکي
ډيوه
زموږ خوښي، زموږ غمونه
تصوير
څراغ
د ځان غم
عذر
ژوند ښکلی دی؟
د کرکې اور

ازمايښت
درد
اعتبار
ژوندۍ هيلې
غزل
لوګي مخکې رڼا وروسته
پردې
مور
په اوړونو کې ژوند
که ښکلې نه واى
تسلي
يو غمې د سيند په تل کې
د اننګو پسرلى
مينه کې ځومره فرق دى
غزل
ورک ارمان
د رڼا تناب
يوازې ستا لپاره
وخته راوګرځه
سوال
زړه
مورته
غزل
نوبل دښکلو حق دى
له مينې تيښته
د رڼا ځړيکه
له مينې ها خوا
عادت
د مينې شبنامې
د خوبونو ښاپيرۍ
انسان

غزل
خو ته به نه وې
مات ستوري
نور
لپې لپې سمندر
پاس سپوږمۍ ده لاندې ته يې
تږی نښتر
نيمګړی سفر
خلک هسې وايي
د مينې داغ
سرِکال
د مور ياد
د اوبو په آئينه کې
ته او سپوږمۍ
يم کمزوری له تا ليرې ځم انسانه
دلته به لمر نوره رڼا ونه کړي
نيکمرغي
غزل
اوس دنيا بل ډول ده
غزل
ياد
کمال
ورکه لار
ژمی
تياره
د خپلواکې ځلي ته
وسواس
دوه زړی
زه او ته
ازادي
تشويش
څير

احتیاط

له کندزه تر رزمکه

انتظار

(...)

د شپو طلسم

څه؟

ستا په لاس کې

غزل

ارزښت

ډېرلیک

لاریون

غمیزه

خوبولي

د اوښکو ملغلرې

د مینې قرباني

غرور

غزل

د اور له ستوني

غزل

مینه

خو ته مې ونه لیدې

ټپیزې

اندیښنه

ورټ

درواغ

ناامیدي

غرمه

ګبنی

نوم

احسان

لاهم څارمه ستا لارې

غزل

ژوند
دیوال
منی
غمونه
د تخییل کوڅو کې
تللی انځور
نالیدلې
وخت
خدای پاماني
ویده موسکا
د رڼا په لټه
د بنګو کودی
سیوري
د باد پر اوږو
خاطره
پاچا
مینه هم ژاړي
د اوښکو شبنم
د هیندارې تاوان
مقتل
مینځلې رڼا
د بڼو ګوتو کې
له تا وروسته
د شعر سیوري
غوایان او انسانان
د پیکي تار
ځمکه فسادنیولې
شبنم او ګلاب
ورکه ښکلا
جل وهلې ځانګې
لجرومه
خپلواک ته

د سیلۍ شیبو کې
د لمر ژۍ
شهید ته
د مینې ګلان
((ب))
ګلونه او جانان
د طاووس ښکه
بابا ته
د ښو سیوري
پته
تعبیر
ومان ته
د پیغلتوب خوب
د پاریال خوبونه
...د تاریخ په ائینه کې
غزل
پلور
د بلبل له اوښکو
د بیلتون ویرنې
ویر
د شبنم چینه
د لمر درشل
د ګلونو ماتم
د اوښکو تصویر
پاڼ
وچکالي
د لمبو شمال
د ابلیس پر سر
مینې ته شین فصل
نیمکښ پلو
کابل ډېر ښکلی و؟
سو ځیدلي ارمانونه

د اوښکو ائینه
د کوترو په وزرونو
د خندا فصل
د غاټول لپه
ورک غمی
د شپې اوښکې
غزل
طلايي پلوشې
نیمګړې هیله
د وړانګو ویر
د هیلو جنازې
د وړمو لارې
د لمبو پر بستر
د سپوږمۍ په بڼ کې
د اوښکو شیبې
د افق غاړو کې
د ښکلا پلوشې
د لمر جنازه
قبرکیندونکې
د شونډو پسرلی
؟
شهیدې اوښکې
د ستورو پل
د لمبو تناب
خوب(۳)
د ستورو کفن
ویر په نغمو کې
رنځور ژوند
د مرګ یون
بې کوره ستړګې
کابل ژاړي
د ویر کیږدۍ

د ګلونو لو
د څپو په وزرو
ناورين
غوښتنه
د اوښکو شبنم
ماښامونه، سهارونه
اوبه که وينې
ورکه مينه
مات منګي
د مينې قتل
د سندرو ژړا

سحرصاحب يو دروند او صميمي سړی دی، ياري دوستي يې د بارتري تجارت په څېرنه ده، په خبره يې باور او په خلق يې اعتماد کېدای شي، نو که شاعر او ليکوال هم نه وای محترم به و. له ښه مرغه دی شاعر او ښه کېسه ليکونکی هم دی. که يې څوک اثارو ته

ښه ووايې که بد، نه يې په ښه ويلومغروريږي، نه يې په ردولو خواشنه کيږي، البته هم د دوستانو مشوره مني اوهم ځان رسول غواړي. چې دا يې د تکميل پړاوته د رسيدلو ښه لاره ده.

**استاد محمد صديق پسرلی**

دا چې په هرې ورځې پسې ماښام راتلونکی دی او په هرې شپې پسې سهار، نو دا دی د پښتو شعر په يوې اوږدې شپې پسې د يوه نوی سحرځرک په لګېدو دی، دغه نوی سحرعلم ګل سحر دی چې پرځپل وار يې د دغې اوږدې شپې په رونړونه کې برخه اخيستې او په خپلو لمرينو پلوشو د پښتو شعرتور تياره او ساړه سمنج ګوګل ته رڼايي او تودوخی وربښي.

**پوهاند ډوکتور مجاور احمد زيار**

سحر صاحب په دې کتاب کې خپل زړه راسپړلی دی. کله يې آزاد شعر ويلی، کله قافيه وال شعر او کله هم غزل. ځای ځای يې د ژوند نورې خبرې هم کړې دي. خو داسې ښکاري چې نورو ټولو خبرو ته يې زړه تنګيږي. بس يوازې مينه ده چې ډېر پرې غږيدلی دی .

که د سحر شعرونه وګورو نو تقريباً د شعر په دې ټولو چوکاټونو کې يو شان روان دی. ماته خو يې غزل، آزاد شعرونه او نور قافيه وال شعرونه ټول په يوه سويه ښکاري. کوم اضطراب چې شاعر يې شعر ليکلو ته هڅولی څه لږ غونډې سکون هم لري. که و يې هم نه لري، د شاعر څه نا څه تسلا پرې کيږي.

**پيرمحمد کاروان**

د پارينال خوبونو په شعرونو کې د مينې ځينې شعرونه په داسې طرز راغلي دي چې لوستونکی وربانديې ګمان کولای شي چې په رښتيا به هم همداسې شوي وي، د مينې دغه ډول شاعرۍ ته چې د مينې واقعيت په داسې ډول په کې انځور شي، چـــې لوستونکی داسې ګمان وکړي، چې دا خو له واقعيت سره سمون خوري، هغه ته د وقوع سبک وايي او د عشقي شاعرۍ يو ډېر ښايسته باب دی، د علم ګل سحر په را وروسته شعرونو کې په هغو شعرونو کې چې د پارينال له خوبونو يې را رووســـته ليکلي دي او لا تر اوسه چاپ شوي نه دي، دغه د وقوع طرز لا انکشاف کړی دی او زما په خيال چې دا پښتو ادب ته يوه لويه ډالۍ ده.

استاد اسدالله غضنفر

ښه ليکوالي او ښه شاعري د سحرصاحب د شخصيت پوخ او قوي اړخ جوړوي او ليکنې يې د ده ادبي اړخ څرګندوی، خو د ده د شخصيت بل اړخ، چې نه ليدل کېږي خو محسوسېږي او هرحساس انسان يې احساسولی شي، هغه د ده انسانيت، وطندوستي، تعهد، صداقت، ريښتنوالی، پښتونولی او فرهنګپالنه ده. الله ج دی داسې وګړي زموږ په ټولنه کې ډير کړي

ساهره شريف

سحرهم له خپلو تجربو څخه کار اخيستی دی او د شعر ټوله تومنه يې له هغو دردونو څخه جوړه شوېده چې د ژوند په اوږدو کې ورسره مخامخ شوی دی. زما په اند د سحر د شعر ټوله ښکلا د همدغو تجربو په بنسټ ولاړه ده .. سحر له ځانه سره دشعر په ژبه يو لړ داسې پوښـــتنې مطرح کوي چې سړی دې ته اړباسي چې فلسفې ته ولاړ شي. که څه هم دی يې ځواب هم پخپله وايې خو زما لپاره يو شمېر نورې پوښتنې ترې راولاړيږي او دا ځانګړتيا موږ په عين ښه په فلسفه کې وينو.

همیم جلالزی

سحر صیب په لوړ خیال او ژور فکر سره شاعري کړې ده هر شعر يې د دې تر څنګ چې خیال او خوند لري په يوه بڼه يې د ربنتيني ژوند انځور هم وړاندې کړی نو ځکه هر چا ته په زړه خوږ لګيږي...ما پرته له رحمان بابا نه د بل هیڅ شاعر بشپړ دیوان نه دی لوستی خو له نیکه مرغه د سحر شعر هغه جذبه لري چې زه يې لوستو ته اړ ایستلې یم او زما په څیر سلګونه نور هم، ځکه د سحر د شاعرۍ هر بیت ځانګړې ځانګړې واکمني کوي او د نوي غزل استقلال يې ساتلی دی

محموده تقوا

علم ګل سحر هغه روڼ سحر ته ورته دی چې د ژوند د امیدونو ډیوې يې د لمرد وړانګو په لاسونو کې نیولې وي او د مینې لار پرې روښوي. سحر فطرتاً شاعردی او شاعري يې په خټه کې اغږل شوې ده. د سحر شاعري او شخصیت لازم او ملظوم دي. څرنګه يې چې شعر له تصنع پاک، له بې ځایه مبالغو نه مبرا او د بې مفهومه سمبولونو په دام کې نه دی نښتی، داسې يې شخصیت هم سپیڅلی دی، په ناسته ولاړه کې يې تصنع نه لیدل کیږي. بس د خپل شعر مجسم تصویر دی.

بازمحمد عابد

د سحرصاحب شعرونه، ډیرداسې نوی تخیلي تصویرونه لري چې ماهر نقاش يې د رنګ په وسیله انځورولای شي، داسې تصویرونه چې په طبیعت کې وجود ونه لري، د تخیل په مرسته انځورشوي دي.

پوهندوی اسد اسمايي

د سحرصیب په اوسنیو شعرونو کې نه یوازې له ښکلا سره، له زلفو او له رخسارسره په مینه کې سنجیده ګي او تعقل ښکاري، بلکې د وطن په مینه کې هم د پخوالي،فکر اوتجربې روښانه څرک لګیږي او زما په اند همدا سنجیده مینه کولی شي وطن له اوسنیو اورونو او دردونو څخه وژغوري.

ډاکټر خوشال روهي

ښایي دا به هغه کمال وي چې خدای پاک شاعر ته ورکړی تر څو د لفظونو په پیيلو سره د خلکو په زړونو کې مینه وکري او يو لوی انساني رسالت تر سره کړي، چې بيا د دې ډول انسانانو موجوديت د ټولنې په ضرورت بدليږي، چې ښاغلی استاد علم ګل سحر دا کار په استادانه ډول تر سره کړی دی.

نعیمه غني

سحرد دې زمانې سړی نه دی، نرمه او اواره طبعه او د غرونو درونډ خوی اوعادت لري، شعرونه يې د زړه د دربچو ګلالي بلبلان بولم، تاسې يې په خپله طبعه غاړو ته غوږ کیږدئ.

ومان نیازی

سحر د پښتو ادبیاتو له اړتیا سره سمه شاعري وکړه، مقالې او کیسې يې ولیکلې، ماشومانو او کوچنیانو ته يې نکلونه ورواچول، د طنز په پسته خوږه ژبه يې، د دوی په غمجنو شونډو موسکا راوسته او په ډیرو بدو حالاتوکې يې د ادب ډيوه ولګوله.

څیړندوی محمد نبي صلاحي

هغه پریمانه مینه چې د سحرصاحب د شخصیت او وینا یوه همېشنۍ برخه ده، د هغې خاوري اثر دی، چې تن یې ځینې جوړ دی... سحرصاحب له خپلې ټولنې اخېستنه کوي په خپل ذهن کې یې په خپل انداز شني او په خپله ژبه یې خپلو خلکو ته وایي. سحر صاحب لفاظي نه کوي، مفهوم رسوي او په بریالیتوب سره نورو ته د خپلې خبرې د رسولو راز یې همدغه دی.

نور محمد سعید

د علامه حبیبي، علامه رشاد بابا او ګڼو نورو مشرانو او زلمکیو افغان لیکوالو په څېرعلم ګل سحرهم پر یو وخت ادب او ژورنالیزم دواړه پاللي دي، ځکه د لیکنو، څېړنو، شعرونو، نظمونو، طنزونو، داستانونو او ناول ترڅنګ یې( ۲۲) کاله له چاپي او غږیزو رسنیو سره د مرستیال، مسوول، لیکوال، پروډیسراو ایډیټر په توګه کار کړی دی.

امیرجان وحید احمدزی

ښاغلی علم ګل سحر په ډېرو هنري لیکنو کې برلاسی دی، لکه شعر، لنډه کیسه، ناول، طنز او داسي نور. د ده طنزونه که څـــه هم پرونۍ خبري دي خو نن یې هم خلک خوښوي او زه باور لرم چې سبا به یې هم خوښ کړي

عبدالنافع همت

سحر چې څنګه تاسو په شعرونو کې ګورئ، همدغسې په شخصي ژوند کې هم یو ښې ازاره مهربانه او نیک زړی انسان دی. یا په بله وینا زما یوله هغو یارانو څخه دی، چې ظاهراو باطن یې یو او پاک پښتون دی. څه لیکي او یا څه وایي له زړه یې وایي ریا او تظاهرنه کوي

نورمحمد لاهو

سحر د پښتو شعر له هغو ځلېدونکو څېرو څخه دی چې ډېر شعرونه یې د مینې او صمیمیت د بیان تر څنګ، ښه سندریز او هنري انځورونه دي... سحر صاحب د غزل او ازاد شعر دواړو شاعر دی او په دواړو فورمونو کې یې د خیال نیلي غځولي دي، خو د غزل تر څنګ د ازاد شعر استازی شاعر دی.

په ازاد شعر کې یې ځکه د استازۍ خبره کوو چې ډېره ځله یې دا شعرونه په ښکلو هنري انځورونو او ترکیبونو ښکلي کړي دي او په لوستلو یې سړی بې دربغه دا وایي چې له یوه اوچت او جدي شاعر سره مخامخ دی.

صدیق الله بدر

سحر د مینې لار ښود شاعر دی. ده په مستقیم او غیر مستقیم ډول په خپلو شعرونو کې د مینې لارښوونه کړې

نذیر احمد نذیر

د استاد سحرشاعري دانسان په وجود کی دانساني مینې احساس راپاروي.لکه څنګه چې خپله په انسان مین دی نور هم دې کار ته هڅوي.او دانساني ژوند کړن لاره ورته ښي.

دوی حیران دی چې په تا ولې مین یم؟

داخوځکه چې انسان راباندې ګران دی

استاد نه یوازې دا چې په خپله شاعري کی انساني مینې ته ارزښت ورکوی بلکه دطبیعت له مختلفومنظیروڅخه دشعر په پسته ژبه ښکلې اوزړه راښکوونکې نقاشي کوی. استاد په فطرت مین شاعر دی.استاد په شعر کی ډیره پسته،مینه ناکه اوروانه ژبه کاروي.استاد له زرمته تر کابله ټولې شیبې ښایسته سندریزې کړی دی.او ګام په ګام یې دژوند هر حالت راسره

دشعر په دنیا کی شریک کړی دی.داستاد شعرونه دومره ښایسته او سپیڅلی دی چې انسان ته په ډولیـ کې ناسته سینګار شوی ناوې ور په زړه کوی او خوند یې یو په دوه ډیریږی.
شفیقه خپلواک

... بله خبره چې د سحر په شاعرۍ کې ډېر د پاموړ ده، هغه له تورو او کلیماتو سره یو ډول جادوګرانه برخورد او ماهرانه لوبه ده، دی د هغو شاعرانو له ډلې نه دی چې کلیمات فقط څنګ په څنګ ږدي.
عبدالهادي هادي

سحر صیب د انساني هیلو او انساني غوښتنو شاعري کړې ده. او د شاعرۍ ژبه یې د خپل سوچ او فکر مطابق راوړې ده. تاسې چې د سحر صیب شاعري لولئ نو هلته به له داسې علامتونو او شعري ترکیبونو سره مخ شئ چې که له یو لورې ځانګړې دي نو بل پلو دهومیونېزم د نظریې استازولي هم کوي.
طاهر ځلاند
سحر هغه ستوری دی چې په ذهن، فکر زړه او لاس هرې خواته رڼا خوروي او له هرچا سره بې له کوم بدله په اخلاص مرسته کوي، استاد سحر زما او نورو په ژوند کې ستر بدلون راوستی دی موږ له شعر او لیکوالي سره مینه لرله خو نه پوهیدو چې څنګه یې ولیکو خو سحر صیب په ډېر اخلاص زموږ لاس ونیو او لاره یې را وښوده، سحر نه یوازې په شعر کې انسان ستایی بلکې په عمل کې یې صادقانه خدمت کوي او انسان دده په شعر کې اوسي.
خدیجه امین

د سحرصیب په شعر کې د الهام او تصویرترڅنګ مطلب نغښتی دی او ساده ګي درته پکې له لیرې ځان ښايي چې دا دغوره او ښې شاعري خصوصیات دي.
د سحرصیب په شعر کې د ده د مینې د بې پایه انځورونو او خیالونو په تنابونو کې یو ارمان تصویر شوی دی داسې ارمان چې د انسان او انسانیت په رنګ او خوند ښکلی شوی دی او باالاخره جدا پیغام او پیام لري.
ډاکټر محمدالله رازق

د نورو په شعرونو شخوند نه وهي، چې د نورو ترکیبونه او کلیمات را و اخلي، هر څه چې دي خپل یې دي یعنې په شعر کې خپله علم ګل سحر دی، داسې نه ده چې د سحر شعر څوک ولولي او ووايي چې دا یې د پلاني شاعر تر تاثیر لاندې لیکلی دی. علم ګل سحر کله کله په خپلو شعرونو کې داسې اصطلاحات راولي چې فکر کوم د هر چا لپاره نوي او ښکلي دي چې سړی فکر کولو ته اړباسي.

اجمل تورمان

د سحرصاحب د شعرموضوع له اړخه ډیرغني دی د دیرش کلني غمیزې نه نیولې د یتیم تر اوښکو وکونډو ساندو نه ټولي تولنیزی نا خوالې په کې بیان شوې دي اوهرلوستونکی په کې د خپل زړه دردونه موندلی شي نو ویلی شم چې سحر ډیر زړور انسان دی ځکه نیوکه د هر بې زړه کار نه دی.
شمس الدین شمس
مونږ ډیر شاعران او ډیر شعرونه لرو خو مونږ ښه شاعران او ښه شعرونه کم لرو. د همداسې کمو ښو شعرونو له جملې څخه د علم ګل سحر صیب یو ښکلی ازاد شعرګوتو ته راغی . بار بار مې ولوست چې څومره مې لوسته هومره یې خوند راکاوه او هومره مې نوي شیان پکې پیدا کول.
سیدجیلاني جلان
سحرصاحب تر تولو وړاندې شاعر دی، کلونه کلونه شاعري کوي هم د دیدن غوندي ده، هیڅوک نه پری مړیږي، هر لوی شاعر د یوه بې شانه ښکلي شعر په تمه شاعري کوي
جاوید اوربل
علم ګل سحر په داسې وخت شاعري کړې ده چې هغه وخت دانسان وینې او مینې ارزښت نه درلود، خوسحر بیا هم خپله مینه د انسان او انسانیت لپاره په ډیرسخت وخت کې تر سره کړې ده.
محمد صابر بې ریا

د هیواد تکړه لیکوال ، شاعر او ژورنالست استاد علم ګل سحر د ادب په ډګر کې هر اړخیزې هلې ځلې کړې دي او د شعر په ژبه یې تل نورو ته ډاډ ینه ورکړې، د ژوند ښکلا یې وریپژندلې او د هغوی حوصله یې تل اوچته ساتلې ده. سحرصاحب نه یوازې له هیواد سره مینه کړې بلکې د الله تعالې هر یو مخلوق ته یې په درنه سترګه کتلې دي. د هر یو څیز حقیقي حالت یې د شعر په ژبه بیان کړی دی.
سوله نیازۍ
استاد علم ګل سحر د ادب د نړۍ هغه ځلانده لمر دی چې تل د نورو د زړونو د ادب خونې رڼا کوی، او د هغو خلکو چې تر اوسه د ادب نړی ته یې نوی سترګې غړولې استاد علم ګل سحر یې په ډېره مینه او اخلاص لاس نیولی او په دې لاره یې د تګ چل وربښودلی.. که د استاد په څیر یوڅو کسان پیدا شی (سحر) وړانګې به تل په ځلېدا شي
ګلمینه یوسفزۍ
استاد سحر یو لیکوال دی چې ډیرې لنډې کیسې، علمي څېړنیزې مقالې، طنزونه، ژباړې،سیاسي مقالې.... یې لیکلي دي، استاد سحر شاعر دی خو داسې شاعر چې شعر یې تل له کلیوالو انځورنو، سیمه ایزو خوندونو، دردونو او ښکلاوو څخه ډک دی، په شعر کې یې د دې ښکلاوو ترڅنګ ډیری تاریخي پیښې هم خوندې شوي دي او د خپل قوم لپاره پکې ځینې وړاندوینې هم شوي دي.
محمد الله ارین احمدزی

## ښه شاعري بايد خوندي پاتې شي

د ۱۳۸۹ کال د غبرګولي په پنځمه نيټه د قلم نړيوالې ټولنې له خوا د ليکوال او شاعر علم ګل سحر د ادبي خدمتونو د نمانځنې او اثارو د مخکتنې غونډه جوړه شوه په غونډه کې وړتييل شوه چې د هغه د اثارو په اړه ليکل شوې او لوستل شوې مقالې بايد په يوه کتاب کې چاپ شي. کله چې د مېرمن بهير له خوا د سحر صيب په ژوند اواثارو د ليکل شويو مقالو د راټولولو مسوليت راکړل شو، ما ته دا موقع پيدا شوه چې د سحرصيب په ليکل شويو اثارو د اثارو له ځانګړنو خبره شم.

په مقالو کې مې د سحرصيب په شاعري ډېرې مقالې ولوستې، د شعرونو له ځانګړتياوو او د شعري ټولګو له نومونو سره يې اشنا شوم. کله چې مې د ( عطرو نقاشي شوی اواز) په کتاب باندې کار کاوه، د سحرصاحب شعري ټولګې مې پکار شوې. ځکه د مقالو په شعرونو کې چاپي غلطۍ وې او اصلاح ته يې ضرورت و. د سحر صيب څلورموجودې شعري ټولګې ( د لمر جنازه، د پاړسال خوبونه، پاس سپوږمۍ ده لاندې ته يې او لاهم ځارمه ستا لارې) مې له ده څخه وغوښتې، سحرصيب ټولګې راکړې. د سحرد شعرونو ددغو کتابونو په ليدو مې د هغو د چاپ خراب کيفيت ته پام شو، څلور واړه ټولګې يې په خوار خراب کيفيت سره چاپ شوې وې. اوچې لوستې مې د کتابونو د کاغذونه کيفيت ښه نه و. په ځانګړي ډول د( پاس سپوږمۍ ده لاندې

ته يې) شعري ټولګه يې په دومره خراب کيفيت چاپ شوې وه لکه د
خزان سيلۍ وهلې ونې پاڼې په مازې ښوررولو بې ځايه کېدې. د
همدغه کتاب په ډېرو شعرونو يې ډيرې مقالې ليکل شوې وې. ښايي
زما په اند د دغې شعري ټولګې شعرونه يې د ډېرو ليکوالو پام ځانته
واړولی و. همدارنګه په ټولګو يې دهېواد سترو ادبي او اکاډميکو
څېرو سريزې ليکلې وې، د سحر صيب د شاعرۍ په ښيګڼو باندې
يې تبصرې کړې وې او د سحرصيب شاعري يې ستايلي وه.له ځان
سره فکر وکړ چې ايا د سحرصيب ښه شاعري به په داسې خرابو
کاغذونو کې خوندي پاتې شي؟ ځکه شاعر شعرونه د زړه په وينو
ليکلي وي اوهمدغه سرمايه يې تل پاتې وي او تل به پرې يادېږي. دا
چې اوسنۍ نړۍ د کمپوټراو انټرنيټ نړۍ ده چې هرڅه پکې لوستل
کېږي او خوندي پاتې کېږي. لا اوس هم په نړۍ کې د کتاب د
مطالعې دود له منځه نه دی تللی او زموږ دهېواد غوندې په وروسته
پاتي هېوادونو کې چې نه د کمپيوټر او نه د انټرنيټ پکې پرېماني
وي. د کتابونو چاپ ته ډېر ضرورت وي. نوهوډ مې وکړ چې د
سحرصيب څلور سره شعري ټولګې چې چاپ يې خراب او حجم
يې هم دېر کم و د يوې مجموعې په توګه چاپ شي. لکه د شعرونو
د محتوا غوندې ښه يې هم ښکلې وي او خوندې هم پاتې شي.
همدغه هوډ مې له سحرصيب سره شريک کړ، هغه ټوله خبره زما
خوښې ته پرېښوده. همدومره يې وويل چې نوې شاعري يې هم کړې
ده هغه هم په کې ځای کړه. پس له هغه مې د ټولګو د دوباره کمپوز

او اوډلو کار پیل کړ په کتاب کې مو د سحرصیب له لومړنۍ شعري ټولګې (د سپوږمۍ ښکالو) څخه چې په تنظیمي جګړو کې د دولتي مطبعې د سوځیدلو له امله چاپ شوه خو لوستونکو ته ونه رسیدله، ځینې په لاس راغلي شعرونه هم شامل کړل او د ټولګو ټېرو سریزو په ځای مې د ځینو لیکوالو او شاعرانو نظرونه پکې ځای کړل. دا دی سحرصیب زړه او نوې شاعري په یوه مجموعه کې د سحرصیب د مینه والو مخ ته ږدم. هیله ده د افغانستان شاعري په هنري زېرمه کې د دغې هنري پنځونې زیاتونه ګټوره او تل پاتې شي.

پاکیزه ارزو

## غزل

رڼا چې ورکه شي، لمر ولوېږي لمر وپيژنو
بيرته غرمه شي، لمونځ قضاوي سحر وپيژنو

څه وخت چې پاتې وي له مورِ نه په افسوس کې تيرشي
لاس پسې اچوو ماښام، مازديګر وپيژنو

علم ګل سحر

په ګرېنګونو مو سفر وي، وخت په ټوکو تیر کړو
موږه وخت نه لرو چې لار و ګودر وپیژنو

زموږ په کاڼو سره جنګ وي، پرې سرونه مات کړو
چې نور يې لرې رانه يوسي ګوهر وپيژنو

په پټو سترګو يې له شا په قافله کې روان
چې کور مولوټ کړي بيا نو هله رهبر وپيژنو

په صداقت ورسره مله يو، نور پرې فکر نه کړو
چې ورور مو ووژني هغه وخت لښکر وپيژنو

موږه له لرې پرې ګومان د رڼا ځرېکې کوو
چې مو ځيګر ته برابر شي خنجر وپيژنو

ليوني نه يو خو بې علمه رالوی شوي يو موږ
خپله هستي په اور کې سو ځو چې زر وپيژنو

موږ پښتانه به تر قيامته نو هم نه يو ويده
دچاله لاسه دی اخير به پرهر وپيژنو

**دمينې پته**

**اوس مې هنر د هيرولو زده دی**
**اوس د احساس په خوبنه نه ځم چيرته**
**اوس که په مخه باندې راغلي چيرته**
**درته به ښه وګورم**
**سترګې به ستا سترګو کې ډوبې کړمه**
**له ښکلو سترګو به دې وپوښتم ،**
**د مينې پته**
**که مې ونه موندله**
**زړه ته به ووايم داهغه نه ده،**
**هېره يې کړه**
**ژر به دې هېره کړمه**
**او نور به شپې ستا په ياد نه روڼوم**
**اوس مې هنر دهيرولو زده دی**
**اوس د احساس په خوښه نه ځم چېرته!!!**

**۱۳۸۷ / ۱۰/ ۳۰**

علم ګل سحر

## بغاوت

هرڅوک چې وينم، اوس پرې زه دا ستا ګومان کومه
زه له هرچانه ستا پوښتنه په ايمان کومه
په زړه مې ګډه ګېنې ده، ورته څه به وايم
بې تا روان يم، ملاقات مې دخپل ځان کومه
چې مابه مينه کړه، خودې به رانه کرکه کړله
زه به نکير منکير ته اول دغه بيان کومه
دوی وايي عشق د انسان پرېږده، حورې کمې نه دي
زه وايم يه، په دې سودا کې خو تاوان کومه
هر مازديګر تش لاس کاله ته بې نوا ستنيږم
دکاڼو ښار کې آيينې پلورم، دوکان کومه
دا ځل که مخه باندې راغله ورته هيڅ نه ګورم
داځل مې نيت دی، بغاوت به له سلطان کومه
زما خپل خلک اوس زما په ژبه نه پوهيږي
ښايي چې زه ورته کيسې دبل زمان کومه
زه يم کمزوری زه مجبور يمه، ترې ليرې ځمه
هرڅه چې پيښ شول خوزه ويره له انسان کومه
که په جنت کې وم، ياران به مې ډېر زيات ياديږي
زه به هغلته هم دخپل وطن ارمان کومه

۱۹ /۲/ ۱۳۹۱ کابل- پښتونستان واټ

## غزل

لږ مې ځان په یاد وي او جانان وي ډېر
خلک په همدې راته حیران وي ډېر

کله زړه ته واچوم قلفونه ډېر
کله وایم پریږده کې خوبان وي ډېر

کله یار خپه کړمه هیڅ ور نه شم
بیرته هغه سات زما ارمان وي ډېر

ستړې دژوندون نورې هم ډېرې دي
زړه مې له ولس سره ستومان وي ډېر

بل ځای به پښتون یو ځای ونه وینې
دوی دخپل قاتل ترشا روان وي ډیر

موږه په هرګام کې کار له زور اخلو
ځکه دوستان لږ وي دښمنان وي ډیر

کله چې ټولنه کې سمون نه وي
خلک یې وي چوپ او رهبران وي ډیر

کله مې زړه وایي وطن پرېږده ځه
کله ترځان هم رابانديې ګران وي ډیر

موږ چې سره کینو نور خبرې کړي
لږپکې رښتیا وی نور ګومان وي ډیر

مینه کې هرڅوک رښتیا درواغ وایي
زه وایم سحر به پکې وران وي ډیر

**۱۴ /۴ /۱۳۸۹**

**کابل– خیرخانه مینه**

**یوه هیله**

**پرون مې ټولې خپلې هیلې سره بیلې کړلې**
**ځینې مې مخ ته کینښوې**
**ځینې مې هیرې کړلې**
**ښایي په ژوند مې سرته ونه رسي**
**خو یوه ډیره ګرد وهلې هیله**
**آ هیره شوې آ سپیڅلې هیله**
**هغه مې سپین ټوکر کې ونغښتله**
**اوبیا مې سرته کینښوه**
**نور اندیښنه نه لرم**
**دا لویه هیله مې هم ګورته وړمه**
**هغه دا ستا دخپلولو هیله!!!**

علم ګل سحر

**۹ /۲ /۱۳۹۰**

**پیبنور– پښتونخوا**

**ګل او اغزی**

**یوځوکلونه مې د ژوند له کلو بیرته باسم**
**ژوند کې یې نه شمیرمه**

**علم ګل سحر**

زه مې دژوند کليز له سره کا رم

دا څو کلونه مې پخپل عمر کې نه شميرمه

پوهيږې کوم کلونه؟

هغه کلونه چې له تا سره مې مينه وکړه

هغه کلونه چې مې عقل را نه تا وړی و

هغه کلونه چې مې ذهن کې يوازې ته وې

هغه کلونه ستا د عمر په کلو زياتوم

دا څو کلونه مې د ژوند له کلو بيرته باسم

ژوند کې يې نه شميرمه

په دې اميد چې را نه هيره شي ته

په دې اميد چې بيا دې ياده نه کړم

رښتيا،

که دا کلونه مې دژوند له کلو بيل کړم

را نه هيره به شې؟

نه نه تا هيره ولای نه شم

ته مې په ختِه کې يې

را ځه له بلې دې خبره کړمه

زما کوټه کې دکړکۍ خواکې دلمر رڼا ته

هغه خاورين ګلدان کې ګل،

درته يادېږي که نه
چې ته به نه وې ،
زه بي خوا ته ناست وم
چې ته به رانغلې نو مړاوى به شو
اوس چې ته نه راځې هميش تازه وي
پوهېږې تيره ورځ مې څه وکول
دهغه ګل تر څنګ مې وکاره د ځوځو بوټى
ستا به باور و نه شي

سهار چې پا څيدم له خوبه څخه
ګل او اغزى په يوه بوټي کې وو
زه ورته ګورم ته مې يادېږې
ته مې نه هيرېږې
نو:
که هغه څوکاله مې وباسم
دژوند له کلو
بيا به مې هم ته چيرته هيره نه شې
زماپه ذهن کې دمينې او کينې جګړه ده
زما په ذهن کې اغزي او ګلا ن

دواړه اوسي.

۱۳۸۵\۱\۲۴

ازادي راديو

موړ

چې په ټول ژوند کې مجبور دي هغه موړ يو
چې هيڅ نه لري مغرور دي هغه موړ يو
چې پردي يې له نامه څخه ويريږي
چې په خپل کاروان کې چور دي هغه موړ يو

علم ګل سحر

چې دعوې کړي د جهان د ماتولو
چې باتور نه دي باتور دي هغه موږ يو
پرمختګ نه مرور شاته روان دي
چې په نس باندې مزدور دي هغه موږ يو
يو بل وژني ملامت نور خلک بولي
خو پخپله بې قصور دي هغه موږ يو
په پرديو يې تر خپلو زيات باور وي
سخت دښمن د خپل تربور دي هغه موږ يو

**تعجب**

زموږه زړونه له کينو نه ډک دي
موږه دشک په سترګه ګورو سره

موږ مینه نه پیژنو
موږ له ښکلا څخه منکر خلک یو
زموږه نیت خراب دی
زموږ خندا نه ده زده
موږ دیوبل د ژړولو په چل ښه پوهیږو
ښایي دبلې زمانې خلک یو
موږ دیتیم پر سر لاس نه شو نیوی
خوزه حیران یم په دې
چې دلته اوس هم لا ګلان ټوکیږي!!!
د خوشحال بابا پر مزار
باباسلام ستا احترام ته راغلم
کلونه وروسته دې سلام ته راغلم

بابا موږ ښه امانتکار خلک یو
ستا یو وصیت مو ښه پرځای کړ بابا
له مرګه وروسته مو په لوړه غونډۍ خښ کړې بابا
چې دمغل دآس دپښو ګرز درنه لیرې اوسي(۱)
بس موږ کرار کیناستو

علم ګل سحر

لکه دا ستا دمزار شاوخوا،

د ډبروکانې

بس ځای پر ځای پاتې شوو

اوس دمغل دآس دپښنو ګرز تا ته نه در رسي

مورې هم خوشحال یو پردې

بابا کلونه تیر شول

کلونه څه څلور پیړۍ تیرې شوې

مورې ستا مزار ته کله راځو

او پټ پټ څارو د مغل آسونه

چې دپښنو ګرز یې مزار ته دا ستا ونه رسي

مورې به لیدل چې مغل نه راځي نور

چې د آسانو دپښنو ګرز یې ستا روح آزار کړي

بس مورې خوشحاله په ارام کیناستو

+++

مورې بدل نه یو لا هغه خلک یو

لا مو د دوست دښمن فرق کړی نه دی

مورې لا هماغسې ساده خلک یو

چې تا څلور پیړۍ د مخه ویل

موږ لا هغه خلک یو
او هغه دری خویونه اوس هم لرو(۲)
چې په نفاق مو اتفاق کړی دی(۳)
خپلو منځو کې لا هماغسې بد نیته یو موږ
جهل لا اوس هم دی ملګری زموږ
موږته لا اوس هم جهالته ښخه
واړه کارونه ډیر آسانه ښکاري(۴)
اوس هم چړي له یوې خوا پیدا شي
بس په لږ علم پر موږ لوی ملا شي(۵)
بیا مو لیږي دیوه بل جګړې ته
په خپل کاله کې راته ورور بلا شي

+++

بابا مغل اوس پر آس سپور نه راځي
پر موږ پراته یې د آسانو دپښنو ګرزونه
په هغه ګرز کې موږ له یوبل ورک یو
پښې لرو خو باندې تللی نه شو

علم ګل سحر

لاسونه هم خدای ښه قوي راکړي
خو یوه بل تې ورکولی نه شو

+++

اوس بل مغل له ډیره لیرې ځایه
یوه تنی ټینګه کړي
یوه تکمه یې زموږ کلي وران کړي
دیوې ګوتې حرکت یې موږ په وینو ډوب کړي
خو موږ لا هغسې یو
موږ هریوه دي ښخ پټکي تړلي
خو د دستار سړی لانه دی پیدا(٦)
ځکه چې چا سر پورته کړی دلته
اول یې موږ دی سر وهلی دلته(٧)
موږ لا اوس هم تورې تړلې بابا
خو د افغان په نامه نه دي بابا(٨)
توري وهو دبل لپاره بابا(٩)
لومړی ګوزار مو پر خپل ورور وي بابا
دخپل قاتل سترګې لیدلی نه شو
موږه اوس هم ستن جوړولی نه شو
دا راته ښکاري دشیطان پوهنه
په تش خبرو آسمانو کې ګرځو(١٠)
بابا موږ هغسې ویده پاتې یو

او دا نور وینو سیارو کې ګرځي
مغل هم اوس پر آس سپاره نه راځي
هغوی خو اوس په طیارو کې ګرځي

د ۲۰۱۲ دفبرورۍ ۲۰ نیټه
پښتونخوا– نوښار

================

۱ – ما په داسې ځای کې خښ کړئ چې دمغلو د آسانو دپښو ګرځونه راته ونه رسي.

(د خوشحال بابا وصیت)

۲ – یوبد جهل بل بد نیت دریم نفاق
پښتانه په توره ښه دي تـــــــــــر مغلو
که په پوهه پښتانه وای څه هـــــــوښیار
۳ – اتفاق په پښتانه کې پیدا نه شه
ګنې ما به د مغل ګرېوان پاره کا
هره چاره د پښتون تر مغـــــــــل ښه ده
اتفاق ورڅخه نه شته ډېــــــــــــــر ارمان
۴ – ملایي په ډېر تحصیل شي
شاعري ده له حکمته
ملکي خو پادشاهي ده
خاني هم له سلطنته
مفت اسان ګني دا واړه

پښتانه له جهالته

هر سړی ورته ملا وي

چې په یاد کا څو آیته

۵ – یو ملا له کومې خوا نه راپیدا شي

په دا ملک کې په لږ علم لوی ملا شي

۶ – چې دستار تړي هزار دي   د دستار سړي په شمار دي

۷ – پښتانه واړه بد خوی

کور په کور کوي غورځی

چې یو سر کړي پکې پورته

بل یې ووهي مغزی

۸ – د افغان په ننگ مې وتړله تـــــــــــــــــــوره

ننگیالی دزمانی خــــــــــــــــــوشحال خټک یم

۹ – پښتانه په عقل پوهه څه ناکس دي

کوټه سپي د قصابانو د جوس دي

بادشاهي یې د مغول په ټنگو باېله

د مغول د منصبونو په هوس دي

اوښ له باره په خپل کور کې وراغلی

په اولجه د اوښ د غاړې د جرس دي

۱۰ – په چارم آسمان به ناست لکه عیسا ووم

که آسمان ته الوتی شوی په خبرو

## نهيلي

د ژمي يخه ورځ ده
پرون بيا ډيره واوره و اوريده
نن آسمان برګ دی، خو يخني ډيره ده
د بخارۍ ځنګ ته ورځپاڼې لولم
ورځپاڼې نه دي شبنامې دي ټولې
ټولې نفرت خوروي
ما هم دا ټولې بخارۍ پسې کړې
له بخارۍ ترخه لوګي راخيږي
د بخارۍ خواته کتاب ايښی دی
له دې کتاب نه هم نفرت اوريږي

**لکه کتاب باندې له عکس څخه**
**عکس ټوپک په لاس کې**
**ښاري دښمن له لیرې**

**کتاب د هغه له اوصافو ډک دی**
**کتاب نفرت دی، له دروغو ډک دی**
**ورځپاڼې هم دلته کینې خوروي**
**عکس په کرکه ګوري**
**کتاب نفرت خوروي**
**ورځپاڼې کرکې څخه مالامال دي**
**هر یو مضمون یې دخوږو پر ځای ترخه خوروي**
**لکه ددغې بخارۍ دودونه**
**سړی به کوم لوري ته مخ واړوي؟؟؟**

**۱۳۹۰/ ۱۱/ ۲۷**
**کابل– ښارندوی مینه**

**غچ**

که ته ناز کړې زما خواته نه راګورې

علم ګل سحر

معنا نه ورکوې زما بې معنا ژوند ته
دخوښۍ یوه شیبه هم رانه اخلې
زه به هم بلې ته وګورم په مینه
غچ به واخلم ستا نازک زړګی به مات کړم!!!

الوتکه

په الوتکه کې هر څوک ډارېږي
وینم د هریوه په زړه باندې لړزه ګډه ده
ځینې له ویرې سترګې پټې کړي، چوکۍ ونیسي
ځینې کړکۍ نه وارخطا وګوري
کله یو بل ته ګوري
د طیارې له هرټکان سره الله ناره کړي
هر یو دا فکر کوي
چې الوتکه تر منزله پورې نه رسیږي
په توره شپه کې یوه اوسپنه
هوا کې څنګه لار لیدای شي؟
زما ترڅنګ انګریز پخپل کار بوخت دی
نه وارخطا دی، نه بل چاته ګوري
لکه دفتر کې چې وي
ژرژر لګیا دی خپل لپ ټاپ کې،
مقاله لیکي،

چې ویې لیږي

کومې ورځپاڼې یا ویبپاڼې ته چې ژر نشر شي
لکه چې وخت یې لږ دی
کله خپل ساعت وګوري
بیرته لګیا شي په لیکلو باندې
مقاله بشپړه شوه،
هغه یې بل فایل کې وساتله
انګریز زموږ په لوري وکتل،
موسکی غوندې شو
چې وارخطایو،
خپله ویره پټولی نه شو
انګریز خوشحال شو، کمپیوټر کې یې صفحه پرانیسته
ده یوه بله سوژه وموندله
ژرژر لګیا دی خپل لپ ټاپ کې،
مقاله لیکي،
چې ویې لیږي
کومې وځپاڼې یا ویبپاڼې ته چې ژر نشر شي
ښایي زموږ په اړه
کومې ورځپاڼې ته لیکنه کوي
چې ترمینل کې له سهاره تر ماښامه پورې
هسې بیکاره ناست و

یا مو په ټوکو او خنداوو هسې وخت تیراوو
یا مو بسته ورځ په غیبت تیره کړه
اوس الوتکه کې ویریږو، خپله ویره پټولی نه شو
ښایي همدا به لیکي
زه یې په ژبه باندې نه پوهیږم!!!

۳ /۱۲ /۱۳۹۰ له اسلام آباده تر کابله په الوتکه کې

## غزل

اغزي ته شاکړي او سره ګل ته ګوري
هوښیار تیارې ته نه، لمرځل ته ګوري

مینه هغه چې سره یو وي زړونه
مینان نه دي چې یوبل ته ګوري

داچې ځیر ګوري نوې میاشت نه ګوري
پر بام ولاړې پیغلې نجل ته ګوري

داقام لګیا دی خپل حالت بدلوي
پښتون خونه دی چې ازل ته ګوري

دوی خو لا تیرو زمانو کې اوسي
اوس هم لا  لارې دمغل ته ګوري

لاهم وخت شته چې ځان له مرګه خلاص کړي
خودوی یې نه غواړي اجل ته ګوري

دلته څوک لارې د مکتب نه څاري
چې څه به کیږي ټول مورچل ته ګوري

سحره نور دمینې شعر مه لیکه
خلک عمل ته نه،غزل ته ګوري

واوره اوري، سږ ژمی ډېر سخت شوی، پرون مې د قرغې د بلاکونو او د قوماندانانو د لوکسو کورونو خواته په سمڅو او کیږدیو کې د هلمند او کندهار د مهاجرینو سخت ژوند ولید، نن چې دندې ته راتلم د ښاروندوی بلاکونو خواته او پروان مینه کې مې د نورو مهاجرو ماشومانو حالت ولید. چې د چارواکو او قوماندانانو وروستی ماډل موټرونه په کبر ترې تیریدل لکه چې ځان ښکاروي او ورته وایي ستاسې خواروزار ژوند وګورئ او زموږ دبدبه. په ټلویزیون کې مې په ځانمرګي برید کې ټپیان او شهیدان ولیدل، دانسانانو وینې او غوښې له واورو سره ګډې شوې وې، په پښتونستان واټ کې مې په شنه یخ کې نور ځوریدلي وطنوال ولیدل،

چې د ژمي یخني لړزول، ژمی دی، د ځمکې غونډې زړونه هم کنګل دي، دا کرښې مې په لاره ولیکلې:

## کنګل ژمی، کنګل زړونه

سړنی ژمی ډیر په ورو تیریږي
لکه چې سړکال یې له موږ زده کړي
لکه چې دی هم د بیوزلو ځورولو څخه خوند اخلي
سړکال بهار نه راځي
سړکال زموږه ونې پاڼې نه کړي
سړکال به دلته توتکۍ رانه شي
سړکال به ګل دلته ونه ټوکیږي
سړ به سپرلی رانه شي
او که راته ډیر زړه نازړه به راشي
دلته له زړونو مینې کډه کړې
زړو کې احساس کنګل دی
دلته ډیر زړونه له کینونه ډک دي!!!

۱۳۹۰/ ۱۲/ ۸
کابل–پښتونستان واټ

ځانځاني

اوس دسر سړی سحره موږ کې نشته
چې لږ پوه وي په خبره موږ کې نشته
ته راغلی یې رڼاڅپله پرې شیندې
تاته تړی ګل ای لمره موږ کې نشته
موږ هریو خپله لښکر وځان ته وایو
چې په تا ګډ شي لښکره موږ کې نشته
چې ژوندي بتان له یومخې نابود کړي
ستا کوم زوی نواوس اذره موږ کې نشته
مین نه یو هسې یو بل مو ښه ایسي
باور وکړئ دا خبره موږ کې نشته

هیله

دبل انسان غوندې ما هم ډیرې ګناوې کړې
رانه لمنځونه قضا شوي حج ته نه یم تللی
خو ما دچا زړه ازار کړی نه دی
زه کرکه نه پیژنم، مینه کوم
بیګا په خوب کې وم جنت ته تللی!!!

ښکلا

له پښتنې ماواره

**بله ښکلا مې سترګې نه خَوړوي**

**بله زما زړه لړزولی نه شي**

**دادی کلونه تیر شول**

**سرکې مې سپین ویښته په تورو زورور ښکاریږي**

**خو پښتنې یو ځل په مینه راته ونه کتل!!!**

## دنیا تشه ښکاري ماته

**دنیا تشه ښکاري ماته**

**نن په ښار کې هیڅوک نشته**

**نن په ښارخوره چوپتیا ده**

**نن دښار خلک غیب شوي**

علم ګل سحر

لکه ګڼه چې وبا ده
ویل کیږي دلته هلته
څو ځانمرګي دي راغلي
آسمانڅکو ته ختلي
له ماڼیو خلک ولي

+++

ځوانان نیسي عسکري ته
وايي امر د کارمل دی
نن په ښار کې خلک نه شته
نه پوهیږمه څه چل دی

+++

څه خبره ده پوه نه یم
جوړه لویه ګډوډي ده
چاته حال نه معلومیږي
هرچا جوړه پاچاهي ده

+++

ټوپکیان سره اوښتي

د هرچا خپل حکومت دی

یوې خواته جمیعت دی

بله خوا حزب وحدت دی

+++

ګلم جم په ښار ګډ شوي

په نظار شورا یرغل دی

په کورونو تالان ګډ دی

غله نارې وهي چې غل دی

+++

څوک په وینو کې پراته دي

څوک په منډو دې له اوره

دهرچا خپل بیرغونه

څوک وتی نه شي له کوره

+++

بیا کوڅه په کوڅه جنګ دی

را اوریږي راکټونه

نن په ښار تپه تیاره ده

بیا په جنګ دي تنظیمونه

+++

علم ګل سحر

بهرنيان دي راوتلي
هرې خواته ګولۍ ولي
ټول ښاريان يې تر شک لاندې
په ملکي خلکو ښاغلي

+++

څو عسکر ليوني شوي
راوتلي له قطعې دي
بس په نوم پښتانه وژني
وايي مله د القاعدې دي

نه زما ذهن ګډوډ دی
ته چې نه يې تيارې راشي
ته چې نه يې زما ياد ته
ها ترخې خاطرې راشي

+++

ته چې نه يې هيڅوک نه وي
تشه ښکاري دنيا ماته
چې ته نه يې ترږمۍ وي
تاريکه وي هرې خواته

+++

بل څوک نه وينم په سترګو
نيم وجود زما ويده وي
دنيا تشه راته ښکاري
دا نور نيم وجود مې نه وي

احساس

زه پخپل زړه ښه خبر يم چې تا غواړي
دا خو څه چې ستا پر زړه هم ښه پوهېږم
چې ما غواړي
هميشه ځان سره وايمه چې کاشکې
دغه ستا زړه واى دبلې
او د ښکلې پښتنې سينه کې نه واى!!!

۱۳۹۰/ ۱۲/ ۲۵
کابل – پښتونستان واټ

### د زمانې ژبه

زه مې دخپلې زمانې په ژبه نه پوهيږم
ما مې دخپلې زمانې ژبه زده کړې نه ده
زه مې له خپلې زمانې څخه پردی غوندې يم
دوی هم زما په ژبه نه پوهيږي
دوی هم زما خبرې نورې ګڼي

۱۶ /۲ /۱۳۹۱
کابل– څارندوی مینه

### رڼا

که تیاره ده په وطن کې ته رڼا پکې پیدا کړه
که هر خوا ویر او ژړا ده ته خندا پکې پیدا کړه

عبث وینې دي تویيږي افتخار يې دی په څه کې
ته يو څاڅکی زموږ دهیلو د رڼا پکې پیدا کړه

ستا تصویر مې په زړه کښلی دښکلا اثر یې وینم
ملا وایي ولې ولې اوس نو ساه پکې پیدا کړه

مودې وشوې زړه مې مړ دی، چې مې ته نه یې لیدلې
یو وار راشه ځوانیمرګې لږ درزا پکې پیدا کړه

شعر دزړه په وینو لیکم ایله پوره شي پنځه بیته
نقاد وایي ډیر بد نه دی لږ ښکلا پکې پیدا کړه

۱۳۹۱/ ۲/ ۲۲

**کابل– تایمني واټ**

## زما زړه کې هم یو خوک شته!

د زړه په شاړه
دهرچا زړه کې یو څوک وي
تل یې ذهن کې ولاړه
څوک حال وایي څوک یې نه

وي راشنه د زړه په شاړه
د چا ياد يې زړه کې شين شي
بس سوکه سوکه کړي وده
زما زړه کې هم يو څوک شته
نه مې ښه ايسي نه بده!!!

۱۳۹۱/ ۲/ ۳۱
نوی ښار– قلعه فتح الله

نيکي

دلته بدۍ دې زياتې شوې دومره
اوس چې نيکي کړم په احتياط يې کوم
اوس خو نيکي هم په احتياط کومه

۲۲/ ۴/ ۱۳۹۱
لمر ټلويزيون

ډيوه

مور پخپله پخپل منځ کې ډيوه مړه کړه
په لوی لاس مو په ځانونو توره شپه کړه
هغوی وخندل له خنګ سره مو تير شول
مور چې توره د خپل ورور په وينو سره کړه
ستا دشونډو د شربت په تنده مړ دی

اوس سایه خو د اوربل دې پرې خوره کړه
ما ګدا بې اعتنا ولید پاچا ته
ما زاهد ولید پیسو ته یې سجده کړه
ستا نعمت په لته ووهي جاهل شي
لویه خدایه یوه حوره ورښکاره کړه
یا ښکلا دپښتنې دغې ته ورکړه
یا ددې احساس خاونده پښتنه کړه
دجنت لارې به لنډې کړم پخپله
یو ملګری سم دلارې راسره کړه
د رواج زړه کلا کې راګیر شوي
موږه ورکه د وتلو دروازه کړه
ته پخپله څراغ ولګوه ځان ته
ای سحره د وختونو ژبه زده کړه

۱۹/ ۴/ ۱۳۹۱
لمر ټلویزیون

زموږ خوښۍ، زموږ غمونه

زموږ غمونه یو په دوه وي،
خوښي نیم په نیمه
په غم مو نور هم خوشحالیږي،

مورِ ته دوه چنده شي

خو چې خوشحاله يو،

بيا نور خپه وي

موره پرې هيڅ پوه نه شو!!!

۱۳۹۱ /۴ /۲٦

کابل– ځارندوی مينه

## ځراغ

ما بيګا په کور کې ځراغ بل نه کړ

ستا ياد ترسهاره مې ملګری و

۷ /۱۱ /۱۳۸۹

کابل– وزيراکبرخان مينه

## تصوير

که بد رنګه مو په سرو وهي ميخونه

علم ګل سحر

خو دا ښکلي مو په زړو وهي میخونه
چې نه وګورو نه ښکلي چېرته یاد کړو
زموږ په سترګو او په خولو وهي میخونه
له نادودو څخه کوم پلو ته ولاړ شو
وخت زموږ په ارادو وهي میخونه
دروازې د زندانونو یې پرانېستي
د مکتب په دروازو وهي میخونه
ستا د ښکلي مخ تصویر چې پکې وینې
دا تور زړي په اوبو وهي میخونه
څه به پته کړې ښکلا زموږ له سترګو
د لمرونو په شغلو وهي میخونه
بس د مینې سخت سفر یې دی په مخکې
خوار سحر بیا په څپلو وهې میخونه

۱۳۷۹\۵\۲۹
کابل – خارندوی مېنه

د ځان غم

دلته خو د ځان له غمه مړه دي ټول
زه په دغو خلکو کې ځای نه لرم

ارګ ۲۵/ ۱/ ۱۳۹۰

## عذر

له ما ګیله مه کوه
چې ښکلې سترګې دې ستایلی نه شم
دژوند ښکلا درته ښودلی نه شم
زه دیو داسې قام شاعر یمه چې
سپرلي ته وایي په دې لار مه راځه
اختر یې نه وي، د روژې میاشتې ته ګوتې شمیري!!!

۵ /۵ /۱۳۹۱ کابل– وزیراکبرخانه مینه

## ژوند ښکلی دی؟

مور چې درسره وي ژوند معنا لري
څوک وایي چې ژوند بې موره ښکلی دی؟

۸/ ۳/ ۱۳۸۸
کابل– خارندوی مینه

## د کرکې اور

دلته به مینه وه، سندرې وې او شور و دلته
همدغه خلک مینه ناک وو، نه چې نور وو دلته

خندا، خوښي مینه یې یو ځای لولپه کړل دلته
دا څوکلونه بل د کرکې، کینې اور و دلته

اوس یې وکیل دی، اوس رهبر دی، اوس یې شاته روان
د چا له لاسه چې ترې ورک د تیښتې لور و دلته

دښار امیر په هغه ځای کې اوس مانۍ جوړه ده
له جګړې مخکې چې د چا دمینې کور و دلته

وطن مې نه و، خو پر ما باندې ډیر ګران و، ځکه
ذهن ارام و، پکې ستا د عشق انځور و دلته

۱۳۹۰/ ۸/ ۲۳
کابل– شیرشاه مینه

**ازمایښت**

**هسې مې دا ستا په خوا در وکتل**
**وګورم چې ژوند کې هم خواږه شته دي؟**

**۱۳۸۹/ ۱۰/ ۴**
**کابل– وزیراکبرخان مینه**

**درد**

**څومره درد ویني یو انسان له بل انسانه څخه**
**دا ولې نه اوري ډېرې له آسمانه څخه**
**دلته د هرچا په څېره د مرګي ورږم پروت دی**
**لکه چې نوي خوښي شوي وي زندانه څخه**

اعتبار

مورِ اعتبار کاوو په لمر دمازدیگر تر اوسه
چې بې څراغه په تیارو کې کړو سفر تر اوسه

نورو په نورو سیارو کې آبادي پیل کړې
خو داسې ښکاري چې پښتون نه دی خبر تر اوسه

په اولاد ونوباندې غواوې پیایي، درس نه لولي
د عزت شی گڼي زیاتره مال و زر تر اوسه

چې یې ددوی په وینو لوړې مانۍ جوړې کړلې
دغه سړی دی دهغو خلکو رهبر تراوسه

نور صندوقونو ته روان و، چې پاچا وټاکي
پښتون ویل دملک پاچا خو دی ظاهر تر اوسه

روان دی خدای خبر دا ځل دچا سرونه راوړي
جنگ ته روان په څه خبر نه دی لښکر تراوسه

زما په لیدو دې زلفې یو طرف ته واړولې
له هغې ورځې ځان ته وایمه سحر تراوسه

## ژوندۍ هیلې

هیلې لا مړې نه دي د مشعل لپاره ژوند کوي
یا ستا د خواره واره اوربل لپاره ژوند کوي

ها چې دانسان د نیکمرغي لپاره تللي دي
دا خلک مړه نه دي دا دتل لپاره ژوند کوي

زه دهغو خلکو دپښنو خاورې لا هم نه یم
خپل ځان چې ترې هیر وي او دبل لپاره ژوند کوي

فرق دی په هرچا کې د لاس ګوتې هم یو شان نه دي
ځینې د افغان څوک د مغل لپاره ژوند کوي

داسې بورا هم شته چې د سرو ګلو رینې زبیښي
داسې بورا هم شته چې د ګل لپاره ژوند کوي

داسې کسان ډیر دي چې په هرڅه کې خپل ځان وینې
داسې کسان لږ دي چې دبل لپاره ژوند کوي

علم ګل سحر

غزل

نظر مې شي ستومانه، بيرته ستا رخسار ته راشي
بې کوره مسافر دی، نا اشنا ديار ته راشي

په سترګو کې ځای نه لري، په زلفو کې دې ورک شي
يو سترې کليوال، تياره ماښام بازار ته راشي

د ژوند لوبه بايلي، خو په ګډا ځي د مرګ خولې ته
تش والوزي هواته، مرغۍ بيرته مار ته راشي

يتيم چې په ژړا شي، ميره بيا څپيړه ورکړي
ماشوم که څوک خپه کړي، په ژړا به پلار ته راشي

هنداري ټولې ماتې کړي، څو کاڼي دلته پريږدي
يو څو ليونيان ووځي، يو څو بيرته ښار ته راشي

په کور کې څراغ نه لري چې کيني يې رڼا ته
چې توره شپه خوره شي، سحر څکه يار ته راشي

## 11/1/1381

**وزیر اکبر خان مینه**

### لوګي مخکې رڼا وروسته

زمونږ وطن ته لوګي مخکې، رڼا وروسته راځي
اول ژړا وي فریاونه، خندا وروسته راځي

وسلې راولیږي او غلي راته ووایي چې:
د ډوډۍ غم مه کوئ، دغه سخا وروسته راځي+

هغه سپوږمۍ ده، خو سپوږمۍ غوندې تنها نه راځي
تر مخ یې ډار د بیرته تلو وي او دا وروسته راځي

په کومو ګلو به ستا مینه ماتومه ګلې
سپرلي راځي، خو وایې ښکلې تر تا وروسته راځي

د تسبو لړ نه یوې ښکلې ته امیل جوړوي
لمونځ قضاء کیږي، نیت تړئ چې ملا وروسته راځي

یتیم ماښام پورې په خاورو کې لوبیږي وایي:

یوازې نه ځمه خپل کورته، بابا وروسته راځي

دوی وایې وکړئ ګوزاره له ښامارانو سره
ډیر زورور دي، کوه طور نه امساء وروسته راځي

1383/1/16

وزیر اکبر خان مینه – ازادۍ راډیو

پردی

دوی مې اوس په ژبه هیڅ پوهیږي نه
زه له دغو خلکو پردی شوی یم

۱۳۸٦/ ۲/ ۲۳

مور

نن شپه به مې مور خوب کې خدای راولي
ټوله ورځ مې ډیر پسې ژړلي دي

۱۳۷۸/ ۵/ ۲

کابل– خارندوی مینه

## په اورونو کې ژوند

په تورتمونو، په اورونو کې لار روغ پاتې يو
ترکاڼي کلک يو، توپانونو کې لا روغ پاتې يو

هره خوا کرکه وه، کينې وې، مورِ به مينه کړله
عجبه نه ده؟امازونو+ کې لا روغ پاتې يو

بيرغ دمينې مو په هيڅ جګړه کې ښکته نه کړ
له دې سببه په تيغونو کې لا روغ پاتې يو

دا ښکلې هسې له مورِ مخ اړوي، ځان کنجوي
مورِ يې په روح، مورِ يې په زړونو کې لا روغ پاتې يو

سرو اننګيو ته يې ګورو، خو لانه پرې سوځو
په دومره ښکلو او حسينو کې لا روغ پاتې يو

علم ګل سحر

که مومن خان دې چيرې وليد ورته ووايه چې:
مورِ د ښامار تيرو غاښونو کې لا روغ پاتې يو

مخامخ خاندي او له شا مو په خنجر ووهي
سحره! مونږ داسې وختونو کې لا روغ پاتي يو

## که ښکلې نه وای؟

که ښکلې نه وای
زمونږ ژوند به څه و
په څه اميد به مورِه ژوند کولو
په کومه هيله به ژوندي پاتې وو
که ښکلې نه وای
لمر به څومره يخ و
لمر به تياره و
او سپوږمۍ به نه وه
که ښکلې نه وای
نو په بڼ کې سرو غوټو به څنګه
داسې موسکا کوله
او سره ګلونه به په څه غوړېدل

د لمر ګلونو به نو کوم پلو ته
داسې په ځير– ځير کتل
که ښکلې نه وای
دا اسمان به په دې ښکلو ستورو
تر دې لا هم مغرور و
ځکه هغه وخت به يوازې اسمان ستوري لرل
که ښکلې نه وای
دا جګړې به تر دې هم ګرمې وې
د هر چا زړه کې به د کرکې اور و
د هر چا زړه به له ژوندونه تور و
که ښکلې نه وای
نو د شعر پري به
له کومه لوري الهامونه راوړل؟
که ښکلې نه وای
زمونږ ژوند به څه و؟
په کوم اميد به مونږ ژوندي پاتې وو؟

17\7\1372
پکتيا، د زرملي اسلام خيل

تسلي

ته د ژوند غمو نه ولې ستړی يې

مور خوبه لرې،

ښه ورته وژاړه!!!

۱۳۸۳/ ٦/ ۴

کابل– وزیراکبرخان مینه

## یو غمی د سینډ په تل کې

یو غمی د سینډ په تل کې رانه ورک شو
نه پوهیږم په څه چل کې رانه ورک شو

اننګو کې دې زما د کتو فصل
تږوکیدلی و، په ګل کې رانه ورک شو

یو شین خال به مې نمانځه همیش په زړه کې
ستا خواره واره اوربل کې رانه ورک شو

د شانې خوله کې زما ارمان نیمګړی
د هغې د زلفو ول کې رانه ورک شو

د نیرون+ په هوسونو کې لاهو شو
خوږ کابل مې په کابل کې رانه ورک شو

6\8\1382
پکتیا،زرمت–اسلامخیل

## د اننګو پسرلی

چې په دې ښار کې نازولو سره مینه کوو
لکه په ځوځو کې له ګلو سره مینه کوو

ژوند خو به خود په اشارو او کنایو تیروو
درقیب خوا کې چې له ښکلو سره مینه کوو

نه غوټﯿ غوړیدې بڼ کې، نه ګلونه وینو
هسې سپرلي کې له بمبلو سره مینه کوو

علم ګل سحر

د اننګو د پسرلي په هیله –هیله سوځو
ځکه لمبو کې له سوځلو سره مینه کوو

کمځۍ، کمځۍ زلفې دې څه دومره په ناز اړوې
مونږه د دار پر سر زانګلو سره مینه کوو

په نورو اوري یې د شونډو د سپرلي ګلونه
مونږ بد نصیب یې تش لیدلو سره مینه کوو

3\8\1369
کابل پوهنتون

مینه کې څومره فرق وي

زه یې په زړو له میکدې و ایستم

علم ګل سحر

او ته په خپله خوښه
له هغې ښکلې کعبې بیرته راغلې
نو
زاهده ووایه اوس
زما او ستا مینه کې څومره فرق دی؟

22\7\1372



## غزل

نور به یې په لوري مورِ کاته پریږدو
مورِ که ترې نه ځو ورته خپل زړه پریږدو

ځئ له دې بې روحه ښاره کډه شـــــــــــو

ستړي ارمانونه میلمـــــــــــانه پریږدو

شیخه که پردې مو ګناهګار بولــــــــې
موږ به خپلې ږیرې ترنامه  پریږدو+

مه کوه ګوزار د درو مـــــــه کوه
نور به دسندرو اوریده پریږدو

راشي د ټوپک له خولې پیغام داسې
وژنو یې له سره کله مـــــــره پریږدو

دا وطن خو ښکلی دی جنت دی خو
موږ به یې له لاسه د یوه پریږدو

۱۳۷۸/ ۱۱/ ۲۰
کابل– څارندوی مینه

+دغزل سالار استاد محمد صدیق پسرلي له یوه شعر نه په الهام

ورک ارمان
زه پر اغزیو باندې اوسم او دا هیڅ نه وایي
مینه ارزانه ورته ښکاري، اشنا هیڅ نه وایي

زه چې يې سترګو نه دورک ارمان پوښتنه کوم
يايې په ټنډه ګونځې راشي او يا هيڅ نه وايې

چې راته ګرانې نه دې، مينه پسې مرې دي زما
چې په ما ګرانه ده، هغه دلــــــــــــــربا هېڅ نه وايي

د ملـــــــــــــغلرو منځ کې ورشم، ديو تار په بهه
تر سپينې غاړې يې چاپېر شم دالا هېڅ نه وايي

د زړه ازار لـــــــــپاره راشي، لکـــــــــــه ته ولاړه شي
له ګل نه شته خوشبويي يوسي، هوا هېڅ نه وايي

د خدای په ميـــــــــنه يې دسترګو تـــــــــــلاوت کومه
دا مې ګناه شوه، که ثواب شو، ملا هېڅ نـــــــه وايي

امان الله! ستاغوندې نه دی چې به غم خوري زموږ
بس ګوزاره کوي، ژوندی دی، پاچـــــــــــا هيڅ نه وايي

هر سحــــــر غوږ يم، بلبلان ذکـــــــــــــــر دګلو کوي
حيران په دې يمه، چې ښکلې له تا هيــــــــــخ نه وايي

علم ګل سحر

۱۶/ ۴/ ۱۳۸۳

**د رڼا تناب**

**ته یی سپیڅلې!**
**ته اروا دمریم**
**ته لکه پرخه په ګلپاڼو باندې**
**ته لکه وړانګه پاکه**
**ته دبلبل اوښکه یی**
**روح دې مینځلی**
**دزمزم په اوبو**
**ته یو احساس، ته عاطفه یی ګلې!**
**ته له ګناه پاکه یی**
**خو دلته هرپلو ګناه ده ګناه**
**لکه چې ته دلته بې وخته راغلې**

علم ګل سحر

لاخو کينې دي،

لاخوکرکې خورې
لاخو دمينی جامې رنګ دي
د ګناه په وينو
لا د قابيل هابيل کيسه ده
د هرچاپه ژبه
او د بلقيس او سليمان مينه
له ټولو هېره
دنيا فساد کې لاهو
اسمان کې وريځې دي د کرکې خورې
لا د يزيد توره
ريبي سرونه
لاخو دهرچازړه کې کرکه شنه ده
لا خو د هرچازړه کې بل، د انتقام اوررونه
لا خو په مينه هيڅوک نه پوهېږی
نو دا منې راسره؟
چې ته بې وخته راغلې
دې د نفرت نړۍ ته
ته چې د چا زړه کې کينه ووينې
دا ستا په سترګو کې د وير فصل

را وټوکیږي
تاته د زور او زرو سترګي ټيټی
ته د قارون، ته د پاچا، ته د جابر
له ښنګه تېره شې
موسکۍ شې وایې
عجب ساده خلک دي
دومره په زور او زر مغرور ولي دي
ته دسندرو سيپارې
په مينه، مينه لولي
ته لکه زه په یوه ورکه پسې سترې ښکارې
مينه، مينه، مينه!
اوه، نه پوهېږم
ښايي دا هم سترې وي
ښايي چې مينه هم
تيارو کي سرګردانه ګرځي
ديوه زړه په لټه
داسي يو زړه چې کرکه نه پېژني
چېرې به وي؟
نه پوهیږم، نه پوهیږم

+++++

ته يې سپېڅلې!
ته اروا دمريم
ته يوه پاکه فرښته يې ګلې!
ګوره ابليس ميني ته خاورې شيندي
د فرښتو دلارښوونې
خوب يې بيا ليدلی
ابليس دميني دښمن
فرښتې تاته وايم
له خپلو ښکلو شونډو
د ولاحولو توري مه غورځوه
ابليس لباس دی
کله– کله په بدل لباس کې
راشي د کرکې او ګناه تخمونه وشيندي، ځي
په لباسي خندا يې مه غوليږه
چې ولاحولو درنه هېره نه شي
ايت دمينی تل په ځان چوف کوه
ابليس په سپين لباس کې راشي
فرښتو ته لار ښوونه کوي
ابليس د مار زهر

**د مینې په پیالو کې راوړي**

**نو**

**فرښتې تاته وایم**

**اعوذ بالله او ولاحولو**

**تل پر شونډو لره**

+++

**ته یې سپېڅلې!**

**ته اروا دمریم**

**ته یې د نور لارښوده**

**زه دې چې سترګوته په ځېرګورمه**

**ما خپل ارمان ورک کړی**

**زه دي په ښکلو شرابي سترګوکي**

**درناالارې ګورم**

**او**

**زما دعقل بېړۍ**

**دا ستا د ښکلو سترګو**

**دسمندرپه توپاني څپوکي**

**غرقه ښکاري**

**اوزه تیارو کې بندي**

په تروږمۍ کي
له برهوت څخه فرياد کومه
ته په وړانګينو لاسو
دادرښا تناب راخورکړه
مادرواخله ښکلې
چې دې نفرت، نفرت جهان کي مې
نور زړه تنګ شوی!!!

۲۹ جون ۲۰۰۴ وزېر اکبرخان مېنه

## يوازې ستا لپاره

له زړه مې ټولې کرکې وايستلې
اوس مې له ښکار څخه توبه کړې ده
اوس له کارېز نه بغدادي کوترې نه کتوم
او بس تمامه ورځ لګيا يم
په دامونو کې مرۍ پېيمه
سپينو کوترو ته پايزېب جوړوم
اوس د بې موره ورې له اوښکو نه
شراب جوړوم
او په سخت زړو يې ارزانه پلورم
چې يې له زړونو کينې کډه وکړي

علم ګل سحر

له زړه مي ټولې کرکی وایستلې

اوس مساپر په کاڼو نه ولمه
اوس ګلان نه شکوم
له لارو نه اغزي ټولوم
په لاره تلونکی ماشوم ښکل کړم
دسپین ږیري بوډا لاس ونیسم
له زړه مي ټولې کرکې وایستلې
اوس له دښمن نه کسات نه اخلمه
اوس دغومبسو کور په ختهٔ باندي
نه پټوم
په مار د کاڼي ګوزار وکړم
خو خطا یې ولم
بس هسي ځان ترې ژغورم
هغه هم هسي درحمان+ دیارانې په خاطر
اوس له خوبونو مرور یم
ټوله شپه په تلاوت تېروم
او دقرآن زرینو پاڼو کي
یو نوم لټوم

له زړه مې ټولې کرکې وایستلې
اوس مي ټوپک پر اوږه نسته
او له میل نه يې شپېلۍ جوړه ده
په کي دميني ترانې غږوم
داټول دا ستا لپاره
ځکه دوې وایې
په جنت کي حورې ستا غوندې دي!!!

---

زموږ په سیمه (زرمت) کي خلک په دې باور دي، چې که څوک مار ووینې، باید حتمادکانې ګوزار پرې وکړي، کنه رحمان بابا خپه کيږی دوی وایي چې رحمان بابا په دې اړه فرمایلي دي:
چې څوک ووینې مار
او پرې ونه کړي ګوزار
هغه نه دی زما یار.

وخته راوګرځه

موږه دا ډېره موده
دیوه بل پرلوري
سترې مزلونه کول
څومره شپې تېرې شوې
څومره کلونه تېر شول
څومره وختونه تیر شول
ښایي ارواوې زموږ
له موږ نه هم سترې وې
ښایي اروا مو دیو– بل په لورې
ان څو پیړۍ دمخه
دیوه بل په خوا مزلونه کول
خو موږ دا اوس یو بل ته ورسېدو

علم ګل سحر

چې مو ځانو ته پام شو
وخته!
وخته ته تیر وې رانه
وخته نو دومره ژر بیا ولي ولاړې
مورِه خو مینه هم ونه لیدله
زمورِ خو ټول ژوندون سفر و، سفر
دومره سفر چې ان لا تا به هم لیدلی نه وی
اهای، تاته وایم
وخته نارې مې اورې؟
وخته لږ ودریږه
او لږ په شا راشه
زمورِ لپاره
او که راونه ګرځې
زمورِه دواړو آه به
تا هم په خپل ځای باندې ودروي
چې بیا به هیڅکله مزل ونه کړې
او بیا به داسې بې پروا
له مینانو ځنې نه تیریږې
اهای !

علم ګل سحر

ناري مې اورې، که نه
وخته راوګرځه
لږ ودرېږه
وی!
وخت هم مغرور دی
هيڅ راګوري هم نه
دومره په بېړه درومي
لکه چې دی هم په مين پسې ځي!

رحمان مېنه، کابل
۲۸/۳/۱۳۸۳

## سوال

هیڅ وخت مه غواړه په سوال مینه له چانه
چا ورکړی کوم سوالګر ته نوی نوټ دی
ریاکاره زمانه کې رښتیا وایم
ساقي دا څه خو تاثیر ستا دیو ګوټ دی
تشدد نه زیږیدلې تل فتنې دي
دا کلام د پاچاخان مې زړه کې نوټ دی
زړه ولاړ وي چې دې نه وینمه کله
ستا په سترګو کې زما د زړه ریموټ دی
که پاچا شوه نو اول به جنګ کړي ختم
هغې ښکلې ته ورکړی موږ خپل ووټ دی
سهار ولاړ جنګ ته په توره شپه یې راوړ
دروازې مخ ته ختلی یې یوبوټ دی
زړه

پرون نړدې و
زړه مې ودرېږي
بې مخه ښې بله ورځ ولاړه نه شې
بيا به تاوان دخپلې ورکې غواړې
دازړه خو ستا دی
څه زما خو نه دی

کلوله پشته ۸/۷/۱۳۸۳

**۱۳۷۱**لمريز کال و، مور مې ميرانشاه ته ولاړه چې تر څوارلسو کلونو وروسته خپل دوه وروڼه اودوې خوېندې ووينې. مور مې لانه وه خبره چې دواړو وروڼو او يوې خورېې لادمخه له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې وې او بله خور يې په بل ښار کې اوسيده.
دلته په کابل جهادي تنظيمونو اور بل کړی و، زه هم ددغو اوروڼو په لمبو کې ايسار وم. يوه مياشت وروسته دمور له مرګه خبر شوم او دګوليو په باران کې له کابله ووتم. پرمور مې يې دمهاجرو په هدېره کې خاورې اړولې وې هغې دژوند په وروستيو شيبو کې زه او او خپله مشره خور، چې په هغه ورځ د(بنو)له ښاره ددې ليدو ته راروانه وه، ډېر يادکړي وو، خو مور يې ونه ليدو.دمور دغسي پرديس مرګ

مې پر زړه داسي پرهر جوړکړ، چې ټول عمر به ترې وينې بهېږي
دمور تر قبر مې سپينې ډبرې راتاوکړي ، چې سبا رانه ورک نه شي
دبيرته راتلو په وخت کې مې تر خولې داسوې نارې ووتلې:

مور ته

زما معصومې مهربانې مورې
زماپر سر دې کړاونه ليدل
سختو شيبو ته شوم يوازي پاتې
ماپه ارام دژوند خوبونه ليدل
دمزارخاورې ښکلوم درنه ځم
تاپه پردې وطن پرېږدم درنه ځم
+++

مورې په زړه دي ارمانونه لرل
تازما ژوند ته اميدونه لرل
زماشيبې په خوشالۍ تيرېدې
خوتا په زړه کې ډېر غمونه لرل
په هيلو خاوري اړوم درنه ځم
تا په پردي وطن پرېږدم درنه ځم

موريې ته هم شوې مساپره رانه
په دې دنيا کې مې نور څه پاتې شول
که خوشالي وه خو له تاسره وه
ځومره غمونه ميلمانه پاتې شول
سترګې به چاته اړوم درنه ځم
تاپه پردي وطن سپارم درنه ځم

+++

موريې وړه مينه به تا غواړي اوس
شغله دې مينه او موسکا غواړي اوس
ستا چې وروستو شيبو کې تل ياديده
کوچنۍ ګلپاڼه به انا غواړي اوس
پرسر مې خاوري بادوم درنه ځم
تاپه پردي وطن پريږدم درنه ځم

+++

موريې خپه نه شې ما ونه ليدې
زه دقسمت په زولنو کې بندي
وروستى ديدن مې يو ارمان پاتې دى
وم دتيارو تورو شيبو کې بندي

وروستۍ دوعا درته کوم درنه ځم
تاپه پردي وطن پريږدم درنه ځم

1371 . 12.19

پښتونخوا ميرامشا دماچسو کمپ هديره

## غزل

څومره ډېر مې خپل جانان راباندې ګران دی
لکه ځان لکه ایمان راباندې ګـــــــــران دی

لکه خپلــــه خوږه ژبــــــه راتـــــه ګرانه
لکه ګران افغانســـتان رابـــاندې ګـــــران دی

زه یـــو ترِی لاروی یمـــــه دمــــــینې
درنـــــــو اوبـــــو په شان راباندې ګران دی

ماشومـــــتوب دی، هوسېږم یې ځـــــــــلا ته
لکه ســــتوری داسمان راباندې ګــــران دی

دوی حـــیران دي چې په تا ولې مـــــین یم
دا خو ځکه چې انسان رابــــاندې ګــــران دی

۱۳۸۳ /۴ /۲۴
ښارندوی مېنه، کابل

## نوبل دښکلو حق دی

دوی جایزه د نوبل چاته ورکړه
یا زورور، یا یې پاچا ته ورکړه
چې یې یوازې په خبرو مینه وستایله
چې یې یوازی په خبرو کرکه وغندله
هغو چې جنګ یې کاوه ویې نه کړ
چې دڅه وخت لپاره لیرې و
دجنګ له شره
دوی اتلان دسولې یادکړل هغه
خو!
شکلې چې ذهن نه جګړې ورک کوي
چې مو دزړه په دښته مینه کري
چې بېرته ژوند راکوي
له شاعر پرته چا ونه ستایلې

شاید چې نوبل کله ښکلې هم لیدلې نه وې

چې یې باروت یادول
بیا یې چې ښکلې کله ولیدلې
نوټول ویاړونه یې د مینې ترنامه قربان کړل
ټولې برياوې يې بشر ته ورکړې
ښايي دوی هېره وي اصلي خبره
هاچې الفرډ دځنکدن وروستو شیبو کې وکړه
–ن ن نوبل د ښکلو ح ح ح حق دی
–نوبل دښکلو...ښکلو....ښکلو حق دی
دوی جایزه دنوبل چا ته ورکړه
یازورور، یا یې پاچا ته ورکړه
بیا به یې ومنم چې دوی مینه او سوله غواړي
که یې داځل جایزه تاته درکړه

۱۹/ ۴/ ۱۳۸۳

وزیر اکبرخان مېنه ــــ ازادۍ راډیو

له مینې تېښته

ملا حیران ولې شوې

ماته تعویذ ولیکه

زه مینه نه کومه

ملا یو داسې تعویذ راکه

چې دزړه دروازې

پرمخ د مینې باندې وتړي ،

دتل لپاره

زه مینه نه کومه

مینه پاللی نه شم

زه یې لایق نه یمه

دلته په مینه هیڅوک نه پوهېږي

دلته له چا سره څوک مینه نه کړي

او مینه کفر بولي

که څوک خبر شول چې له ښکلو سره مینه کوم

زما انجام به څه وي

زه مینه نه کومه

ملاحیران ولې شوې

ماته تعویذ ولیکه

ملا لګیا دی

د کتاب پاڼو کې

د کرکې توري ګوري
لکه چې نه يې مومي
+++
ملا تعويذ وليکه
زه مينه نه کومه
مينه عذاب ده
مينه نه کومه
خومينه نه پرېږدي ما
مينه په ما پسې ده
او زه ترې منډې وهم
خدايه! په کبر کې يې مه کړې حساب
زه کبرجن نه يمه
مينه پاللی نه شم
لايق دمينې نه يم
زه مې کينې ته دزړګي دروازې
خلاصې پرېږدم
خو کينې راشي، بېرته ووځي
زړه کې ځای نه مومي
ځکه چې هر ورځ زه ښکلې وينم

۱۲/ ۵/ ۱۳۸۳ کابل ــ خيرخانه مېنه

## درنا خړیکه

تیارو کې خړیـــــــــــــــــــــکه د رڼا وه، ماوې ته یې هغه
سپوږمۍ کې پاتې څه ځلاوه، ما وې ته یې هغه

پوه نه شومه دوی وې ملایکه راغله، بېرته ولاړه
باران و، تالنده، برېښــــــــــــــــــــــنا وه، ماوې ته یې هغه

راته موسکۍ وه او زمـــــــــــا په زړه یې لاس ایښی و
دزړه مې بل رنګه درزا وه، ما وې ته یې هـــــــــــــغه

جنت نه راغلم، حورې ټولې وې حـــــــــــــــــــیرانې ماته
ترغوږ مې ستا غوندې خندا وه، ما وې تــه یې هغه

زه وم څـــــــــــــــــــېره مې وه، خو لیرې تبنتیدله رانه
زمــــا له تن څخه جـــــــــلا وه، ما وې ته یې هغه

۲۹/ ۵/ ۱۳۸۳
دکابل هوایي ډګر

علم ګل سحر

**له مینی ها خوا**

**دا خلک هسي وايي**
**زه په تا نه يم مين**
**په ما نازونه مه کړه**
**هسې دې سترګو ته په ځيرګورمه**
**زه دې په سترګو کې**
**دمينې اسم اعظم لټوم**
**زه دې په سترګو کې**
**زما ورک شوی خوب ګورمه**
**زه دې غومبورو کې**

علم ګل سحر

ورک شوی زلمیتوب لټوم
هغه چې راغی

داوبو په شانې تېر شو رانه
داخلک هسې وایي
زه په تا نه یم مین
نازدې پر نورو وکړه
زه دې میګونې شونډې نه ښکلوم
زه مې دژوند د کتاب
اخري فصل لیکم
په هغه فصل کې دژوند او مرګ سوالونه ډېر دي
غواړم له تا یې زده کړم
زه د کینې مینې څېړنه کوم
غواړمه پوه شم چې انسان ولې دښمن دی د ځان
ولې د بل له وینو خوند اخلي دوی
ولې دې دومره انسانانو
د یوه د خوشحالۍ لپاره
سرونه لاس کې دې نیولي
او رېبي سرونه
ښایي دا راز ومومم
دا ستا د سرو سرو اننګیو خال کې

هغه چې خپله يو ظالم پاچا دی
هغه چې خپله هم دستورو لو کړي
زه په تا نه يم مين
دا خلک هسې وايي
زه دې ميګونې شونډې نه ښکلوم
په ما نازونه مه کړه
زه دښکلا د فلسفې شاګرد يم
غواړمه پوه شم
چې دا دومره ليرې– ليرې خلک
څنګه نژدې او څنګه خپل شي سره
دومره نژدې شي، نژدې
چې په يو بل کې حل شي
کټ مټ ماوتا غوندې شي
ښايي دا ستا خمارو سترګو کې دا راز ومومم
ځکه خو داسې په کې ورک يمه، ورک
دا خلک هسې وايي
زه په تا نه يم مين
او که مين يم، ستا پر روح مين يم
بس ستا د روح په ښځ کې
لکه ورمه د سحر
ګلان دمينې سپړم

زه دې میګونې شونډې نه ښکلوم

دا خو ګلان دي

زه د ګلو پاڼې نه رژوم

زه دې په شونډو کې سپرلي لټوم

چې لاتراوسه مې لیدلی نه دی

ځکه خو داسې لالهانده یم،

په ورکو لارو

له مینې هاخوا

ستا د روح کتاب کې

زه خپلې ورکې خاطرې لټوم

او دوی مین ګڼي ما

هغه هم داسې، لکه نور مینان

ها،ها،ها،هها

عجب ساده خلک دي !؟

۴/ ۱/ ۱۳۸۳

وزیر اکبر خان مینه

## عادت

اوس په دې مالت کې زه بې یاره عادت شوی یم
یاره خپه نه شې ستا لپاره عادت شوی یم
دلته مې اوس یار نشته کلونه دي اوښتي خو
هر ماښام راځمه په دې لاره عادت شوی یم
وګورمه ښکلو ته، بیا ژر جومات ته ولاړ شمه
زه له وړکتوبه ښه دیندار عادت شوی یم
پیتاوې ته به کینمه او سیوري ته به پریوزمه+
زه د هر پښتون غوندې بیکاره عادت شوی یم
راځې که نه راځې زه درته هم سترګې په لار نه یم
اوس نوله خزان سره بهاره عادت شوی یم

۱۳۸۷/ ۱۱/ ۱۷
کابل – پښتونستان واټ

دغه بیت لومړی په دې ښه و:

وخت نو څه ارزښت لري ، په ټوکو به یې تیر کړمه
زه د هر پښتون غوندې بیکاره عادت شوی یم

خو کله چې مې استاد اسدالله غضنفر ته ولوست هغه یې لومړی نیم بیتي داسې سم کړ:

پیتاوې ته به کینمه او سیوري ته به پریوزمه
زه د هر پښتون غوندې بیکاره عادت شوی یم

## د مینې شبنامې

زه له سهاره تر ماښامه پورې
تاته شعرونه لیکم
خوب رانه هېر وي
ته مې یاد يې
کاغذو کې دې تصوېر لیتوم
کله دې سترګې، کله خال
کله دې شونډې ستایم
تاته په پټه زه شعرونه لیکم
دغه دمینې شبنامې په ویره ویره لیکم
که څوک خبر شي
چې له تاسره زه مینه لرم

علم ګل سحر

تاته شعرونه وایم
ماته به څه وواېي

تاته به څه نوم درکړي؟
دلته خو مینه او ګناه په یوه کاڼي تلي
دلته په هیڅ هیڅوک نه دي مین
چې زما درد احساس کړي
دلته د چا زړه، د ښکلا تندر وهلی نه دی
دلته ړانده دي خلک
څوک چې بینا دي، یاخو ما او یا خو تاته ګوري
او د تهمت رنګونه ویشي وړیا
+++
شپه وي، تیاره وي
اونور ټول ویده وي
زه دې تصویر سره خبرې کوم
قلم را واخلم درته شعر ولیکم
چې خوښ مې نه شي
کاغذ څېري کړمه
خو ستا څېره راته موسکۍ شي
او سوکه وواېي

عجب ساده سړی دی
چاته شعرونه ليکي؟

بيرته راټولې د کاغذ وړې ټوټې کړم سره
او بيا بل شعر وليکم
خوب رانه هير وي
بيا سندرې اورم
هره سندره کې بس تا ګورمه
هره سندره ويل شوې تاته
ټولو ستايلې يې ته
خو
د دوی يوازې ستا ښکلا ته پام وي
او بس يوازې دې ښکلا سره جفا يادوي
دوی ستا غمجنه څېره نه يادوي
ستا خوږو سترګو کې د وير دنيا ليدلی نه شي
قلم را واخلمه، غزل وليکم
ورپسې بل وي او بيا بل وليکم
خو ستا څيره مې انځورکړي نه وي
چې شپه سبا شي

رڼايي خوره شي

+++

سهار چې تا ووينم

نو راته وايې

رنګ دې ژیړ ولې دی؟

سترګې دې ولې پړسېدلې داسې

بس له ماښامه تر سهاره پورې

ويښ پاتې وم

ولې ناروغ خو نه وې؟

نه، هسې مې خوب وتښتېدلی رانه

تاته ويلای نه شم

چې ستا لپاره

له ماښامه تر سهاره پورې

ويښ پاتې يم

خوب رانه هير وي

ټوله شپه تاته شعرونه ليکم

۲۳/ ۴/ ۱۳۸۳

وزير اکبرخان مېنه ــــ ازادۍ راډيو

### دخوبونو ښاپیرۍ

په دې ښار کې يوه ته يې او بل زه يم
ته يې وړانګه او له تا سره مل زه يم

دا نور هسې د پيسو لپاره ژونـــــد کړي
چې يې ژوند د عشق لپاره دی، تل زه يم

چې مې زړه ته رانږدې يې، اول ته يې
چې يې تاته زړه درکړی، اول زه يم

د ژوند پاڼې مې شهيدې شي چې نه يې
ته باران يې او په دښته کې ګل زه يم

علم ګل سحر

ستا خوب وړې سترګې خومره را نږدې دي
ښايي ستا د تورو سترګو کـــــــــجل زه يم

رقيبان مې د تهمت په غشو ولي
ته به وايې ددې دور کابل زه يم

چې پر موږ باندې واکمن شي نو ظالم شي
بيا نو وايي چې بس ستاسې عمل زه يم

بيا قاضي دی کوم کمزوری په دار کړي
ښه خبر دی چې دسرو شونډو غل زه يم

ها چې ولاړه، ښاپيرۍ وه د خوبونو
دا په خاورو کې چې پروت دی، دا پل زه يم

هر سحر لکه ورږمه لګي چې راشي
ګوره پام کړه، ژېړه پاڼه د ګل زه يم

علم ګل سحر

انسان

ځمکه لا هغه وخت پوه شوې وه پرې
چې دا انسان، انسان کېدلای نه شي
ژوند د انسان په  څېر کولای نه شي
یو به د بل په ضد وسلې جوړوي
یو به د بل په وینو ژوند تېروي
ځمکه لا هغه وخت پوه شوې وه پرې

علم ګل سحر

چې لوی الله (ج)

د کایناتو خالق

له سپېرو خاورو نه انسان جوړاوه

خپلو منلو ملایکو ته یې امر وکړ

چې له اسمانه د دې ځمکې

هر یو پوړ وګوړئ

او له دې اوو پوړو نه

یو موټی خاوره واخلئ

ترېنه اشرف المخلوقات وجود کړئ

خو ځمکه

هغه وخت پوه شوې وه لا

چې دا انسان

انسان کېدلای نه شي

او د الله په احسان

نه پوهېږي

ځکه یې هغه شېبه

د خپلې خاورې ورکولو

ځخه ډډه وکړه!!!

علم ګل سحر

۱۳۷۲/۴/۱۵ کابل

## غزل

خدایه چې غواړم یې، هغه راځنې لیرې ګرځي
ټول رانژدې دي، خو یوه راځنې لیرې ګرځي

که ګلاب نه یمه، د پوندې اغزی هم نه یمه
حیران په دې یم چې وږمه راځنې لیرې ګرځي

زه د خپل ځان پرخوا روان یم، رسېدلی نه یم
په دې سفر کې مې سایه راځنې لیرې ګرځي

زما په زړه خو هسې هم بله لمبه دمينې
په کار مې نه ده، که ډېوه راځنې ليرې ګرځي

ارمان مې ستا له اننګو په ژړا ته، ويل يې
کاڼی د رود يم، آئينه راځنې ليرې ګرځي

۷/۳/۱۳۷۳
څارندوی مېنه ـــ کابل

خو ته به نه وې

لکه چې ستا نه هېر دي
لا ډېرکلونه وړاندې
په يوه بله زمانه کې مورږه
سره مين وو دواړه
هغه وو نوروختونه

هغه وخت کرکه هيچا نه پېژنده
کينه له سره پيداشوې نه وه
هرخوا د مينې واکمني چليده
ته وې مينه پرما
او زه مين وم پرتا
لکه چې هېر دي درنه
هغه مهال يادوم
چې دا تورزړي خلک نه وو پکې

د مينې نوم به په درنښت ياديده
مينه به ټولو عبادت بلله
خو موږه نه پوهيدو
چې وخت بدليږي ورو ورو
ددې وختونو سيلۍ
ناڅاپه راغله پرموږ
موږه يې بيل کړو سره
ته رانه ليرې ولاړې
ماله خپل ځانه ستا د تللو خبر پټ وساته

علم گل سحر

خو زه په ځان پوه نه وم
ژوند مي و، ليرې تبنتيدلی رانه
د وخت سيلۍ
دبيلتانه سرود په ژبه راغله
مورِ له يو بل نه بيل شوو

\+ \+ \+

په دويم ژوند کي په زرمت کې ومه
خوب کي له تاسره وم
ما ژوندون نه غوښت
خو په زوريې راکړ

ما به ژړل
دوی خوشحالی کوله
ما سترګي نه پرانستې
څکه له تا بيليدم
پلار راته آس او يو ټوپک په نذرانه ومنل
په آس به ستا په لور مزل کومه
ټوپک به مات کړم
چې کينې خوروي
له ميل يې تاته غاړګۍ جوړوم
د ملا خورِ غږ مي غوږو ته راغی

**ما وې ستا نوم يادوي**
**سترګې مې پرانستلې**
**خو ته به نه وې ما به بيا وژړل**
**ژړا مې زياته شوله**
**ما يوه مينه غوښته**
**يوه دردمنه مينه**
**د مور د مينې لاس ورپورته کړمه**
**په هغه لاس کې**

**د دنيا مينې وې**
**دروغ مي نه زده**
**د مورغيږ کی می ته هېره شولې**
**آه، د مور کیِ غیږ خو نوتل هم نه وي**
**زه ځني ولويدمه**
**لکه پاچا چې هم له تخت، هم له وَطن ليرې شي**
**بېرته شوم ستا په لټه**
**حواس مي ټول سره ګډوډ وو**
**ستا په نوم پسي به ټول ستړي وو**
**ورځ به مې ټوله باغ کې تيره کړله**

د یوه ګل په لټه
چې تاته ورته وي لږ
شپه به پر بام څملاستم
یوازې ستا لپاره
دوی وایي ستوري څوک شمیرلی نه شي
ما به په شپه کې ستوري ټول وشمیرل
خو ته به نه وې پکې
چې ښه به ستړی شومه
خوب به راغی

خوب کې به ښکلې ښاپیرۍ
راته خندل په مینه
ما به وې ته یې،
پسې ولاړم به تر لیرې غرونو
خو ښاپیرۍ به رانه لیرې ولاړه
کټ مټ همداسې، لکه ته چې رانه لیرې ولاړې
چې نا امیده شوم،
جومات ته ولاړم
د ملا لښتې مې هم ستا لپاره ومنلې
ما ترې سبق پیل کړ
ملا (الف) او ما به (ب) ویله

ملا به (ح) خو مابه (خ) ویله

دملا خوله کې دحلوا مزه وه

ما د خدایي حسن رڼا غوښتله

ملا به (پ) ویله

زما تلوار و، ما به (ف) ویله

هغه پرون خو زه سبا ته تلمه

ملا خو ناست و،

زما مخې ته یو لوی سفر و

ملا د ځان له غمه مړ و،

زه دا ستا له غمه

زه ستا په نوم پسې ستومانه ومه

ستا نوم به و،

خو ملا نه راښوده

د ښوونځي په کتابو کې،

ستا په نوم پسې پنځه کاله زه وګرځیدم

معلم ریاضي راښوده

خو زما یوازې(جمع) زده وه پکې

(تفریق) مې بد ایسیده

ما له کتابه د (تفریق) او(تقسیم) پاڼې،

## ټولې وښکولې

ټولي د زرمل د راده خړو اوبو یووړلې
مکتب مې پریښود
کتابو کې یې ستا نوم نه راښود
ما د زرمت باغوکي ستړي مرغان ټول ولیدل
چې په نغمو کې یې ستا نوم واورمه
له بلبلانو څخه هم هېره وې

زرمت یو ښکلی ځای دی
با الا تشبهه لکه جنت داسې و
رڼو اوبو کې به مینځلې اوبه راغلې مورِ ته
خو ته به نه وې
زه ترې ووتم
داستا په لټون
ما د بابا پرپله پل کېښود بیا
دروغ مې نه زده
ما به ښکلو ته په ځیر ځیر کتل
په دې امید
چې ستا د حسن رڼا ووینمه
د کوه قاف ښکلې مې ولیدلې

علم گل سحر

خو ستا د حسن جلوې نه وې پکې
ټولو مي مينه غوښته
خو زه وم ستا په لټون
+++++++
دادی ترډېرو کلو وروسته تاته ورسېدم
خو له تا هرڅه هېر دي
يا دې په مينه خپل باور بايللی

زه هم پوهېږم چې اوس خلک مينه کفر بولي
خو موږ د بلې زمانې خلک يو
زه خو دې ښکلې شونډې نه ښکلوم
زه دې دتورو زلفو شپې نه غواړم
زه دې د ښکليو اننګيو ارمانجن نه يمه
زه دي د سترګو سمندر کې لاهو کېږمه نه
زه دې له سترګو يو دوه اوښکې غواړم
يو دوه دردمند، يو دوه د مينې څاڅکي
زه يودردمند په مينه
زړه غواړمه+
راځه چې دواړه خپل ماضي ته ولاړ شو
د مينې لاس دې راکړه
او ما مې خپلې زمانې ته بوځه

علم ګل سحر

له دې زمانه مې نور زړه تنګ شوی
بیا به وختونه تېر وي
هسې نه بل ژوند کې مې هېره نه شې

۱/۸/۱۳۸۳
کابل ـــ څارندوی مېنه

---

+دغني خان د شعر یو بیت

مات ستوري

وینم له تانه، لا ډېرې ښکلې
ډېرې سرې سپینې، ډېرې آغلې
خو بې له تانه، باور پرې وکړه
نظر مې نه شي، په کومې بلې

+++

علم ګل سحر

زه رنځور پروت وم، تا دامساء کړم+
د مړو له ډلې، تــــــــــــاراجلا کړم
تا خو له سره يو ژوندون راکـــــــړ
دغه احسان دې ځنګه ادا کــــــړم
+++
سپوږمۍ ته لاس کړم، ستوري را شمار کړم
ځو رانه مات شي، ځو بند په تار کــــــــــړم
دا به ستــــــــــا وړ وي او کـــــــــه به نه وي
په دې سوچونو شپه راسهار کــــــــــــړم

+++

سهار چې ولاړشم، د ګلو بڼ ته
ځو ستا په شانې ګلونه بيل کړم
د پرخو څاڅکي سره راټول کړم
چې تاته جوړ ترې ښکلی آمېل کړم
+++
خو لمر را تود شي او ورک شبنم شي
وړانګې له ګله، پرخې پــــنا کــــــــــــــــړي
زه مــــــــي د خپلې بې وسۍ ويــــــــــــر کړم
لکه يتيم چې ځوک په ژړا کــــــــــــــــړي

+++

د لمر شغلو نه، لاسونه تاو کړم

وايم لمرونه ټول تاته درکړم

خو وړانګې نه وي، هغه هم ته يې

دعشق ګلونه، ټول تاته درکړم

۴ / ۴/۱۳۸۳/

دازادۍ راډيو دفتر

--+مينې دې دومره فايده وکړه--لکه رنځور چې په لکړه پورته شينه

نـــــور

زه يې په سترګو کې کلام دمينې

د جبرائيل په لاس ليکلی، يو پيغام د مينې

زه په کې وحی ګورم

زه په کې حورې د جنت ليدای شم

زه په کې نور وينمه

**زه اسم اعظم لیدای شم**
**زه په کې ځان وینمه**
**ځان راته لوړ ښکاري ډېر**
**په ځان وېرېږمه ډېر**
**هسې نه لویه دعوه وکړمه**
**چې زه یم، زه یم**
**یوازې زه یمه**
**سحر یمه بس!!!**

**۲۲/۴/۱۳۸۳**

**وزیر اکبر خان مېنه ــــ دازادۍ راډیو**

**استاد اسدالله غضنفر ته**

## لپې لپې سمندر

پرون واخیست لاس کې لمر، یوه سړي
کړ تقسیم یې برابر، یوه سړي

لپې لپې یې ویشه په ټولو باندې
و،تم کړی سمندر، یوه سړي

پاچا نه و، یو ملنګ غوندې سړی و
د انصاف تاج و پرسر، یوه سړي

په بشر باندې مین و لوی انسان و
نه یې غوښت د چا ضرر یوه سړي

په جنت کي يې کتاب مخې ته پروت و
ياداوه په کې بشر يوه سړي

په سپوږمۍ کې يې ستا حسن راته وښود
څومره تېزدرلود نظـــــــــر، يوه سړي

له سندرو نه پردی و، خو مين و
په کتاب بدل کړل زر يوه سړي

ښکلا، مينه پيداشوې له ښه خويه
داسې ووې په منبر يوه سړي

يا مو وخت په کار تېرېږي يا په مينه
مورِ ته وښود دا هنر يوه سړي

تروږمۍ کې يې تيندک وخوړ، ونه لوېد
ترلاس ونيو ژرسحر، يوه سړي

## پاس سپوږمۍ ده لاندې ته یې

پاس سپوږمۍ ده ،لاندې ته یې
زه یم ترږی ته اوبه یې
په خیالونو کې مې ته یې
په فکرونو کې مې ته یې
په سندرو کې مې ته یې
په شعرونو کې مې ته یې
یې په ویښه مروره
په خوبو کی راپخلا یې
په خوبونو کې مې ته یې
په رګونو کې مې ته یې
کله ستن، کله مرهم یې
پرهرونو کې مې ته یې
یوخوږ درد مې په سینه کې

په دردونو کې مې ته يې
زه که ستا په زړه کې نه يم
خو زما په زړه کې ته يې
زما عقل ستا په لاس کي
نه پوهېږم چې ته څه يې
پاس سپوږمۍ ده، لاندې ته يې
+++
پاس په هسک کي خو سپوږمۍ ده
لاندې ځمکه کې نجلۍ ده
هغه پورته سپوږمۍ نه ده
هغه سيوری د نتکۍ دی
مخامخ ورته ولاړه
يوه سپينه شهزادګۍ ده
هغې عقل رانه وړی
دې حواس زما تړلي
دلته توره تروږمۍ ده
ددې لاس کې ډېوه ګۍ ده
زړه مې تنګ له دې نړۍ دی
ترې نه تاو تار د کمڅۍ دی
زما زړه کې نور سېک نه شته
پر وجود مې ګبنۍ ده

دغه مینه څه کاڼې کړي
رانه هېر غم د ډوډۍ دی
دغې کوډې په ما کړې
له ما ورکه شنه مرۍ ده
له ټوپکه راوتلې
په ما مخامخ ګولۍ ده
د ښکلا تندر پرېوتی
زما د زړه پر کوټنۍ دی
سخت سفر مې دی په مخ کې
د پولادو مې څپلۍ ده
لاس تر زنې ورته ناسته
زما میني ته بدرۍ ده
د پاچا په لور مین یم
نیم دیدن په اشرفۍ دی
زما ژوند یې لاس کې واخیست
ورته وګورئ مسکۍ ده
پاتې ژوند مې په ضرور شو
لاندې ته یې، پاس سپوږمۍ ده

۱۳۸۳ /۹ /۲۹

ازادۍ راډیو

علم ګل سحر

## تږي نبنتر

خدايه چې غوارم يې، هغه راځنې ليرې ګرځي
ډيره موده وشوه چې ښکلې مرورې ګرځي

مامخ نه وايم چې زه در سره مينه لرم
چې پسې شا شمه، به خوله مې دا خبرې ګرځي

موره سپرلي له انقلابه قرباني کړل داسې
چې اوس مو غرو کې په اوبو پسې نبنترې ګرځي

له هر الوت سره يې ټکه شي نازله پر مورِ
دوې وايي سپينې دي، وزر لري کوترې ګرځي

مورِ و يوبل ته بد بد ګورو وايو ستا له لاسه
چې په وطن کې د اغيارو مو لښکرې ګرځې

يوازې ته يې ليونی نه يې سحره ياره
د هرچا ذهن کې بس دوه سترګې کافرې ګرځي

خارندوی مېنه

۷ ــ۳ – ۱۳۸۳

## نیمګړی سفر

مه،مه! درنه مات شو، په راستۍ مې زړه درکړی دی
هسې هم ځپلی دی، زخمې دی، غریب ستړی دی

زه د پاکې مینې لاروی وم ، تاته راغلم اوس
پوه شوم نیمه لار کې یم، سفر مې لانیمګړی دی

کوم پلو ته ولاړ شم، ما د زړونو لاره ورکه کړه
دا چې پرې روان یمه دا لاره ده، که پړی دی

دا لیونی نه دی چې لویدلي پاڼ ته ناست دی دا
ښکلو ازار کړی، له جهانه موړ وګړی دی

دا چې په خاموشو شونډو وایي غچ یې واخلو موږ
دا پټکی په غاړه، د مرغاب د دریاب مړی دی+

لاس وهم اوبو کې، اوبه ټولې رانه خړې شوې
ارمان مې رانه ورک دی، له ما دغو اوبو وړی دی

۲۷ / ۴/ ۱۳۸۳

---

+هغو شهيدانو ته اشاره ده چې جنګسالارانو د مرغاب سيند ته واچول

## خلک هسې وايي

وايي چې زه په تا مين يم، خلک هسې وايي
ته مې پاچا زه دې وطن يم خلک هسې وايي

زه او ته يو وخت يو جانانه، خو راغلي نه يو
دلته مې روح نه شته تش تن يم، خلک هسې وايي

دوی وايي ښکلو يې رنګ سپين کړ، د مرګ کومې ته ځې
خو زه په ژوند د مرګ کفن يم خلک هسې وايي

که ګړګوتي زلفې دې شپې دي، ښکلې ياره نو بيا
زه سحر نه يم ماخوستن يم، خلک هسې وايي

علم ګل سحر

زه یم تږی، ته اوبه یې

ازادي راډيو ــ وزير اكبرخان مينه

۹/ ۵/ ۱۳۸۳

## د مينې داغ

ليرې! له ما ليرې! اوس له زړه نه مې وتلې يې
زه دا ستا له زلفو، ته له خياله مې لوېدلې يې

ما دې پرستش كاوه، زه دې وم پر روح مين
ماوې فرشته يې، ما وې ته ډېره سپېڅلې يې

ته د روحاني ميني په په قدر باندي پوه نه شوې
ځكــــــه د ســـــــــتايلو له مقامــــــــه پرېوتلې يې

پاک به كړم له زړه نه ستا د ميني داغ په اوښكو زه
ته د هوسونو يوه بل جهان ته تللې يې

زړه ته به دروغ وايمه، زر به دې ترې هېره کړم
وايم به سپوږمۍ شوې ته، آسمان ته بر ختلې يې

۱۲/ ۵/ ۱۳۸۳

سږکال

سږکال بيا هم حج ته ډېر کسان ولاړل
سږ کال غريبان نور هم ډېر شوي دي

۸ /۹ /۱۳۸۹ کابل– ارګ

د مور ياد

اوس چې کله ګرانه مور را یاده شي
سر مې د کوچنۍ لور پر ټټر کېږدم
او وژاړمه

۱۳۸٦/ ۳/ ۳
کابل– ښارندوی مینه

د اوبو په ائینه کې

اوس مې شعرونو ته الهام دا ستا له سترګو اخلم
د جبرائیل دخولې کلام دا ستا له سترګو اخلم

دا ستا له سترګو بهر وېښ یم لکه ستوری پاتې
درځم خوبونه نا تمام ، دا ستا له سترګو اخلم

دا ستا د ناز په توره مړ یم، سترګې خلاصې پاتې
چې په ځیر ګورم، انتقام دا ستا له سترګو اخلم

چې یو ځل وګورې په مینه، مینه، مینه ماته
ګلې! همدغه یو انعام دا ستا له سترګو اخلم

علم ګل سحر

په ائينه کې د اوبو دې تصوير ورک شو رانه
د مينې ژوند ته مې مرام دا ستا له سترګو اخلم

په يوه ورکه پسې وخت لټوم، نه يې مومم
کله سحر، کله مابنام داستا له سترګو اخلم

۹/ ۵ /۱۳۸۳
جنوبي سالنګ

ته اوسپوږمۍ

باسم دې له خياله، د زړګي په سر مې لکه يې
څومره نرۍ ستن يې، پرهرونو کې مې ورکه يې

زه دې حيران کړی په دوه لارې کې د مينې يم
کله د زقومو، کله کله د شات څکه يې

زه خو يو پښتون يم، زما مينه بارتري نه ده
ته خو له نازونو، اداګانو څخه ډکه يې

زه دې ښکلا نه ګورم، زه دې يم پر روح مين

ګوره چې خفه نه شې، ښکلې خو بې شکه یې

ته مې تنها بد لیکې، ښو ته مې دې پام نه دی
خیال کې مې پرکینه اوره ناسته، ملایکه یې

دا ښایي ستا کبر و، یابه ستا نازونه وو
اوس چې سپوږمۍ پورته ده او ته لاندې پر مځکه یې

۲۵/ ۴/ ۱۳۸۳
ځارندوی مېنه

یم کمزوری له تا لیرې ځم انسانه

اوس مې زړه د چا لپاره نه درزېږي
اوس د چا له غمه ویښ ټوله شپه نه یم

اوس د چا په انتظار کې ستړی نه یم
اوس ژړاوې راته مکر غوندې ښکاري

اوس مې زړه د چا ښکلا لړزوی نه شي
په کې ٍ(خو)له ډېره لیرې راته ښکاري

اوس بې غمه سترګې پټې کړم، ویده شم
تر سهاره هیڅوک نه راځي په خوب کي
+++

په ماڅه که دبلبلو اوښکې څاڅي
په ماڅه که مرغۍ ګرځي بې وزرو

په ما څه که میر د زانو یې وژلی
په ما څه که الوت نه شته د کوترو

له ښکاري سره اوس زه په یوه نظر یم
زرکې ښکلې نه دي، غوښې یې خوږې دي

زه خو ځمه، لنډې لارې لټومه

زما يې څه كه لارې شنې، كه تكې سرې دي

په ما څه كه له بوډۍ ده لاره وركه
په ما څه كه بوډا ولوېده په ځمكه

په ما څه كه يې امساء ترې اوړكو يوړه
څه خبر يم په چا ولوېدله ټكه

په ما څه كه د سوالګر كچكول لوېدلی
په ما څه كه رويو سپيو دی داړلی

احساسات دي رانه ليرې تښتېدلي
عواطف مې له خپل ذهن نه مينځلي

اوس غمونه مصنوعي راته ښكارېږي
اوپردۍ ټولې خوښي راته ښكارېږي

ښاپيريانې له ديوانو سره ناڅي
فرښتې ابليس ته وايي راته ګرانه

اوس په هيڅا اعتبار كولی نه شم

زه يم نوی راستون شوی له خپل ځانه

د افکارو په ځنګله کي لاره باسم
يم کمزوری، له تا ليرې ځم انسانه

اوس مې زړه لکه چې نه شته، خبر نه يم
او که وي، ټوټې ټوټې به چېرې پروت وي

تا يې وانه وريد اواوز د ماتېدلو
ستا وروستۍ خبرې دومره اثري وې

۲۴/ ۳/ ۱۳۸۴
کابل ــــ څارندوی مېنه

دلته به لمر نوره رڼا ونه کړي

دلته به لمر نوره رڼا ونه کړي

علم ګل سحر

لمر به له ټولو څخه مخ واړوي
باران به هیڅکله را ونه وري
چې بزغلي د میني وټوکوي
دلته به څوک مینه ونه کړي نوره
دلته به څوک په چا مین نه شي بیا
دلته به هر یو بل نه مخ اړوي
دلته به ښکلي وي
خو ښکلو ته به نه ګوري څوک
دلته به سترګې وي
خو سترګې به دښمن لټوي
دلته به دوه لاسونه هر یو لري

خو د یتیم په سر به نه تېرېږي
بس له کوترو به وزرونه باسي
زړونه به وي
بې زړه به هیڅوک نه وي
زړونه به ټول دا ستا د زړه غوندې وي
بس له کینې به ډک وي
مینه به نه پېژني
چا ته زموږ د مینی ونه وایې

تا خو نېکي او مينه دواړه يو وړل

۱/ ۱۰/ ۱۳۸۳

کابل ـــ وزيراکبر خان مينه

## نېکمرغي

ځينې ځومره بختور وي
چې ماښام سترې ستومانه
له کارونو راستانه شي
مور ولاړه دروازه کې
انتظار يې د راتلو کړي
زويه ! ډېره مې سودا وه
زويه! ښه شولې چې راغلې

دوی لانه پوهیږي وایي
څومره ستړی یم، خواشینی
چې د مور سیوری پرې خپور وي
نو ستړیا به شي له کومه
نیکمرغي خو وي همدغه
ژوند خو دا وي د دنیا

۱۳/ ۸/ ۱۳۸۳
کابل ــ څارندوی مېنه

## غـــــــزل

مالا خپل ځان ته ستا د تلو خبره نه ده کړې
ګلان ژوندي دي، لا وړمو خبره نه ده کړې

زه خو د میني یوه بله زمانه کې اوسم
ما د وصال، ما د بوسو خبره نه ده کړې

هسي نه ټوله دنیا کرکه شي، کینې خورې شي

علم ګل سحر

چاته مې ستا د ناکردو خبره نه ده کړې

ورته حيران يمه، باور يې اوس په مينه وکړم؟
لا خو يې ماته په پښتو خبره نه ده کړې

په تا هم ګرانې دي، زما غوندې ستا ښکلې سترګې؟
آينې ګورم، آيئنو خبره نه ده کړې

لمر لا هماغسي رڼا دی، تياره شوی نه دی
تا د انکار، تا د وعدو خبره نه ده کړې

۲۹/ ۸/ ۱۳۸۳
وزير اکبرخان مېنه
اوس دنيا بل ډول ده

اوس هغه تيره دنيا نه ده وروره
اوس دنيا بل ډول ده
اوس د يوه غوايي په ښکر باندې ولاړه نه ده
دعلم مټ باندې ولاړه ده اوس
او اوس يوازې سليمان نه دی(+)

اوس په ځمکه کې نور خلک هم اوسيږي
او آسمان يې هم پخپل منځ کې ويشلی
سليمانخيله لږ له خوبه رابيدار شه!!!

-----------------

(+)زموږ په سليمانخيلو کې اوس هم دا متل کيږي وايي( پاس آسمان، لاندې سليمان) دوی فکر کاوه يا يې ځينې اوس هم کوي چې په نړۍ کې يوازې دوې دي او تر ټولو زورور دي.

غزل

څو مره چې زه درته نږدې وم تا ونه پيژندم
يو عمر زړه کې او سيدې تا لا ونه پيژندم

زه څوک ومه؟ څنګه وم ؟ له کومه راغلم چیرته تلمه
زه وم یو خوب که نور ویده وو، چا ونه پیژندم

چې ما به نه غوښتل نړدې و راته پیژندم یې
چې زړه مې غوښتل هغو کله بیا ونه پیژندم

زه یم، هغه یم چې تا ستورو پسې ولیږلم
وی ، مخ یې واړاوو مغروري با ونه پیژندم

ما ویل ته به راشې ما سره به ما وژاړې
راغلې او ودې خندل ولاړې تا ونه پیژندم

۱ /۶ / ۱۳۸۶
کابل – ازادي راډیو

یاد

اوس ایله بیله له ځان سره بلد شوم

علم ګل سحر

چې له تانه را جلا شومه په خود شوم
اوس د وخت په تیریدو باندې پوهیږم
اوس له وخته سره سم ځمه په لاره
پخوا هرڅه را نه هیر و، ته مې یاد وې
اوس مې ژوند ته هم ور پام دی،
ژوند کومه
اوس مې ژبه د وختو نو ده زده کړې
اوس مې زړه کې ډیرې ښکلې اوسیدای شي
ته مې هم لاهیره نه یې، خپه نه شې
بس د نیمې شپې دخوب غوندې مې یاد یې
د حالاتو فیصلې هم عجیبه وي
دهیرشوي ما شومتوب غوندې مې یاد یې.

۱۳۸۵\۳\۱۱
ازادي راډیو

ستوري

زه په ستورو پسې ولاړم
چې امیل دې کړم پرې ښکلی
څو مره ډېر ستوري مې راوړل
خو چې راغلم ته بیا نه وې!

١٣٨٦\٥\١٢
لمرتلویزیون

غزل

ستا د ښکلا دخپلولو هیله هم نه لرم
د خپلو سترګو د ساتلو هیله هم نه لرم

په ویدو سترګو دې زمازړه لکه خوب وړی دی
اوس مې د ما ت زړه د ژغورلو هیله هم نه لرم

چې ته رانه شې، تیارې راشي، نا امیده شمه
د بل څراغ د بلولو هیله هم نه لرم

که بې مقصده هر څوک زړه راوړي نو زړه ورکوم
داسې هم نه ده صرف د ښکلو هیله هم نه لرم

درتلای هم نه شم، د ویلو جرات هم نه لرم
والله چې ستا د هیرولو هیله هم نه لرم

کمال

د انسان زړه ته دې لار نه کړه پیدا
په آسمان لاره اوښتل څه معنا

ورکه لار

زه له خپل ځانه پردی
د ورکې لار لاروی

په يوه ورکه پسې
دی سرګردان مې زړګی
هيڅ مې موندلي نه دي
څه چې مې ذهن کې دي
زه يوه ورکه ښکلا
کله په ځان کې ګورم
له ځانه ووځمه ژر
ښکلا جانان کې ګورم
هيڅ مې تسل ونه شي
په ټول جهان کې ګورم
يوڅرک ليدلې ښکلا
يوناليدلی درد دی
چې پرې دردمن داسې يم
پر ځان مې شک پيدا شي
لکه مين داسې يم

۱۳۸۷/ ۱۰/ ۱۲
کابل– وزير اکبرخان مينه

ژمی

لرګي مې ډېر اخيستي
لاندی مې هم کړی دی

ځان او اولاد ته مې وړینې جامې ډیرې کړې
بخارۍ تل ګرمه وي
که ژوند و، سږ ژمی به ګرم تیر شي
سږ کال به یخ په مخه هم رانه شي
خو څه فایده،
چې د کور خواته مې یوبل انسان له یخه ریږدي!!!

۱۳۸۷/ ۱۰/ ۱۴
کابل – څارندوی مینه

تیاره

سترګې دې، دې خواته راواړوه لږ
لاره تیاره ده،
چې تیندک ونه خورم،
ونه لویږم!!!

۱۳۸۷ /۱۰/ ۱۲
کابل – نوی ښار BBC

## د خپلواکي ځلي ته

ته يې زمونږ د عظمتونو ځلی
د سرشيندنو غيرتونو ځلی
مونږ په تا وياړو په تا فخر کوو
ته يې زمونږه د وياړونو ځلی
+ + +
ته د نيکونو د غيرت نښه يې
د افغانانو د عزت نښه يې
څومره په برم او په عظمت ولاړيې
ته مو د واک ته د حريت نښه يې
+ + +

ته چې اباد شوې، زمونږ د وياړ ځلی شوې

علم ګل سحر

له هغې ورځې موږ هم ودریدو
لکه چې ته مو وروستنی هدف وې
بس موږ خپل لوی مقصد ته ورسیدو
+ + +
ګوره خپه نه شې یوازې نه یې
دا موږ چې ګورې، موږه ټول څلی یو
دا دومره وخت موږه پر ځای ولاړ و
که لږ هم تللي یو په شا تللي یو
+ + +
چې ته آباد شوې زموږ د ویاړ لپاره
موږ له پخوا څخه نور هم مغرور شوو
پخوا خو ښه و، ګوزاره مو کیده
اوس چې مغرور شوو، لانور هم مجبور شوو
+ + +
نوره نړۍ ولاړه پخپله مخه
ځانته یې خپله یوه دنیا جوړه کړه
خو موږه تا غوندې ولاړ پاتې شوو
موږه تیاره، نورو رڼا جوړه کړه
+ + +

موږ چې تا ووینو نور هم مغرورشو

فکر کوو مورِ آتلان یو ربنتیا
اته اتیا کاله بس له تا راګرځو
مورِه سکه وایو چې ربنتیا روان یو
+ + +
هریو غاصب راشي زمورِ وطن ته
زمورِ سرونو څخه جوړ کړي ځلي
کلي ښارونه مو ویجاړ کړي راته
سیلاب وي مورِ ورسره یوسي خلي
+ + +
خپله مدعا چې سرته ورسوي
د خپل وطن په لوري دوی روان شي
مورِ وایو دادی بل قدرت مو مات کړ
اوس به مو بیرته وران وطن آباد شي
+ + +
بس یو دوه دری ځلي نور هم آباد کړو
وطن مو هغسې ړنګ بنګ پاتې شي
غاصب په روغو پښو ووځي رانه
راته میراث یې یو بل جنګ پاتې شي

۱۳ / ۱۰ / ۱۳۸۷
کابل

علم ګل سحر

## وسواس

د کور کلیانې رانه ورکې شولې
ډیر پسې وګرځیدم
خپل ټول جیبونه مې له سره بیرته وپلټل
پر هغه لاره بیرته درغلمه
دا ځل مې ستا پر ځای کلي څارلې
کلي ترې تمې شوې
د مني یخه شپه مې تیره کړه،
د لارې پر سر
دا هم ټول ستا له لاسه
چې وعده ځای پورې درتلم،
کور رانه هېر و،
ځان مې هېر و،
ته مې ذهن کې وې
ته مې هم ونه لیدې!!!

۱ /۱۰ / ۱۳۸۷
کابل ــــ خارندوی مینه

علم ګل سحر

## دوه زړی

چا ډبره لاس کې راکړه
نه پوهیږم
د رقیب په خوا یې وولم
که پرې زړه مې د یار مات کړم؟

۱۰ / ٦ / ۱۳۸٦

وزیر اکبرخان مینه

## زه او ته

زه لا وړوکی ومه

علم ګل سحر

او ته لا نه وې پیدا
زه به همزولو سره
ستاسې کوڅې ته راتلم
هر مازدیگر به انتظار وم تاته
له لوبو وروسته به همزولي ولاړل
ما به مابنامه پورې
د ستورو لار څارله
ما ویل ته به راشې
سپوږمۍ به راغله
ته به نه وې هلته
ما ته لیدلې نه وې
خو ستا په شان چا ته وم سترگې په لار
ماته د الستو شپوکې،
خدای ستا په شان،
حسن ښودلی و، خو
مابه موندلی نه شو
نو ته پوهیږې چې زه؟
لا ډیر پخوا مین وم
ښکلې په تا مین وم!!!

ازادي

موږ په خوله باندې ستايلې ازادي ده
بس له هرڅه راته ښکلې ازادي ده
موږ په وينو ازادي ده تل اخيستې
موږ په خوشي شي بايللې ازادي ده
يو دوه درې كسه مين په ازادي يو
دلته نور وايي چې ولې ازادي ده
موږ د خپلې ازادي آتل تكفير كړ
نه په ځان مو لورولې ازادي ده
زموږ برخه بې علمي، لوړه اوتنده
موږه نوروته ګټلې ازادي ده
موږ به څه د ازادي په قدر پوه شو
موږه كله لا ليدلې ازادي ده

۲۰ / ۵ / ۱۳۸۷–

## تشویش

په ښکلو سترګو دې ویریږمه ډیر
هسې زما اخلا ص ړنده نه کړي تا!!!

۱۳۸٦\٦\۱۴

## ځیر

سږ کال بیا هم ډیرې قربانۍ وشوې
سږکال بیا هم څوک د قرباني سترګو ته ځیر نه شول!!!

۱۳۹۰/ ۸/ ۱٦
کابل– خیرخانه مینه

## احتیاط

اوس هم له هغې کوڅې تیریږم
خو اوس ځمکې ته ګورمه او لویږم نه!!!

د ۲۰۱۲ کال د فبروري په شلمه نېټه د ستر نابغه خوشحال بابا د وفات په ۳۲۳ کلیزه کې د ګڼون لپاره پښتونخوا ته تللي وو، د خوشحال بابا پر مزار نامتوافغان لیکوال، شاعر او څېړونکي استاد حبیب الله رفیع پخپلو لنډو خبرو کې وویل(( خوشحال بابا ویلي دي: درست پښتون له کندهاره تر اټکه، سره یو د ننګ په کار پټ او اشکار. پښتانه سره یو دي او هیڅوک یې نه شي سره بیلولی)) خو ماته اوسني واقعیتونه څه بل ډول ښکاریدل. پښتانه اوس له یو بله ډیر لیرې راته ښکاري، د خوشحال بابا د مزار شاوخوا د پښتنو په سیمه کې چې کومې لیکنې او لوحې وې ټولې په بله ژبه وې او ماته ډیرې ناآشنا وې، مور د یوه بابا اولاده په ډیر زحمت یو دبل په ژبه سره پوهیدو. او دا چې زمونږ ځینې د جګړې بلا ته یو د بل کورونه ورښیي هم معلومه ده او داسې کسان به هم زمونږ په منځ کې وي چې پردې خوشحالیږي چې د نورو کورونه د جګړې په اور کې وسوځي.
په ذهن مې بیلابیلو کلماتو یرغل راوړ، چې کوټې ته راغلم د کاغذ پرمخ مې ولیکلې، دغه کرښې ترې جوړې شوې :

له کندزه تر رزمکه

(درست پښتون له کندهاره تر اټکه)
ته به وایې پرې لویدلې لویه ټکه

څه له خپله جهالته، څه اغيارو
ورته اور ده چې د دوی وه هغه ځمکه

پښتانه لا اوس هم نه دي راويښ شوي
تاته راغلم درته ژاړم بابا ځکه
نور دعلم په وزرو ستورو ته خيږي
ورته ګورو موږ له ميله د ټوپکه
پښتانه يو، د يو بل ژبه مو نه زده
لا نور هم سره بيل شوي يو ختکه
ډيورنډ دی داسې زبون راته وهلی
لکه ټولو باندې ناسته وي خپکه
د ځانمرګو دځوانمرګو کيسې عامې
پښتنو کې له کندزه تر رزمکه
جنګ دبل وي، موږ چتي کې وژل کيږو
اوس مو ګور ته مړي نه ځي له تلتکه
له هر جنګ وروسته چې مړي خپل حساب کړو
شمير يې ډير وي له ميليونه او له لکه
هره ورځ مو په کورو د وير نارې وي
څوک يتيم وي په چا بوره وي ادکه
اوس د سر سړی زموږ په منځ کې نشته

غرِ مو نه رسي د کلي تر ملکه
دينداري مو د ريا تر حده رسي
ډاروي مو هره شپه توره شيشکه
مورِه ډېر يو، ډېرې لارې مو نيولې
په دې منځ کې مورِه ستا لاره کړه ورکه
بابا لاس راکړه رڼا په لور مو بوځه
تررِمی ده د وتو لار رانه ورکه

انتظار

زه خو انتظار يم له مودو راسي
زړه کې يې که تير شومه، نو را به شي!!!
(...)
تا مې چې زړه مات کړ
په هغه ورځ مې
خدای شته له ځا ن سره ډېر څه ووېل!!!

**۱۳۸٦\٦\۱۰ لمر تلويزيون**

**دشپو طلسم**

**خلک شي حيران چې رڼا ويني**
**يو وار تررږمۍ کې بريښنا ويني**
**ذهن يې دشپو طلسم نيولی دی**
**نه يې شي باور چې سبا ويني**
**دلته خو رڼا رنګ له تيارو اخلي**
**خلک وار خطا شي چې دا ويني**
**خود به نو په مينه خپل باور بايلي**
**څوک چې له خپل ياره جفا ويني**
**دايې نو د مينې نښه نه ده څه؟**
**مخ واړوي بل خوا چې ما ويني**
**ورځ کې به يو شعر ډالۍ کوم درته**
**څوک دومره وزګار دي چې تا ويني**
**دا سحر کينو کې محبت غواړي**
**ژر به ددې جرم سزا ويني**

**27/3/1387 کابل ــ پښتونستان واټ**

## خـــــــه؟

خه؟

خه دې وويل ؟

وامې نه وريدل

خنګه ؟ خنګه ؟

ميـــــــــــــنه ؟

اوه

سترګې دې ښکلې دي

مينه راسره لرې ؟

نه نه کوڼ نه يم

هسې دا خبره لرِ خه...

ميـــــــــــــنـــــــــــــه ؟

ام ام ام ممم

مينه را سره لرې ؟

مننه ، خو ووووو!!!

۹ /۱۰ / ۱۳۸۵

علم ګل سحر

## ستا په لاس کې

چې دومره در نړدې وم، ما وې لمر به وي ستا لاس کې
په دې نو څه خبر وم چې خنجر به وي ستا لا س کې

په زړه کې مې یې ناسته، جنګ له تا سره مشکل دی
دا زړه به مې هم ستا وي، دا ځیګر به وي ستا لاس کې

په بلې به مین ومه، بې مېنې خو ژوند نه شي
ویریږمه په ټولو نجونو اثر به وي ستا لاس کې

په ځا ن باندې غلط وم، ډېر غره ومه، تیرو تی
په دې هم خبر نه وم چې زما سر به وي ستا لاس کې

دا زه چې مې د خپل زړه ټول داغونه له تا بولم
په زړونو جګ ولاړ اغزي اکثر به وي ستا لاس کې

یو وخت دومره مغرور شي د پاچا سلام وانخلي
خو کله شي وړوکی بس سحر به وي ستا لاس کې

۱۳۸۶\٦\۷

علم ګل سحر

## غزل

ډير مې لرې له نظره ياره نه يې
خير که ياد مې په سندره ياره نه يې

زه که ځان نه شړل شوی يم پرديس يم
ته هم خپل زړه نه خبره ياره نه يې

زه دې غم خپلو شعرونو سره ژاړم
ته به څه کړې چې شا عره يا ره نه يې

سپوږمۍ ښه ده تللی يار مې را په ياد کړي
پوي زما په خوی ته لمره ياره نه يې

هر سحر يې د مو بايل پيغا م را شي
چير ته ورک يې ته سحره ياره نه يې

علم ګل سحر

۱۳۸۵\۳\۲۳

وزیر اکبر خان مینه

ارزښت

زړه مې له ځا نه سره ړدم
چا ته یې نه ورکوم
ښا یې یو وخت کوم څوک پیدا شي
په قیمت یې پوه شي ,!!!

ډبرلیک

زما د قبر ډبرلیک
څومره په غور ګورې
غواړې معلومه یې کړې
زما د مړیني نیټه
چاته معلومه نه وه
زما د مړیني نیټه
ځکه لیکلې نه ده
زه خو هغه ورځ مړ شوم

علم ګل سحر

چې ته په مخه راغلې
را ته دې ونه کتل
او له بل چا سره دې ډیروخندل

۱۳۸۶\۶\۵ لمر تلویزیون

لاریون

پرون مې ذ هن کې افکا رو مظا هره کړ ې وه
چې و لې ما ستا په ستا یلو عجله کړې وه

ذهن یې لوټ کړ ستا عکسو نو ته یې اور وا چاوه
نړدې یې زما په لا شعور با ندې حمله کړې وه

اوس لږ پوهیږمه چې ما هم اشتباه کړې وه
ما په شعرونوکې رښتیا مبا لغه کړې وه

په هغه ځمکه تر سهاره چې اورونه بل وو
هلته مې رو ح هسې ستا حسن ته سجده کړې وه

بیګا مې خوب لید ستا له غمه مړ وم، نه پوهیدم
بیګا مې ستا نا مه د خپل قبر لوحه کړې وه

مخا مخ ښه و، پسې شا به یې خبر ې کړلې

ما له دې ځينو سره څو مره حو صله  کړې وه

زيا تي ترې ځمه خو تر اوسه پورې پوه نه يمه
ما له دې خلکو سره څه وړ ګو زا ره کړې وه

۱۳۸۵\۳\۱۳
ازادي راډيو

## غميزه

چې زړه مې نه غواړي
نږدې راشي
تر څنګ مې کيني
خو هغه چاپسې ،
چې زړه مې چوي
رانه ډير ليرې ولاړ شي
تبنتي رانه!!!

۱۳۸٦/ ٦/ ۴

لمر ټلویزیون

خوبولي

راځه کینه دشعرونو ویل پریږده
دا ویده قام هیڅوک نه شي ویښولی
ستا ځواني مې نه لوریږي ګرانه کینه
په دې لاره کې دی ډیرو سر خوړلی
ددوی دوست دی چې یې دوی دي ټول وژلي
دغه قوم همیشه مغل ستا یلی
د خوشحال بابا خبرې در په زړه کړه
دغه قوم همیشه خپل ورور وژلی
چې د دوی د رهبري تکل یې کړی
دغو خلکو یې اول سر دی وهلی
دوی خوشحال دي چې جرس یې ولجه کړی
اوبش یې بار سره له کوره بیرته تللی

علم ګل سحر

که ویده وای زما په چیغو به راویښ و
یا دي مړه یا يې په خوب ځان اړولی!!!

۱۳۸۷ / ۷ / ۵
څارندوی مینه

## د اوښکو ملغلرې

زه در نه بیل شوم خو خبرو یاره پرې نه ښودې — تا څه
ویل خو چا تر خپله واره پرې نه ښودې

پرون مې ټولې پخپل لا س جانانه ړنګې کړلې
دخپل پل نښې مې هم ستا په لاره پرې نه ښودې

ته لکه زه یوا زې خوښ وې خو قسمت ته ګو ره
تر تا چاپیر شول، دې ګلونو خاره پرې نه ښودې

ما مې د اوښکو ملغلرې در لیږلې خوتا
زموږتر منځه تر اومړي تاره پرې نه ښودې

علم ګل سحر

تا د ټيکري پيڅه کې ټولې خوښي غوټه يووړې
يوڅو شيبې دې هم زما لپاره پرې نه ښودې

۱۳۸۵\۳\۱۲
رشاد کره کتنه

د مينې قرباني

ما مې له زړه سره دستګو اختيار تاته درکړ
بيا مې د چا په لوري ونه کتل
شونډو مې ستا د نامه ذکر کاوو
ما وې دې ښار کې بس يوازې ته يې
د چا مې نه اوريدل
د اوريدلو حس مې تا وړی و
ما د ارمان ګلونه ،

ټول ستا په لار وشيندل

تا مې د زړه پر سر چاړه تيره کړه
ما يې پروا ونه کړه
ځکه هغه مې اول ستا ګڼلو
ارمان مې تاته قرباني کړ داسې

لکه سير لی چې په اختر حلال کړي
خو چې صراط پله نه تيره شوې ته
بيا دې را و نه کتل
زه شوم لمبوته پاتې
تورو تيارو ته پاتې
د اور له کومي نه فرياد کومه
غواړم دا ستا له سترګو وپوښتم دا
که شونډې نه وي سترګې ووايي دا:
قرباني دې ته ، مينه دې ته وا يـــــــــــــــــــــــــــــــــــي!!!

۲۵ /۹ /۱۳۸۴
کابل – درشاد کره کتنې غونډه

## غرور

ځومره ساده ،
ځومره په ځان مغرور وم
له خپل جانانه سره جنګ ته ولاړم
زه له خپل ځانه سره جنګ ته ولاړم
زه په پښتو، توره او سپر نازېدم
ما به ویل
که توره ماته شي سپر کار ورنه کړي
زما پښتو ماته قوت راکوي
خو زه خبر نه ومه
د هغې سترګو کې دا درې واړه و!!!

علم ګل سحر

۱۳۸۷ / ۵ / ۲۳
کابل – لمر ټلویزیون

## غزل

ګونګوسې وې چې سحر جومات ته نه ځي
دا څو ورځې سر په سر جومات ته نه ځي

په ملا باندې شکمن دی لمونځ تنها کړي
سهار ښه وي مازدیګر جومات ته نه ځي

ځینې ځینې په صفا زړه عبادت کړي
خو یو شمیر بې له رهبر جومات ته نه ځي

چا د مینې کړکۍ بندې د جومات کړي
ورته ګوره ژیړی لمر جومات ته نه ځي

نن یې ښکلو ته کتلې دومره نه دي
بیړه نه لري، او ژر جومات ته نه ځي

۱۳۸۹/ ۴/ ۱۴

کابل– خیرخانه مینه

## د اور له ستوني

په وينو لژند
لور د شپې لاسو کې
په ډېره بيړه بيړه ژبې
ريبي
سترګو ته ګوابش
د نه کتلو کوی
اود سندريژې لمبې
د شعر وزرونه سوځي
د اور له ستوني نه
فرياد کومه
څوک د لاسونو خاوند شته
او

علم ګل سحر

که

نه ؟

**۱۳۷۶/۴/۲۶**

**زرمت ــ پکتیا**

## غزل

وخت و، چې مينه مې کوله او ژوندی ومه زه
د چا په مينه کې له خپل ځانه پردی ومه زه

هغه مې خپل وجود ګڼله، چې ترې ليرې به وم
نو هغه وخت به مکمل نه وم، نيمی ومه زه

دې به هم زه په جاينماز له ذکره نه پرېښودم
زه يې په کار وم، زه يې خپل ومه زړګی ومه زه

زما په لټه به يې سترګې غړولې داسې
تا به ويل چې په ايرو کې پټ غمی ومه زه

کله چې زه يې ضرورته څخه ولويدمه


زه یم تږی، ته اوبه یې

زه يې کړم مات، زه يې ګوزار کړمه بنګړی ومه زه

ما به د بدو په بدل کې تل نيکي کوله
اخير پښتون وم، پکتياوال وم، زرمتی ومه زه

۱۱ /۴ / ۱۳۸۴
**کابل – څارندوی مينه**

**مينه**

يوه پيغله چې بې حده ښايسته وه
له سيند ها خوا د ځنګله منځ کې ديره وه
لوړه ونه زرغونې سترګې يې ښکلې
په ليدو يې ښاپيرۍ در يادولې
خرمايي زلفې يې مخ باندې خورې وې
او نرۍ شونډې يې بې له رنګه سرې وې
ددې پيغلې هيڅ کمی د ښکلا نه و
خدای ورکړی يو له مينې نه ډک زړه و
+++
يوه ورځ يو زلمی ښکار پسې وتلی

علم ګل سحر

په راتلو راتلو تر سیند پورې وتلی
چې شو سترې د یو کور خواته دیره شو
د قسمت کار و، د دې پیغلې میلمه شو
په لومړي لیدو یې زړه و، پرې بایللی
د نجلۍ ښکلا اغیز و، خپل شیندلی
نجلۍ هم شوله مېینه پردې ځوان
د زلمي ښایست پردۍ کړه له خپل ځان
په رڼا مینځلې دې ښکلې نجلۍ
هم پردی کړ دا ښکاري له دې نړۍ
د نجلۍ مینې له ژونده لاس پر سر کړ
خپل له مینې ډک زړګی یې دې ته ور کړ
ځینې پاتې د دنیا کار و روزګار شو
بس مین شو نه دکور اونه د ښکار شو
ته به وایې له ازله پرې مین و
لوی مقصد یې هر ماښام ددې دیدن و
د دې دواړو ترمنځ لوی سیند را روان و
تیریدل ترې تیر له وسه د انسان و
خو د مینې په زور دا ځوان هر ماښام
تیریده لهستره سینده په ارام
د اوبو زور د ده مینې ته ډیر کم و
معشوقه به یې لیده نور یې څه غم و

د سیلاب منځ کې به تیر شو په اسانه
ده به هیڅکله پروا نه کړه د ځانه
یو ماښام یې ددې سترګو ته کتل
سم له واره یې نجلۍ نه وپوښتل:
–ستا په سترګو کې دا داغ شو بیا له کومه؟
دغه(خو) ماته هیڅ نه وه را معلومه
پیغلې وویل ځواب کې ورته داسې
نن احتیاط کوه چې ځې له ما نه هسې
نه چې یوسي نن اوبه تا د دریاب
ځوان حیران شو د نجلۍ پر دې ځواب
ترې یې بیا د داغ خبره و پوښتله
د نجلۍ وینا یې بابیزه ګڼله
پیغلې وې : دا ستا ځواب و، د خبرې
ته د مینې له قانونه لاړې لیرې
ته چې هر ماښام له سینده تیریدلې
خپل قوت نه و، زما مینې تیرولې
ستا په مینه کې کمی نه و، تر اوسه
چې قوت دې له اوبو زیات یو په لسه
دغه داغ مې و، په سترګو کې پخوا
ته مین وې، ورته پام نه و داستا
اوس چې مینه کې راغلی دې خلل دی

خدای دې خیر کړي، شک دې مینې سره مل دی
نن چې ته له دغه لوی سینده تیریږې
احتیاط کړه ګرانه ګرداب کې ونه لویږي

+++

دغه ځوان چې له نجلۍ څخه روان شو
زړه نازړه دې خپلې ویرې ته حیران شو
سیک یې نه درلود په زړه کې دومره زیات
په لوی سیند باندې ورګډ شو په احتیاط
د لوی سیند تر نیمایي و، رسیدلی
د اوبو څپو په غیږ کې و، نیولی
په لږ وخت کې د اوبو څپو کړ لاندې
لکه ماتې کړي باد لښتې تاندې

+++

څه پر ځای د پښتنو دغه متل دی
ویل شوی هم تر دې پیښې اول دی
که له یاره سره مینه او یاري کړې
په اخلاص به ورسره د زړه دوستي کړې
هیڅ نظر یې مه لره ته په عیبو
ډیر پخوا داسې ویلي پښتنو

۱۳۸۷/ ۱۰/ ۸
کابل – څارندوی مینه

علم ګل سحر

پښتو متل:

له يار سره ياري لره

په عيبو يې نظر مه لره

## خو ته مې ونه ليدې

ستا مستانه خندا مې غوږ ته راغله

ښه ورته غوږ شوم ،

ماته بل ډول وه

ستا د پښو ښکالو مې هم واوريده

زما په لوري را روانه شولې

بيا دې زما لاس پخپل لاس کې ونيو

ظالمې ډير دې ټينګ کړ

زه مې د لاس په درد ونه پوهيدم

څه خو دې ووې ،

ما هيڅ وانه وريدل

بيرته روانه شولې،

علم ګل سحر

ولاړې رانه

ما سترګې و موښلې
خو ته مې ونه ليدې!!!

۱۳۸۵/ ۳/ ۹
وزير اکبرخان مينه
ازادي راډيو

تپــــيزې

چې ته شې ولاړه غم مې ډير سي
زلميتوب دې تشويش کې تير سي
دغه يوغم رانه چاپير سي
عمر چې تير سي اشنا هير سي
ستا دې قسم وي چې ما هير نه کړې مينه

+ + +

پس له الله مې ستا ثنا کړه
ځواني مې مينه کې تالا کړه
يمه رنځور ته مې شفا کړه
اوس مې د عمر تاوان راکړه
نرۍ نرۍ خندا دې کړه رنځور دې کړمه

+ + +

زما دې بيا تبه اوږده کړه

تا چې په بل ديار کې شپه کړه
ګلې بل واري داسې مه کړه
ديدن دې دومره فايده وکړه
لکه رنځور چې په لکړه پورته شينه
+ + +

خدای پاماني سخته شيبه ده
د بدمرغيو دروازه ده
خوښي د ژوند يوه شيبه ده
ديدن د بادو پيمانه ده
نه به پرې موړ شې نه به وتږې بارونه
+ + +
خيال کې مجلس مې د اشنا که
مرور يار مې را پخلا که
د مينې لوی مقام خدای راکه
په انديښنو مې ځان پاچا که
سر مې را پورته که، ملنګ ددنيا ومه
+ + +
خوشحالي ولاړه، غم يې يارشي
د رنځو منځ کې را ايسار شي
بس د اغزو پر سر يې لار شي

چې پاک الله ورته په قار شي
نصيب يې خوار شي په ورکړې مين شينه

+ + +

### انديښنه

خدای دې خير کړي له جنګه خلک راغلل
تورټوپک يې دي له څنګه خلک راغلل

هسې نه بيا خونړی انقلاب راشي
زمونږ چم ته څو بدرنګه خلک راغلل

د ډيوې له څنګه غلی غوندې تير شه
عشق ګناه بولي پتنګه خلک راغلل

فتح خانه د بړيڅو غرږ ورک شوی
سررا هسک کړه له پالنګه خلک راغلل

**يوه ورځ به په وطن دا ناره وشي؟**
**تورې پاکې کړئ له زنګه خلک راغلل**

## ورتې

**څومره ډېر راسره خاندې**
**څومره ډېرو سره خاندم**
**له سهاره تر ماښامه**
**له بې شميرو سره خاندم**
**هسې ځان خوشحاله بولم**
**له ملګرو سره خاندم**
**ته به وايې هيڅ غم نشته**
**له خبرو سره خاندم**
**زما زړه کې چې کوم غم دی**
**چاته کله معلومېږي**
**دوی خو ټول راسره خاندې**
**زما په درد کله پوهيږي**
**نور مې ورتې کيږی خندا نه**

علم ګل سحر

زړه مې تنګ دی له جهانه
چې په مخه مې را نه شې
نور مې بد ایسې جانانه
ما وې ته به زړه ته راشې
ما به ما سره وژاړې
چې په زړه کې دې ځای ومونډ
تا هم وخندل او ولاړې!!!

۹ /۷ / ۱۳۸٦ کابل – څارندوی مینه

## درواغ

زه لکه نور خلک ،
درو غ وایم رښتیا نه وایم
وایم اوس مینه نه کړم
اوس د احساس په خوښه نه ځم چیرته
اوس رانه هیره یې ته
اوس دې هیڅ نه یادوم
هسې د خلکو له خبرو څخه ځان ساتمه
داټول دروغ دي

ته مې هيره نه يې
اوس هم خپل نوم سره ستا نوم ليکمه!!!

۲۲ /۳ /۲۰۰۹
هندوستان – ممبی
پريل – کمال بلډينګ

نا اميدي

د پسرلي نرى باران اوريږي
مرغان خوشحاله دي، ټوپونه وهي
خو د قفس مرغۍ هيڅ نه ورګوري.

۲۸ /۱ /۱۳۸۸
کابل – پښتونستان واټ

غرمه

د توت تر ونې لاندې يخې شړومبې
او خوږ مجلس له څو يارانو سره
غرمه د اوړي، تر سپرلي هم ښه وي!!!

۱۶ /۳ /۲۰۰۹
هندوستان – نوی ډهلی

گبنې

سږ کال مې هيڅ ډوډۍ مزه نه کوي
سږکال دلاندې غوښه بل ډول ده
سږکال وطن کې يتيمان ډير شوي
سږکال مې هيڅ له زړه ساړه نه وځي
تل په وجود مې گبنې گډه وي
چې د پلو گوله تر خولې ور وړمه
سترگو ته راشي مهاجر ماشومان
د اور لمبو باندې چې ځان تودوم
زړه ته مې راشي د وطن يتيمان
دبنگلې خواته مو ختين كورونه

کورونه نه دي تش کوډلي ښکاري
پرما يې څه د هرچا خپل قسمت دی
د بل لپاره راته فکر
ډېر عجيب ښکارېږي
زه مې خپل ژوند کومه
خو دغه يو آواز مې تل ځوروي
چې غيبانه راباندې وشي اورم
وايي چې حج دې قبول شوی نه دی!!!

۱۳۹۰/ ۱۰/ ۱۱

نوم

شونډه دې ولې په غاښ ټينګه کړله
لکه چې ستا هم په ما خوا بديږي
ما مې مړوند باندې ستا نوم ليکلو
هسې لږ وينې ولاړې
ليونی دا خو دومره درد نه کوي
ما په نازک زړه ،
تردې سخت ،
ستا ښکلی نوم ليکلی!!!

احسان

شعره د احسان دې پور وړی یم
تاته لکه مور ته خپل غم وژاړم

۹ /٦ /۱۳۸۳

لا هم څارمه ستا لارې

نو اول دې ولې نه وې
چې زه هغه تصویر نه یم
چې دې تل و، په خیالو کې
ستا دذهن په پردو کې
چې له ذهن نه دې ورک و
نو اول دې ولې نه وې

چې زه هغه تعبیر نه یم

چې به و، ستا په خیالو کې

چې یې روح و، بندي کړی

د یو خیال په زولنو کې

نو اول دې ولې نه وې

چې زه هغه کوکۍ نه یم

چې نیوه دې په لاسو کې

ستا د کلي په ډنډو کې

د شوتلو په لوو کې

د ګلانو په باغچو کې

نو اول دې ولې نه ویل

زه هغه ښاپیرۍ نه یم

چې لیده دې په نکلو کې

ماشومتوب په دنیاګۍ کې

درسره به وه په غرو کې

نو اول دې ولې نه ویل

چې زه هغه سپوږمۍ نه یم

چې لیده دې په اوبو کې

شمار دې ستورو به دې پرېښود

د سپوږمۍ په ننداړو کې

+++

علم ګل سحر

زه لا هغسې ماشوم یم
د خپل خوب تعبیر مې غواړم
چیرته خړو اوبو وړی
رانه ورک تصویر مې غواړم
اوس هم ستا لارې څارمه
وایم نن سبا به راشې
زما مینه به دې یاد شي
بیرته مینه به زما شې

غزل

ستا غنم رنګه څیره بل رنګ ښیی
هینداره هیڅکله رښتیا نه وایي

ټول بې معنا لګیا له ځانه ګډ دي
څوک مې ونه لید چې له تا نه وایي

څراغ یې لګي تر سهاره دلته
څوک ناروا ته ناروا نه وایي

علم ګل سحر

څو زورور مو په سرو ولاړ دي
خو ورته هيڅ زموږ پاچا نه وايي

خلکو ترې جوړې څه خبرې کړلې
سحر دې نوم هم اوس په غلا نه وايي

۱۸ / ۷/ ۱۳۸۷
کابل – څارندوی مينه

ژوند

پوهيږم
پخپلې کوچنۍ لور مې زه هم همدومره ګران يم
لکه دا چې پرما ګرانه ده

خومابنام چې کورته راشم
غیږې ته مې نه راځي
)ښکلا )ډيره هوښياره ده
هغه پوهيږي
چې ژوند څومره بې وفا دی
شايد يومابنام زه هم کورته رانه شم!!!

۱۳۸۸/ ۱/ ۲۳
کابل ـــ څارندوی مینه

دیوال

زموږ ترمنځه
د زمان دیوال هسک شو
هغه يې سیوري ته کیناسته!!!

منی

علم گل سحر

ژوند تېر بې ته اوبه نېي

د مني په سړه شپه مې
ترسپيده چاوده په وترو اوبه ولګولې
د سهار خواته په پوله خوب يوووړم
پر مخ مې ګرم لاس حس کړ
اه ما ويل د مور لاس دی
راويښ شوم
لمر راختلی و!!!

۱۳۸۱/ ۸/ ۱۷

پکتيا ــ زرمت ،اسلام خيل

دهيواد ځوان شاعر اوليکوال ګيلانوال د شعر په ځواب کې

غمونه

غمونه زښته ډېر دي
اول نو کوم يو درته ووايمه
وطن مې اور کې سوځي
زړونو کې کرکې شنې دي
اوه ، هغه دی بيا يې مکتب وسوځاوو
زموږه خپلو خلکو
وايی مکتب کې درس د کفر وايي
اه هغه دی بيا تورې چورلکې راغلې
هغه دی بيا له کلي دود پورته شو
بيا په واده باندې بمبارد شوی دی
بيا يوه ناوې د واده جامو کې ګور ته درومي
وايي چې بيا ځانمرګی برید شوی دی
يو بهرنی ټپي دی
زموږ پنځه ويشت شهيدان شول پکې
خلکو له سره شروع کړی
جنګ د خپل ځان پرضد
زموږه خلکو بيا دا پريکړه کړې
چې ترهغو ديوه بل خبره هيڅ وانه وري
څو يې لندن او واشنګټن دواړه نيولي نه وي

علم ګل سحر

مرګ هره ورځ ماته په مخه راځي
غمونه زښته ډیر دي
زه به نو کوم يو درته ووايمه
غمونه ډيردي
خو زه هم ورته يوازې نه يم
اوس ډير ملګري لرم
مورې اراده د ژوند کولو لرو
مورې زړه کې مينه لرو
مورې غواړو وکرو په زړو کې مينه
مورې له خپل وطنه کرکې باسو!

## د تخييل کوڅو کې

لفظونو دغزلو کې صنمه رانه پټه شي
زه پسې ستومانه دا بې غمه رانه پټه شي
زه د تخييل کوڅو کې سترې پسې ګرځمه
دا له غره را کوزه شي په سمه رانه پټه شي
وريځې د هجران په شنه آسمان کې را څرګندې شي
ښکلې شي سپوږمۍ په څوارلسمه رانه پټه شي

علم ګل سحر

انسان يمه ناقص يمه سوالونه شي پيدا راته
دخداى(ج) د قدرت هاخواته مريمه رانه پټه شي
فکر د باروتو دوړمو لارې کنډوې کړې
ښکلا د سرو غوټيو له شبنمه رانه پټه شي
دلته تورتمونه دي رڼا د سحر نه راځي
تورو شپو کې ورکه شي او شمه رانه پټه شي

۸ /۴ /۱۳۷۹
پکتيا،زرمت ،اسلام خيل

## تللى انځور

ځومره نړدې و،
ځومره ليرې شوو له يوبل څخه
ځومره پردى- شوې رانه

علم ګل سحر

اوس مې د ژوند له هرې برخې بیله شوې یې ته
اوس مې له خیال څخه ډیر لیرې ستا انځور تللی دی
اوس له ګلونو څخه ستا پوښتنه نه کومه
اوس له بلبلو څخه هم کومه ګیله نه لرم
چې په سندرو کې دې نوم نه اخلي
اوس رانه ډیره لیرې شوې یې ته
اوس مې د ژوند له هرې برخې بیله شوې یې ته !!!

۵ /۲ /۱۳۸۷
کابل – دوهمه ناحیه

## نالیدلې

ډیر وختونه کیږي،
چې لټوم یې
هغه مې لا نه ده لیدلې
دا څوک ده؟
چې زما خوبونه یې ورسره وړي دي
دا څوک ده؟
چې ما د ځان په لوري ور بولي

هغه مې لا نه ده ليدلې
کله چې د هغې په خير بله وينم
په زړه مې ګبنۍ ګډه شي
هغه مې لا نه ده ليدلې
خو سترګو يې،
زما زړه کلابند کړی دی
دا څوک ده؟
هغه مې لا نه ده ليدلې
کيدای شي هيڅ يې ونه وينم
زموږ ترمنځ د زمان ديوال ولاړ وي!!!

۱۳۸٦/ ۳/ ۲
کابل – څارندوی مينه

وخت

مادوخت ګريوان ته دواړه لاس وراچولي دي
ولې دومره ژر تير شو
زه لا پرې خبر نه وم!!!

خدای پاماني

علم ګل سحر

د ژوندون سخته شيبه خداى پاماني ده
د سره اور يوه لمبه خداى پاماني ده

يو ناڅاپه يې د تللو شيبه راســــــــــــــــي
يوناڅاپه وايي ځه  خداى پاماني ده

تګ ديار، تګ د اولاد، تګ د دوستانو
په زړه ګڼه کړي لړزه خداى پاماني ده

ټول ژوندون د ساړه ژمي مازديګر دى
او د ژمي اوږده شپه خداى پاماني ده

ژوند يوخوب و، څومره ژر تير شو دنيا کې
بس څو ورځې وم ميلمه خداى پاماني ده

ويده موسکا

چې مو په شونډو کې ويده موسکا راويښه نه شي

علم ګل سحر

له موږه تللې او خپه رڼا راویښه نه شي
سترګې مو باسي او په خوله زموږ مهرونه وهي
چې په شپېلۍ کې د ژوندون نوا راویښه نه شي
د جادوګرو ښامارانو د ښکلا زړه راکاږي
له کومې خوا به د موسی(ع) امسا راویښه نه شي
جېلوانه! ورو زولنې اچوه لاسو ته زما
چې په شرنګي یې دا ویده دنیا راویښه نه شي
یوه شېبه د خوشالۍ ده نغمې وروغږوئ
دم غنیمت دی څو شېبې ژړا راویښه نه شي
تتي رڼا ته د سپوږمۍ یې پټ دېدن کومه
په زړه کې خدای، خدای یادوم چې دا راویښه نه شي

۱۳۷۹\۸\۱۰
زرمت — اسلام
خیل

## د رڼا په لټه

ځان مو ونه لید د هیندارو له بازاره راغلو
ړانده هم نه وو، بې امساء په دغه لاره راغلو

عجیب وطن و، د مرګ خولې ته به کتار ولاړ وو
نوبت راونه رسېد، موږ له سر د داره راغلو

مینې! اوس تا ته هم وزګار نه یو د ژوند له ترخو
هسې ساده وو، دې دنیا ته ستا له پاره راغلو

وایي ژوندی دی ها د ښکلو ښاپیریو وطن
دوي څه خبر دي موږ پرون یې له مزاره راغلو

دلته مو هم تېکه ونه شوه د ماښام کلي کې
بس د رڼا په لټه موږ له سپین سهاره راغلو

۱۳۷۸\٦\۹
پېښور

## دبنګو کودی

ګل د ورږمو په اسویلي پسي ځي
ګودر مو ترږی په منګي پسي ځي

پروسږ مورږ نه مرور تللی دی
د کلي پېغلې په سپرلي پسي ځي

دا کلیوال زمورږه چا پوه کړي
چې نه رهبر نه لیوني پسي ځي

یا د ډومانو مړو راورسیږئ
کني سندرې په مرګي پسي ځي

د خم له څنګه خو یې څوک نه پرېږدي
شاعر د بنګو په کودي پسي ځي

نور خیره خیره په پېسو پسي ولاړ
سحر د مینې په ټولي پسي ځي

۱۳۷۹\۸\۵
زرمت – رحمانخېل

سیوري

دومره نږدې چې ستا په لوري نه یو
ته خو سپوږمۍ یې خو موږ ستوري نه یو
لکه سپرلی په کال کې یو ځل راځې
موږ څه ښکلا نه خو خواتوري نه یو
سپرلی له څنګه ورې سپومۍ له غیږې
وخته نو دومره خو کمزوري نه یو
اصل غمي وو، خو ایرو زاړه کړو
چې په پیزوان د ښکلو پورې نه یو
زړه مو درکړی تا منلی نه دی
بیرته یې نه غواړو سر زوري نه یو
لا به هم ښکلو ته بې قدره وو، موږ
ښه دی چې موږ د غزل توري نه یو
داسې ناخوالو ته موږ چوپ پاتې یو
پر ځان شکي شو د چا سیوري نه یو

۱۳۷۹ کال د لړم اوومه نیټه
زرمت– اسلام خیل

د باد پر اوږو

د خپلو لاس تړلي د پردو لا سونه سره دي
کوربه په خوب ویده د میلمنو لا سونه سره دي

اوس دلته بهارونو له خزانه رنګ اخیستی
زموږ د بڼ په وینو د ورږمو لا سونه سره دي

په دې ویجاړ مالت کې به هوښیار څنګه پاتیږي
څو مړي پکې ګرځي د ژوندو لا سونه سره دي

کاروان د تاریکیو لار کې ډلې ډلې ګرځي
په وینو د رڼا د تورو شپو لا سونه سره دي

د باد پر اوږو ناست دی ډیوې بلې دلته غواړي
د کرکې تخم شیندي د هغو لا سونه سره دي

پر نورو به رڼا کړي لمر، خو دلته پساتونه
زموږ په سحرونو د غرمو لا سونه سره دي

۱۳۷۷ کال د لړم څلورمه غزني – شیلګر

**خاطره**

**دا څو کلونه مې یومخ هیره وې**
**هیڅ مې په یاد هم نه وې**
**څومره چې لیرې رانه تللې وې ته**
**له ډیرو غرونو وطنونو ها خوا**
**څومره چې ته لیرې وې**
**هومره دې یاد پردی شو**
**خو:**
**پرون مې بیا دوه سترګې ولیدلې**
**اوس مې په زړه باندې نری درد ګډ دی!!!**

علم ګل سحر

## پاچا

پاچا ور غوښتی يمه
زه د ماڼۍ په دروازه کې انتظار ولاړ يم
پاچا هم ستا غوندي دی ،
وخت نه لري
پاچا ويلي چې لږ وروسته ور شم
کټ مټ همداسې لکه ستا روح مې چې غواړي هميش
خو ته مې نه در غواړې
څکه تر اوسه انتظار پا تې يم
پاچا عادل دی پاچا ډير زړه سواند دی
پاچا د پوځ بمباري کې ټپي شوې نجلۍ
پۀ ټنډه ښکل کړي،

ورسره وژاړي
پاچا د ټولو په درد ښه پو هيږي

خو څه کولی نه شي
پاچا عادل دی پاچا ډیر زړه سواند دی
خو پاچا غواړي په ما ظلم وکړي
پاچا ویل نور دلته ما سره ما نۍ کې اوسه
بس پاچاهي چلوه
پاچا لګیا دی یو په بل پسې خبرې کوي
او له ما نه پوښتي چې،
زه ورته ووایم دا..
پاچا هي تخت مې په کار نه دی
ما دې له خپله یاره نه جلا کوینه
پاچا دلوی ظلم تکل کړی دی
غواړي له تا مې بیل کړي
خو پاچا ګرم هم نه دی
هغه نو څه پوهیږي
چې پاچا هي زما دا ستا لیدل دي
پاچا لګیا دی یو په بل پسې خبرې کوي

په ما خولې را ماتې
ورته ویلای نه شم:
چې که د سر امن وي

علم ګل سحر

یوه خبره کوم
که زه دا ستا ما نيۍ ته را شم، نوبیا
هره ورځ زه نو کله
دچا خوبوړې سترګې نه شم لیدای
پاچا لګیا دی یو په بل پسې خبرې کوي
په ما خو لې را ما تې
ورته ویلای نه شم
کټ مټ همدا سې لکه تاته
چې ویلای نه شم
در سره مینه لرم
در سره مینه لرم

کابل ، ارګ
۱۳۸٦\۵\۲۹

مینه هم ژاړي

سپرلی د ګلو په ماتم ژاړي
سپوږ مۍ په ستوري تري تم ژاړي

راويشتی کانی دې ژړېږي راته
ما سره ستا د جفا غم ژاړي
بنګړي د قبر ګواهي ورکوي
که وېنه ژاړي مېنه ژاړي
ديوانو خوب، مينه خندا ترې غلا کړ
نن ښاپيرۍ مو د حرم ژاړي
پلار يې د جنګ تورو تيارو اخيستی
يتېم ماښامه سره سم ژاړي
تاسي مظلومه غوټۍ ونه ليده
لوټ پيغلتوب ته يې شبنم ژاړي
له ډېره وخته په ارمان د دستار
د صابرشاه ملنګ غنم ژاړي
نه شي ليکلی د وختو نادودي
ځکه کاغذ ته مې قلم ژاړي
لمبې د حسن پري درنې شوي که څه
چې تر سحره پورې شم ژاړي

۱۳۷۷\۱۲\۱۷ کابل

د اوښکو شبنم

ساده زړګی مې دې نفرت جهان کې مينې غواړي

سوالګر ماشوم دی، د کابل ښار کې غلميني غواړي

نغمې په ورو کړئ، ډيوې مړې کړئ چې مو ونه ويني
حالات له موږه زړونه تور او جامې سپيني غواړي

لاسونه مات، دعا يې نه رسي تر عرشه پورې
هغه چې شپې رڼا رڼا ورځې وړانګيني غواړي

د وطن غلو يمه نيولی، د سرو شونډو په غلا
د ښار قاضي رانه خبرې بيا رښتني غواړي

زموږ د ښار شاړي کوڅې به څنګه شي، سمسوري
موږه په ګلو، دوی په وينو يې رنګيني غواړي

دا چې په ګلو هر سحر شبنم د اوښکو اوري
دلته په زړونو کې لاکرکي ځينې ځيني غواړي

کابل ۱۳۷۸\۱۲\۲۸

**د هينداري تاوان**

**ستاد ښکلا د کلي اوړکو پرون**
**د هغو دوو، غونډيو شاته پټ پټانی کاوو**
**زما د زړه هينداره ماته کړه په لوبو کې دوې**
**زما او ستا له دعوې ورروسته،**
**اوس د دواړو کليو،**
**دوو مخورو داسې پرېکړه کړې:**
**چې د ښيښې د ماتيدلو تاوان**
**ته بايد ماته راکړې.**
**يوازې بيا ليدل دي!!!**

**۱۳۷۸\۱\۱۹ پکتيا – زرمت**

**مقتل**

کله په سرو کله په تورو اوړو

شوو کاغذونه تش په تورو اوړو

اودس په وینو کړو مقتل ته به ځو

د ژوند په لار کې په سرزورو اوړو

رڼا یې غواړو په رڼا پسې ځو

موږه په وریځو ګورو ګورو اوړو

د پیغلتوب فصل دې جل وهلی

موږه به کله په سمسورو اوړو

موږ ملنګان شوو د زیارت د لنګر

په سپیرو زلفو شونډو سپورو اوړو

لمر مو په شا د سحر کلی ته ځو

بېرته په شپو بېرته په سیورو اوړو

۱۹۹۹\۴\۱۰        پیښور – پښتونخوا

مینځلي رڼا

زه یې وینم،

ته یې وینې،

هلته لرې،

ددې لوی غره په لمن کې

په چېنه د اوښکو ناسته،
هغه ښکلې ته یې وینې؟
پاکوي له اننگو نه،

د شهیدو سپرلو وینې

د سپوږمۍ په چېنه مینځې،

خپلې زلفې هغه ښکلې

له خورو زلفو پرتیو
راروان دي رانه څاڅکي
او د اوښکو آئینه کې

جوړوي اوربل په مینه

زه یې اورم،

ته یې اورې؟

په دې شپو په دې تیارو کې
د مینځلي رڼا چېڅې
اوس به راشي
اوس به راشي !!!

۱۳۷۱\۱۱\۵
کابل– جمال مینه

د بنو ګوتو کې

زړه مې د عشق په مقام شپې تېروي
ګوره چې څومره په پام شپې تېروي
زما د زړه د څانګې سپینه مرغۍ
نن ستا د سترګو په بام شپې تیروي
نظر د ښکلو د بنو ګوتو کې
لکه بادار او غلام شپې تېروي
د مینې تږی دی د وخت پر پانه
زما نیمګړی کلام شپې تېروي
د لوی ښامار خوله کې دلال رڼا ته
د شعر پرې په ناکام شپې تېروي
ځان مې له ځانه تښتي نه راګرځي
د اننګیو په جام شپې تېروي
ترابي یو وړه کل اندامه قاف ته
په دښتو غرو کې بهرام شپې تېروې
د قافلې پوښتنه چا ونه کړه
رهبر خو ډېر په ارام شپې تېروي
لکه اصحاب د کهف ورځ نه ویني
زما د خوب وړي قام شپې تېروي
سحر به دې مالت ته ځنګه راشي
پکې د وینو ماښام شپې تېروي

**هغه شخصيت ته چې د قدرت په وخت کې يې د چا زړه ازار نه کړ، پخواني پاچا اعليحضرت محمد ظاهر شاه ته!**

**له تا وروسته**

**ولاړې وطن نه چې بابا هغه وخت**
**لکه چې بخت کړه موړته شا هغه وخت**
**ستا له رعيته يوهم پاتې نه شو**
**ځکه چې هر يو شو پاچا هغه وخت**

**+++**

**بابا چې ته له وطن تلې هغه وخت**
**زموږه برخې شوې سپيرې هغه وخت**
**له نيکه ګانو پاتې شوې توري**
**موږه يو بل ته کړې تيرې هغه وخت**

**+++**

**يو مسلمان بل مو ملحد وګانه**
**يو کمونيست بل مجاهد وګانه**
**چې په وژلو کې و، تير تر نورو**
**بس نو هغه به مو قايد وګانه**

+++

او رهبران پښپله مخکې ولاړل
زمونږ په وینو یې مانۍ جوړې کړې
دوې خو له سره هرڅه بیرته وران کړل
له جوړو سنیو یې وړۍ جوړې کړې
+++
تا چې ارام راته ساتلی و ملک
دوی خپل وطن مونږ ته سور اور کړ بابا
وطن یې ور کړ د پردیو په لاس
مونږ ته دښمن یې زمونږ ورور کړ بابا
+++
سپیره جونګړه وه، خو ژوند د مینې
دوی خو هغه هم راته ورانه کړله
چې ستا په وخت کې ناحق تویې نه شوه
دوې د انسان وینه ارزانه کړله
+++
اوس یې زمونږ له سرو وباسه ته
بابا سرو کې مو میخونه خښ دي
مینه له مونږ څخه اوس هیره بابا
او په ذهنو کې نفرتونه خښ دي

## د شعر سیورى

زما د شعر سترڀ اروا،
په اسمانو کې ګرځي
لکه غاټول ښکلا ته لاس غځوي
د ښنو پل یې وربځي نه پټوي
د خداى(ج) د عشق په اسمانو کې سرګردانه،
لالهانده ګرځي
هلته یوه شېبه قرار نه لري
زه یې په ځمکه باندې وینم
لالهانده سیورى

چې خپله
ورکه غواړي،

اسم اغظم لټوي!!!

۱۳۷۷\۱\۱۲

پېښور– د بي بي سي دفتر

غوايان او انسانان

غويي يې راوست قرباني ته
چې حلال يې کړي د ځان لپاره
غويي حيران ولاړ دی
يوځل قصاب بيا بل غوايي ته ګوري
غوايي د بل غوايي څرمنه بوي کړه
هغه غويي تر ده دمخه بل قصاب حلال کړ
غوايي څرمنې ته په ځير وکتل
بيا په سوچو کې ډوب شو
ده د انسان غوندې دا ونه ويل
چې د غوايي څرمنه څه رنګه ده
زموږ له سيمې څخه دی او که نه؟
غوايي سر وخوځاوو
يوځل څرمنې بيا انسان ته يې په ځير وکتل
څه يې په وس کې نه و
د بې وسۍ اوښکې يې توی کړې
او چاړه په لاس انسان ته يې حيران وکتل!!!

۱۳۷۸ د لوی اختر لومړۍ ورځ کابل– څارندوی مينه

## د پیکي تار

چې يې راکړه د هنر د پري پته
د دنيا دولت مې وواهه يه لته
ستا جمال سپوږمۍ د وريځو بنديوان کړه
د لمر رنګ ګوره چې ژير شو له حسرته
د نظر سيورى مې رنګ د پيکي لور ته
دا يې زده کړل ستا د خال له امامته
ومه څاڅکى د شبنم پر اننګو ستا
د غرمو لمرونو پري نه ښودم ښکته
يم هيرجن چې دا وعده مې هيره نه شي
د پيکي تار دې راوتړه تر ګوته
د ځواني فصل مې لو د ولور غم کړ
سپينه خوله دې وه، زما تر ژوند قيمته
ورور له ورور او زوى له پلار سره دښمن کړي
لري لري ځکه ګرځم له سياسته
سحر مينه او ښکلا پکې ليدله
چې په شعر پسي راغلى له زرمته

۱۳۷۹\۱\۱۰

د راډیو افغانستان تالار

(ځمکه فسادنیولې)

تائیزه (۱)نڅاکوي، خوشاله ښکاري
او په شرابوباندې مست لېونیان
له هرې خوا ورته په مینه ګوري
تائیزه نڅا کوي خوشاله ښکاري
او په خپل لاس مانۍ ته اور اچوي
سکندر خاندي
ننداره یې کوي
غږ یې له لېرې اورو:
ـــــ پرېږدئ مانۍ وسوځي...
او د اوبو پرځای پرې واین شیندي
نورو هم چیغې کړلې
په مشالونویې مانۍ لمبه کړه
پارمینو(۲) چیغې وهي:
مه یې سوځئ
مه یې سوځئ
خو سکندر یې
نارې چېرته
اوري

پخپله چيغې وهي:

لمبې، لمبې، لمبې ژوندۍ دې وي لمبې

مانۍ په اور کې سوځي

دا د پيريو هستي

(بس ټوله ځمکه لوی فساد نيولې )(۳)

د څو شيبوپه مستي

له تورو خاوروسره ګډه شوله

+++

تائيزه نڅا کوي خوشاله ښکاري

اوپه شرابو باندې مست ليونيان

په مينه مينه ورته ګوري خاندي

مانۍ په اور کې سوځي.

۱۳۷۱/۱۱/۲۴

کابل – څارندوی مېنه

=====================

(۱)د سکندر معشوقه

(۲)پارمينو د سکندر د جګړې لوی او نږدې ملګری و، چې بيا سکندر د فيلوتاس له وژلو وروسته هغه په اکباتانا کې وواژه.

(۳)( ځمکه  فساد نیولې ) دغه جمله سکندر په خپل قلم پارمینو ته لیکلې وه، د خپلو تروریستو ملګروپه وسیله یې هغه ته ولېږله او هغه یې ددې جملې له لوستلو سره جوخت وواژه.

شبنم او ګلاب

سترګې دې نه راواړولې د ثواب لپاره
زما د سترې زخمي زړه د اضطراب لپاره

خال دې په څومره ښکلي ښار کې سلطنت جوړ کړی
ستوري ولاړ دي په پیره د دې جناب لپاره

زما د زړه په وران کابل کې دې نوره څه پرېښودل
هر څه تالا کړل، تا تري یووړل د پنجاب لپاره

د وختو ورېي مو په وینو ماړه شوي نه دي
اوس مو له تنه زړونه باسي د کباب لپاره

اوبه شوي وچې، وچکالي شوه، ویني زیاتې شولې
موږه سپرلي کړل قرباني د انقلاب لپاره

زما د اوښکو په ليدو دې اننګي تازه شي
شبنم په هر سحر کې ښه وي د ګلاب لپاره

۱۳۷۹\۱\۱۰
کابل، تايمني واټ

ورکه ښکلا

شپه ده کونګ چېغې وهي
په خپل آواز کې پېغامونه ليږي
د تاريکيو ويرونکی پېغام
کلی چوپتيا کې ډوب دی
او د وحشي باد د آسانو
تر کرکجنو پښو لاندې،

ايله ساه وباسي

ټپوسان غره کې په خوبو کې
زموږ د ښار د واټ د پاسه، جسدونه ويني
اوس له چا خواست وکړمه؟
چې دغه مړي خښ کړي
يو شو قابيل بل هابيل

او یوه مور د خپل شهید زوی سرته ناسته ده،

پرې ساندې وایي

دا لارویان وګوره،

په څومره ببړه درومي

یو نیم له ځان سره موسکی غوندې شي

لکه چې هر یو وي قاتل د هغه

او داسې څوک نشته چې مړي خښ کړي

ځمکه تمامه ښکاري

داسې کوم ځای نشته،

چې مړو باندې خاورې واوړي!!!

+++

زما بې وسه سیوری

سم له ماښامه سره

رانه جدا شو هغه

زړه مې له ویرې ډک دی

زما بې هیلي سیوری

ښایې دی هم تللی وي

په هغه ورکه پسې

چې زه هم ګرځم پسې

زه مې په ورکه پسې راغلم د ماښام کلي ته

له ما يې سترګې، ژبه دواړه یوړل

د شپې شیطان مې په مرۍ باندې چاړه ایښې ده
سیوری مې هم ورک شوی
اوس به له چا پوښتمه
ای د رڼا استازو!
له دې تیارې نه د وتلو چل مو زده دی که نه؟
او د رڼا د کلي لاره تاسې وینئ که نه؟
—یه.....
نو زه په کومه لاړ شم
بس یوه هیله لرم
ماته ټوپک خو را کړئ
ټوپک...؟ نه ټوپک نه کرکه لرم
ټوپک له مانه زما سیوري بیل کړ
ټوپک مې سترګې ژبه دواړه یوړل
ټوپک ښکلا او مینه دواړه غلا کړل
نو یوه هیله لرم
ما ته قلم خو راکړئ
چې د ژوندون په سپین کاغذ
د (نه) په توري چلیپا وکاږم
ستوری هم(نه) راخېژي
رڼا هم (نه) راځي زموږ کلي ته
ښکلا ځان (نه) راښیئ

غوټۍ هم (نه) غوړېږي
ښکلو هم (نه) وویل
نو زه په کومه ولاړ شم
ماته زما د سیوري پته راکړئ

+++

کارغان د ژمي او د شپې د اوږدیدلو وایي
بڼ د سحر په امید شپې تیروي
پرخې د شپې ګوتو کې چیغې وهي
ګلان ویده دي، پري خپسي ناستي
نرګس په خوب کې،
د سحر وږمو ته چیغې وهي
خو د وږمو لارې په وینو سرې دي
د ښکلا سیورى په لمبو کې ورک شو

+++

اى د سپوږمۍ پرماتم ناستو خلکو
تر څو به ژاړو په ورک شوي مړي
څو به حیران ګورو د ستورو جنګ ته
راځئ چې خپله وینه ورکړو وړیا
راځئ چې سیوري کړو د ځان ملګري
سترګو کې زړې د رڼا وکړو
راځئ چې ورکه ښکلا بیا راولو

اوښکې پرې ورکړو او خندا راولو
راځئ بدل کړو دا باروت په رانجو
دغه دود جن بڼ ته هوا راولو

۱۳۷۶\۵\۲۸ کابل- څارندوی مېنه

جل وهلې څانګې

پرېږده چې وکړي څه دمه د دیواله سیوري ته
زما د سوي زړه ناره د دیواله سیوري ته
زه یې په سترګو کې د خپل امید خوبونه وینم
ښکلې د ناز په خوب ویده د دیواله سیوري ته
ته دې احساس سره په مینه کې ریښتنې نه وې
شونډو دې نه کړه بهانه د دیواله سیوري ته
ستا د ښو څوکو کې ژاړې د وصال ارمان مې
وزر یې مات توتکۍ مړه د دیواله سیوري ته
زما د هیلو د ګلانو څانګې جل وهلې
عمر مې تیره کړه غرمه د دیواله سیوري ته
پرون په مینه کې د لوبو کړه مرغیو ماته
د مار د سترګو ائینه د دیواله سیوري ته
رباب څړیږي په دارونو نغمه لاس تر زنې
بنګړو ته شرنګ ورکړه راځه د دیواله سیوري ته
سحره هغه د سپوږمۍ د څانګې شنه غوټۍ شوه

چې تا به هره ورځ لیده د دیواله سیوري ته

پکتیا، د زرملې ولسوالي

لجرومه

نجلۍ په بیره شوه له خوبه ویښه
وخت ورنه تیر و،
او کسات یې له ګړۍ واخیستو
ګړۍ یې ماته کړه په قهر سره
په ډېر تلوار په خپل سینګار لګیا شوه
نجلۍ لګیا ده ائینې سره خبرې کوي:
زه څه رنده شومه چې خوب مې کاوو
اوس به یې ماته دواړه سترګې انتظار پاتې وي
زړه کې به بیا زما د سترګو،
د رنجو ښکلی انځور جوړوي
ځکه هغه د رنجو مینه لري
خدایزده پر ما مین دی،
او که په تورو سترګو؟؟
په ما هم ګران دي رانجه
ځکه هغه ورسره مینه لري
نجلۍ لګیا ده خپل رانجه لټوي
خو دا خبره نه وه،

لجرومه غلو وړي وه!!!

۱۳۷۸\۳\۷ کابل

## خپلواک+ ته

کلونه پس مې په زرمت کې شپې شوې
راته ترخې په خپل مالت کې شپې شوې
خپلواکه نه شې خپه سوري ټټر ته
زما دوزخ ستا په جنت کې شپې شوې

۱۳۷۱\٦\۲ زرمت – اسلام خیل

+در محمد خپلواک زما شاعر ملګرى چې د ۱۳۷۱ لمريز کال په خونړيو پيښو کې شهيد شو.

## د سیلۍ شپېو کې

له ګل نه پته د سپرلي ورکه ده
ګلان ړانده، کانړه شول
نه یې ښکالو د پسرلي واوریده
او نه یې ولیدي وږمي د سحر
هسي په پرخو باندې وغولیدل
دلته د واورو په موسم کې، په یخنیو کې راوټوکیدل
+++
بڼوال یخني ځوروي
او په سړه سینه لګیا دی بخارۍ پسي ګلان اچوي
ځان له یخنۍ نه ژغوري
له بخارۍ نه سره ، زرغون او تور دودونه خیږي
غواړي بامونو باندې هسک کړي،
یو د هیلو بیرغ
خو د سیلۍ شیبو کې،
بیرغ شي قتل د ځوانۍ موسم کې
بڼوال لګیا دی بخارۍ پسې ګلان اچوي!!

۱۳۷۸\۳\۵ کابل

## د لمر ژړی

یو ستوری د ښکلا و، د سپوږمۍ له ځنګه تیر شو
سپرلی رانه خپه شو، د غوټۍ له ځنګه تیر شو
زما ستومانه ژوند چې یې په سیورې کې دیره و
یو وهم د مرګي، د بوربوکۍ له ځنګه تیر شو
له سترګو یې رانجه وړل، له لاسو ځخه نکریزې
یو دیو و، چې د ښکلې ښاپیرۍ له ځنګه تیر شو
زما زخمي احساس خو لاس تر زنې ورته ناست و
یو سیوری و، په شپه کې د نجلۍ له ځنګه تیر شو
زما وړي نظر دې، اننګو کې ځای ونه موند
د ښار ماشوم سوالګر و، د ډوډۍ له ځنګه تیر شو
زما ساده کلام یې په سندرو بدل کړی
له شونډو یې رنګ واخیست د خولګۍ له ځنګه تیر شو
له شپو ځخه راکډه شوو، له شپو سره مو شپې شوي
زموږ سترې سحر د لمر د ژړۍ له ځنګه تیر شو

غبرګولی ۱۳۷۸ کابل ښارندوی مېنه

## شهيد ته

دا ستا وروستۍ سلګۍ مې تل ځوروي
او ما يوه شيبه ارام نه پرېږدي
ستا ديتيمو ماشومانو
ويرلړلې څېرې
دا ستا بې شميره ارمانونه،
ځوانيمرګې هيلې
او په خوبو کې دې خوشحاله اروا
زما په زړه کې دغه هوډ ته لا قوت ورکوي
چې نورې وينې اوښکې تويې نه شي
نو،
انتقام دې اخيستلی نه شم!!!

۱۹ /۱۰ /۱۳۷۸
پاکستان– کراچۍ ښار

علم ګل سحر

## د مینې ګلان

زړه به اخېر ستا کړې وعدې له یاده وباسي
شونډو ته دې وایه، چې ګیلې له یاده وباسي

چا د کرکې تخم د افغان زړه کې شیندلی دی
هغه ذهن غواړو چې جګړې له یاده وباسي

لاس له وینو مېنځې، خو ځیره دې بدلیدای نه شي
څوک به د کابل ورانې کوڅې له یاده وباسي

خنګه یې په زوره د ښامار له خولې نه لال واخیست
تیر تاریخ به خنګه دا شملې له یاده وباسي

علم ګل سحر

شعر د سحر زړه کې یې د مینې ګلان وکرل
ما به رقیب خنګه د هغې له یاده وباسي

۱۳۷۸\۳\۱۸
زرمت– اسلام خیل

(ب)

ما د جومات سبق له (ب) پیل کړ
ملا الف او ما به (ب) ویله
ملا به بیا څپېړه راکړه په غوصه بې ووې:
خبیثه ووایه (الف) وروسته (ب)
ما به ژړا کې ب، ب، ب ویله
ملا به شنې لښتې راوغوښتلې
اوس به په زور درنه (ب) هیره کړمه
ما په سرو سترګو بې زربا ویله

بابا مې بوتلم روحاني بابا ته+
چې رانه (ب) هېره کړي
ډېرې (خوردې) يې په ما وخوړلې
ما د ډومانو د زيارت + کنده کې
د (ب) شغلې وليدې

ما ته د (ب) سپيڅلتوب
تورو تيارو کې لوی ولي راوښود
او (ب) مې هيره نه شوه
(ب) مې په خوله کې وه تل
چا به ويل پرې کوم اثر شوی دی
ځينو ويل:
ماښام ناوخته کنډوالو کې پرې پيريان کينستي
دا (ب) پيريان ورښيي
بيا يې د شنو سرو تاويزونو امېل جوړ کړ ماته
خو مور مې نه منله
ويل يې زوی مې نظر شوی چېرته
چا ځوانېمرګي دي پرې کوډې کړې
يو موتی اوړه يې له کندو واخيستل
په بـــسم الله به يې ورو ورو د تورو شنو سترګو نظر ماتاوو

زما د تور پټکي په وله به يې،

شين تار وټومبه

مور پوهېدله،

چې د چا د بادامي سترګو د ياد بزغلی

مې دی
د ذهن کرونده کې ټوکېدلی داسې
چې به مې (ب) د هرې مينې پيلامه بلله
(ب) مې د ژوند بدله
(ب) د الله(ج) د سپين کتاب پيل دی
(ب) بغاوت دی له بې مينې ژونده
(ب) د شنو بنګو د دانو نشه ده
(ب) د بلبلو د سندرو سېپارو کې لومړنی توری دی
(ب) د بهار وږمه ده
او
(ب) ښکالو د باران
(ب) د ښکګريو شرنګا
(ب) سپين سحر کې له منبره د بلال آواز دی
(ب) د بيبيانو تقوا

(ب) تقدس دی د بقري د سورې
(ب) د سليمان (ع) له خوا بلقيس ته بابتوتکي په لاس
د سندرېز پيغام د پيل توری

(ب) ده زمورِ دودجن ماحول ته،
د کوترو د بلنې آواز
چې په وزرو د کرکې تور لوګي جارو کړي دلته
(ب) يې د ښکلي نوم لومړی توری دی
ها جادوګره د ښکلا ښاپيرۍ
بېګاه مې خوب کې ليده
که خدای کول ستوري به رواړي،
د تېکري پېڅه کې
ډېره موده وشوه چې تللې رانه
له مورِ خپه خوب وړی بخت به راوړي
او د سپيڅلي اسم اعظم په قوت
ها په قمار کې تللی تخت به راوړي
بېګاه يې بيا د راتلو لوظ کړی
سبا له لمره سره ېو ځای راځي!!!

+ روحاني بابا: د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ د غومبر خولی د غره په ډډه کې مشهور زیارت چې هر کال د هېواد له بېلابیلو ولایتونو او ګاونډیو هېوادو څخه زیارت کوونکي ورته راځۍ.
+د زرملي په ولسوالۍ کې زیارت دی چې ناروغان یې په لاندینۍ سپرغه کې شپه تیروي دغه راز د طالبانو عنعنوي مېله هم هر کال په همدې زیارت جوړیدله.

ګلونه او جانان

ستا که شونډې او پیزوان سره نړدي دي
ستا احساس زما ارمان سره نړدي دي

مخ سحر، شونډې غرمه، زلفي ماښام دي
سپرلی، اوړی او خزان سره نړدي دي

دا سپوږمۍ خو ستا ابرو غونډې ښکاريږي
څومره ځمکه او آسمان سره نړدي دي

د یوه وجود، دوه غړي لر او بر دي
پېښور او بدخشان سره نړدي دي

ددې ملک د ښاپیریو پت ته خیر کړې

تور ديوان او شېطانان سره نږدي دي

زه چې ستا يمه ګلونه په شعرو کې
دا په دي چې له جانان سره نږدي دي

تلاوت يې هر سحر په اوداسه کړم
ستا جمال او سپين قرآن سره نږدي دي

٢٠٠٠\٣\٢ پېښور – د بي بي سي دفتر
د طاووس بڼکه

ستا په وفا باندې شکمن دی خپله ورکه غواړي
د زرو قدر په زرګر وي، خپل زړه ځکه غواړي

(د مينې دې مقام ته څه نوم ورکولی شي څوک؟)
ماشومه وينو کې لمبيږي خو نانځکه غواړي

زه تلاوت باندې لګيا يم، خو سر زوری ماشوم
پاڼو د قران کې د طاووس ښکلې بڼکه غواړي

بس نور يې خوله کې د سپرلي ښکلي ګلونه کري
زما ملت بې مرګي ذهن له ټوپکه غواړي

ساقي په نيم ګوټ يې غمونه کميدی کله شي
زما زړګی (غني) شاعر دی پیاله ډکه غواړي

لار د (خوشحال) باندې روان دی له چا ډار نه لري
په ټولو ښکلو کې له تا بوه مچکه غواړي

د ۱۳۷۸د غبرګولی ۹نېټه
کابل ځارندوی مېنه

بابا ته

بابا مورِ ستا لاره بيا وپالـــله
مورِه هم ستا پرلاره پل ايښی دی
مورِه هم ووتو جنته ځنې
په دغه فرق چې

علم ګل سحر

تا غنم وخوړل، جنت نه ولاړې
مورِ ستا د اولاد له ظلمه تنګ شوو
په غنم پسې دوزخ ته ولاړو
او اوس دوزخ کې په یوه ګوله مړۍ پسې
ستومانه ګرځو!!!

پاکستان ،کراچی، کلفټن ۱۴۲۰ هجري قمري د اختر دریمه ورځ

د ښو سیورې

څنګه چې ورِمې له سرو ګلونو سره لوبې کړي
داسې دغه ښکلې مو له زړونو سره لوبې کړي

څومره لالهانده اننګو کې دې، زما نظر
لکه چې مین شاعر ویینو سره لوبې کړي

زما د مینې خیال ستا د ښو سیورې ته خوب کوي

يانې د کوترو له وزرونو سره لوبې کړي

څومره تفاوت دی مينه پالو، وينه پالو کې
مورږ دا ستا له زلفو، دوی سرونو سره لوبې کړي

سور دی د ټپې په وينو هر تار د رباب زمورږ
دلته د لاسو خاوند، له وينو سره لوبې کړي

ستا په تصور کې مې په وينښه رنګين خوب ليده
بيا سحر ماشوم وي او له نجونو سره لوبې کړي

۱۳۷۸پکتيا —زرمت

پته

سترګې مې ستا په لاره وکرلې
په وينو اوښکو اوبولې مي تل
دواړه لاسونه مې په مينه اوبدل
تري مې کړی جوړه کړه
دا ستا د زړه د دروازې لپاره
پري پسرلي او خزانونه تېر شول
خو رانه پته د لاسو ورکه شوه
اوس دې له ډېرو کلو وروسته،

د راتللو اورم

وه ښکلې! و درېږه
یو ځلي شاته ګوره
در نه تپوس کومه
زما په مینه اوبدل شوي لاس دي ونه لیدل؟
هغه چې ستا د زړګي وره ته ترې کړۍ جوړې وې!!!

۱۳۷۸\۴\۱۲زرمت
– پکتیا

تعبیر

په ژوندون باندې مې لوبې کړي تقدیر
د خوبونو مې غلط وځي تعبیر
ستا سرې شونډې به مې اور په زړګي بل کړي
پکې وبه سوځي ستا ښکلی تصویر

کراچۍ – پاکستان۶\۱\۲۰۰۰

زما ګران شاعر ملګري ومان نیازي ته

ومان ته!

ومانه زه او ته په څه وړ زمانه کې اوسو

یوه د مینې خبر چانه اوریدلی نه شو
کرکې زور شوې دي، کینې خورې دي
د زړه حال هیچا ته ویلی نه شو

+++

راځه د شعر په مینه ناکه ژبه
دې زمانې ته څه خبرې زده کړو
چې ترې خلاصی نه لرو، تل یې اورو
راځه مرمیو ټوپکونوته سندرې زده کړو

+++

ومان سوکه راته په غوږ کې وایي:
–زمانه قران وهلې ژوند نه غواړي(۱)
کوم چا پرې داسې بدې کوډې کړې
که ژوند کوي هم، پکې خوند نه غواړي

+++

دا یو څراغ درسره واخله ورشه(۲)
چې ته راځې نو به سهار وي دلته
وګوره داسې څوک به هم پیدا کړې
چې له نفرت څخه بیزار وي دلته؟

+++

**ومانه داسې خو نو هم نه کيږي**
**دومره تياروکې د يوه څراغ رڼا ته کينو**
**سهار به راشي شپه به هم تيره شي**
**په دغه تمه بس سبا ته کينو**

+++

**ومانه دوې خو څراغ نه لګوي**
**راځه د مينې يوه رڼا خوره کړو**
**راځه دې شنه يخ کې سپوږمۍ ته ووځو**
**هره خوا هيله او ښکلا خوره کړو**

+++

**چې په اخلاص ترې لا سنيوی وکړو موږ**
**پير د شعرونو پسرلی خو لرو(۳)**
**خير که اوس يو مهاجر ورڅخه**
**د مينې کلي کې کورګی خو لرو**

+++

**ها د غزل کاروان به راشي اخير(۴)**
**چې زه او ته يې هميش لارې ګورو**

**موږ د ښکلا په هیله ژوند تیرو**

**چې هر سحر مخ د هینداري ګورو**

**۳ /۹ /۱۳۷۹ کابل – د پوهنې وزارت**

---

(۱) د زیارت تر سرلیک لاندې د ومان صاحب مشهور شعر ته اشاره ده چې څو بیتونه یې داسې دي:

د باورونو عقیدو خالقه ------ قرآن وهلې زمانه کې اوسو

ښته حیا راته دریږي له تا---- تیندک خوړلې زمانه کې اوسو

(۲) دا څراغ درسره واخله د ښاغلي ومان نیازي د شعرونو لومړنۍ ټولګه ده، چې ددغه شعر د لیکلو په وخت کې لا خپره شوې نه وه. دغه بیت په لږ بدلون سره دغې مجموعې ته اشاره ده.

(۳) زموږ د زمانې لوی انسان استاد محمد صدیق پسرلی، چې وجود یې ډیرو ستړو زړونو ته سکون ورکوي.

(۴) د هیواد نامتو شاعر او لیکوال پیرمحمد کاروان چې ددغه شعر د لیکلو په وخت کې په پیښور کې اوسیده او کابل ته یې د راتلو آوازې زموږ په زړونو خوشحالۍ ویشلې .

د پیغلتوب خوب

زه دې خوب د پیغلتوب وم
چې په نیمه شپه کې راغلم
او دا ستا د لیلایي حسن مېلمه شوم
د شعرونو په وزرونو،
ستا د زړه تل کې دیره شوم
هلته نوي ټوکېدلي،
سره ګلان د پاکې مینې
هر پاڼه باندې لیک و
ښکلی نوم زموږ د مینې
تا دروغ ویل احساس ته
او د سپورو د یوالونه،
دې ګلانو باندې جوړ کړل
زه دې خوب د پیغلتوب وم
چې په نېمه شپه کې راغلم
تا دروغ ویل احساس ته،
یا مې پوه په تعبیر نه شوې!!!

۱۳۷۷\۵\۸زرمت – پکتیا

## د پاریال خوبونه

یم ستومانه بل دیارکې ستا شین خال په خوب کې وینم
چېرته خړو اوبو وړی، هغه لال په خوب کې وینم

بېګاه شپه مې ستا له غمه بیا د چرسو چلم ډک کړ
د زړې کلا له بامه زري شال په خوب کې وینم

له دوبۍ تر هندوستانه مې هم ستا ولور پوره نه کړ
د پنجاب ګرمېو وسوم، تېر مهال په خوب کې وینم

آبا تېر نه بوړی کوز کړي، د خوبسۍ ډزونه وکړي
ستا یې مالګه وي راوړې، شین دسمال په خوب کې وینم

لاس دې سره وي په نکرېزو، په پېکي دي دړۍ پورې
چې مې سترګې سره ورشي بس پاریال په خوب کې وینم

چې وېده شم راشي کېنې توتکۍ اروا مې سر ته
رانه ژوند د مینې غوارې هسي خیال په خوب کې وینم

ژوند نشه دی، که یو خوب دی که د مینې ازموینه

علم ګل سحر

مودې وشي بې ځوابه دا يو سوال په خوب کې وينم

...د تاريخ په آئينه

ماران د زلفو دې په مخ دانه وانه پراته دي
که ښکلې خاوره د افغان کې بېګانه پراته دي

په زلفو ورو ورو يې راکاږه چې زخمي يې نه کړې
زما د مينې ارمانونه په شانه پراته دي

د مينې لارې به رڼا کړي مشالونو په څېر
دواړه لاسونه مې نن ستا چې په سينه پراته دي

هوا په لړو د باروتو اوبو رنګ بايللى
د وېنو څاڅکي په غزل، په ترانه پراته دي

وياړ يې په څه بولې چې وينې د انسان يې توي کړي
دي خړ کرڅونه د تاريخ په آئينه پراته دي

علم ګل سحر

دا څو زورګېر چې د سرونو په غونډۍ ولاړ دي
دي، تور داغونه چې زموږ په زمانه پراته دي

سحره دغه څو شتمن په چا زړه سوی نه لري
څو ښاماران دي، چې په لویه خزانه پراته دي

د ۱۳۷۹ د زمري میاشت زرمت – نواب خیل

غزل

مسرۍ مو د غزل له ښاپیریو نه زده کړې
له ژوند سره مو مینه اننګیو نه زده کړې

پوهېږو ښکلې سترګې به مو اور په زړګي بل کړي
د مینې قرباني مو توتکیو نه زده کړې

بس تیرې شي ورېمې په مړاوو ګلو نظر نه کړي
نخرې به یې وي، ګوندي له جنکیو نه زده کړې

دا جنګ زموږ وطن کې خدایه څومره دوامدار شو
دې ښکلو سپکي سپوري له مرمیو نه زده کړي

که لاس مې باندې بر شي د دنيا پيسې به سوځم
انسان کينه او کرکه له روپيو نه زده کړې

ژړا دې اننګيو باندې پرخه په سره ګل ده
خندا خو دې ګلمخې له غوټيو نه زده کړې

۱۳۷۹\۳\۴پېښور– بي بي سي دفتر

پلور

چا وې؟
چا وې چې دلته د سرونو سودا باب ده،
زړونه، نه خرڅېږي
خو ما په خپلو سترګو وليدل چې:
پرون زمونږ د ويجاړ ښار،
په واټ کې
چا په يوه ډوډۍ د پېغلې نجلۍ،
زړه راونيو!!!

علم ګل سحر

١٣٧٨\٥\٢٦پښتونستان

واټ – کابل

درانه استاداو غزلبول  شاعر محمدصدیق پسرلي ته چې شعرونو یې د مطالعې په وخت هم خوښي راکړې او هم یې درد او غم نه دی رانه سپمولی.

د بلبل له اوښکو....

تا راوستی پسرلی دی د سندرو
ښکلی سیوری شوې د سترو مسافرو

د غزل ناوې دې ښکلې سینګار کړې

علم ګل سحر

کليمې دې کړې امېل د مرغلرو

ښاپيرۍ د شعر دې څښلې بيا شراب دي
د بلبل له تلليو اوښکو مرورو

دې مالت کې د ژونديو قدر نشته
د ژوند فصل مو لوټ کړی ستمګرو

خبر نه يې؟ د باګرام نغمې سړې شوې
د قلم جنازه يوړه زوره ورو

د ښکلا آبۍ شوه بوره کرکه زور شوه
معلومېږي له ويرونو د کوترو

د تيارو ديوانو يوړې په برچو کې
له لاسو څخه نکرېږي د دلبرو

يو اخيستي خړ سيلاب د نهيليو
په قبرونو ډيوې مړې د مينجورو

علم ګل سحر

زموږ ژوند يوه د چرسو شنه نشه ده
آوازونه مو دودونه د پوډرو

بيا دي (ما ته شپېلۍ)+ پو کړه که راويښ شي
ساده زړي خو پوه نه شول په خبرو

زمری ۱۳۷۸ کابل

———————————————

+ما ته شپېلۍ د استاد د شعرونو ټولګه ده.

د بيلتون ويرنې

دواړه ځپلي،
د يوې لوېې ښايسته مانۍ په مخکې،

انتظار پرتې وې

تا به ویل د یوې بلې غوږ کې بولې،

د بیلتون ویرنې

بس له اوږده انتظار وروسته هلته

یوه څپلۍ په وینو لژند ولاړه

کینه څپلۍ هم لا تر اوسه انتظار پاتې ده!!!

زمری ۱۳۷۸وزیر اکبرخان روغتون

ویر

سپوږمۍ د خپلې خور په ویر ژاړي

لمر مو په حال څومره دلګیر ژاړي

خوب دې په سترګو کې پریشان وینمه

احساس مې ځکه په تعبیر ژاړي

رانه يې لار کې ستا پلو نه غلا کړل
خود مې زړګی دی پري زهیر ژاړي

شاه د شطرنج يې په پياده ورکوي
د سیاست لوبه کې وزیر ژاړي

چا يې لمن باندې داغونه ایښي
په چېغو سر دی، نن پامیر ژاړي

سحره اوس به څنګه پالې مینه
د ښکلو زړه کې دې تصویر ژاړي

۱۳۷۸\۵\۱

د شبنم چينه

ما د سپوږمۍ د روح هنداره کې،
ستا عکس ولید
چې د شبنم په چېنه ناسته وې،
وربل دې جوړ کړ
هغه شېبه زما سوالګرې سترګې

لاس په دعا د ښکلا لار کې ناستې
خو ناڅاپې تیارې خورې شوې
د رڼا څانګې راماتې شولې
لمر مخې دومره ژر بیا چېرته ولاړې،
زما د سترګو کچکول تش پاتي شو!!!

وږی ۱۳۷۸کابل ښارندوی مېنه

## د لمر درشل

د لمر درشل چا په ځنځیر تړلی
د عشق تکل چا په ځنځیر تړلی
په اننګو د ښکلې اوښکې لکه
د سپرلي ګل چا په ځنځیر تړلی
پلو کړه لرې، چې رڼا خوره شي
د سپوږمۍ ځل چا په ځنځیر تړلی
د ناموسونو غل قاضي شو دلته

د شونډو غل چا په ځنځیر تړلی
پردي یې بولي سرودونه د مرګ
خو دلته خپل چا په ځنځیر تړلی
زیاتي خو سترې شوو له دغه ژونده
دلته اجل چا په ځنځیر تړلی
د چا له آهه سیند وچ شوی ښکاري
او دا ځنګل چا په ځنځیر تړلی
چې مو د سترګو تمځایونه وران شول
د لید منزل چا په ځنځیر تړلی

۱۳۷۵، کابل

د ګلونو ماتم
احساس مې نه کولې له ارمان سره خبرې
چې شونډو دې کولې له پیزوان سره خبرې

په بڼ کې جوړ ماتم و، د غوټیو سرو ګلونو
سپرلي چې کله وکړې له خزان سره خبرې

ښکاریږي چې له ژوند سره واټن مې لیري شوی
له لري چې کومه له خپل ځان سره خبرې

د سترګو په ست پوه شومه، له شونډو ګیله نه کړم
زمونږ په ښار کې نه کړي، پیغله ځوان سره خبرې

پرون مې په پیسو باندې قاتل ته برائت ورکړ
د ښار قاضي لګیا دی، کړي وجدان سره خبرې

یوازې خپل ځان ویني، کور ضمیر مغرور په څه دی؟
ولاړ دی په سرو وینو کړي آسمان سره خبرې

(سړی لکه سپي ولي کړي په خپل منځ کې جنګونه)
+(روښان) داسې کولي له (رومان) سره خبرې

اخېر اخېر سحره رندانه غزل ترې جوړ شو
په مینه دې کولې له جانان سره خبرې

د ۱۳۷۸ د وږی ۲۸نېټه کابل څارندوی مېنه

--------------------------------------------

+--------------------------------زما د

کوچنیو زامنو روښان او رومان پوړتنیو وړو او خوږو خبرو د غزل دغه بیت راکړ .

## د اوښکو تصوير

وايې کوم څوک دي له کوچنيانو ځيګرونه باسي
دغه سخت زړي يې له تن څخه لالونه باسي

زمونږ ماضي په وينو رنګ ده حال مو څه پوښتې نور
له زمان شاه څخه يې ستر کې بيا خپل وروڼه باسي

لکه ټپي څوک يې زخمونو باندې مالګي پاشي
وطن سلګۍ وهي ساړه ساړه اهونه باسي

د شونډو خال دې اسويلو ووره کې تت ښکاريږي
وچکالي داسې له سپرلي ښکلي ګلونه باسي

ستا اننګو باندې مې ستر ګې ترولۍ غوندې شي
څوک چې سپېڅلي ځای ته ځي اول بوټونه باسي

ما يې د اوښکو د تصوير له شا نه دا ولوستل
يار مې ولور ګټي دوبۍ کې به کلونه باسي

د جادوګر نظر دې غشي له زړګي راباسم
لکه افغان چې له وطنه سره فوځونه باسي

داسې لاس نشته چې پر سر د کوم يتيم راتير شي
لاسونه ډېر دي چې کوترو نه وزرونه باسي

خوب مې ليده چې له بدرنګه ناکردو به خلاص شو
يو څوک به راشي له سرو به مو ميخونه باسي

چې ښکلي ويني له لري وار خطا غوندې شي
سحر لګيا شي او له رېږي سپين تارونه باسي

۱۳۷۹\۳\۴ کابل خارندوی مېنه

پاڼ

سره غرمه ده، شاوخوا لمر دی
اودی سیوري ته ویده دی
بریتور ښایسته ځوان دی
د پاڼ لوري ته ویده دی
که په اړخ باندې را واوړي
لویې کندې ته ورلوېږي
قافله ده، تري روانه
دی په لار کې تري پاتیږي
زما په چېغو راویښ نه شو
بس ویده په درانه خوب دی
نه پوهیږم،
که سرې اوبه پرې توی کړم
کوچنی غم به ځان ته لوی کړم
که خواږه خوب نه یې ویښ کړم
دا افغان دی،
بیا ټول عمر انتقام نه بې خلاص نه شم!!!

۱۳۷۸\۵\۱۸ زرمت _ رحمانخیل

وچکالي

سرې کال مو ترې نه واخېستل ډېر وري په نیمه بیه
له میږو راجلا مو کړل تندي په نیمه بیه

راځئ چې د شبنم پر ځای د زړه وینې پرې توی کړو
د شونډو غوټۍ کړلې وچکالي په نیمه بیه

له نازه یې چې ځمکې ته هېڅ سم کتلي نه و
هغې پېغلې بایللي اننګي په نیمه بیه

دا ډېره موده کیږي دلالان د تیرو تورو
له کلي د خوبنیو ورې وړي په نیمه بیه

له مخ نه مو د ښکلو یو ځل پورته نه کړي زلفي
بس هسې مو ورکړي دي زړګي په نیمه بیه

چې توره د بابا مو پسي واخېسته رهي شوو
ښامار نه مو تر لاسه کړل غمي په نيمه بيه

تردي ښه ده چې لاندې خزانې مو وي تر خاورو
چې مورِ يو، تري محروم وړي يې پردي په نيمه بيه

۱۳۷۸\۱\۱۹ کابل – د کورينو چارو وزارت

## د لمبو شمال

ستا د حسن د اختر هلال ته ناست دی
ساده زړه ، د اور په سيند کې لال ته ناست دی

د پاړسال د ګلونو خوب تعبير دې دادی
سپرلی هم ستا د ښکلا کمال ته ناست دی

زما زړه ستا د خوږو سترګو ليدو ته
يو مين د تخيل پاړسال ته ناست دی

بيا د خپلو ځوانو هيلو هديره کې

په ارمان د اننګو مشال ته ناست دی

جل وهلی د برسات په تمه تمه
بیا د تورو وریځو رنګ دیوال ته ناست دی

دا چې نه مري له اجل سره جنګیږي
بس لیدو دا ستا د زنې خال ته ناست دی

خدای خبر چې پري د حسن باران وشي
سحر هسي د لمبو شمال ته ناست دی

۱۳۷۸\۷\۲۹پېښور– بي بي سي دفتر

د ابلیس پرسر...

د لمر وړانګې ځلیدلې ښکلې ښکلې
شنې غوټۍ به غوړیدلې ښکلې ښکلې

یاد په خیر دي، د هغو زمانو وي
هره ورځ چې مو لیدلې ښکلې ښکلې

د شمال له لوري سره سیلۍ پري راغله

سرې غونچې يې ريږولې ښکلې ښکلې

په وطن باندې مو سيورى د کوم ديو، و
ښاپيرۍ به ژړېدلې ښکلې ښکلې

نه پوهېږم چې په چا مې زړه پيرزو کړم
د زړه کور ته دوه راغلې ښکلې ښکلې

د ويالې اوبه والله چې نن خوږې وې
ستا کنځا پکې راتللې ښکلې ښکلې

د ابليس پرسر پينې ږدو پورته خيږو
هلته موږه دي ليدلې ښکلې ښکلې

په ګلونو د سحر وږمې رانه غلې
نه پرې پرخې اوريدلې ښکلې ښکلې

کابل – څارندوى مېنه

مينې ته

علم ګل سحر

د اور لمبو باندې ليک نام د چا دی
په سرو سکروټو ايښی ګام د چا دی

زما کلام يې په غزل بدل کړ
دغه له مينې ډک الهام د چا دی

چې د ساقي تندی مات شوی ښکاري
مخ ته له وينو مې ډک جام د چا دی

سندرې ژاړی، ښکلا اور کې سوځي
د چا ښيرې دي ، انتقام د چا دی

اخير به لمر او هوا دواړه غلا کړي
د ژوند په لاره کې تور دام د چا دی

مورې په يوه ګوله ډوډۍ پسي ورک
مينې! نو تا ته کله پام د چا دی

دا ستا ښکلا يې له لمرو اخېستې
سحر که ستا دی نو ماښام د چا دی

کابل ۱۳۷۷\۹\۴

## شین فصل

یو باد دی شینکی فصل تخنوي جیبان یې ګوري
مطرب په نیمه بیه د رباب سندرې پلوري

زما په پاکه مینه د سپرلي هم کینه راشي
په شونډو مې د ښکلو و، کرلي د ((هو)) توري

شاید چې یې اخېستی وي ازار د مینانو
ګودر باندې چې هره ورځ باران د کاڼو اوري

حیران یم ورته ګورمه دې خپل ویده ملت ته
د مړو هډوکي وړي، خو دوي لا اوس هم ورته ګوري

شیطان مو په زړه ناست دی او کري د کرکي تخم
کینې ته مو حیران ګوري والله د آسمان ستوري

یوازې انتظار یمه وړمو ته ستا د مینې
چې راوړي ګوندې ماته پیغامونه ستا له لوري

څو تنو زوروړو د پېسو په زور ځان خلاص کړ
سحره پاتي شوي د بلا خولې ته کمزوري

۱۳۷۹\۵\۱۱
کابل – مکروريان

نيمګښ پلو

تر پلو لاندې يې کاته ما ترې خولګۍ غوښتله
شبنم په پاڼو اوريده ما ترې خولګۍ غوښتله

زه ملامت په څه وم، ګوره چې لمبه حسن يې
د لمر له وړانګو تاويده ما تري خولګۍ غوښتله

لکه ماشوم چې په لاسونو باندې وړانګې نيسي
نظر شو سترګې په مزله ما ترې خولګۍ غوښتله

د سوال له لپې نه مې تويي شولې سپېڅې اوښکې
سترګې آواز مې شو اوبه ما ترې خولګۍ غوښتله

نیمکښ پلو يې په ټول مخ باندې راخور کړ بېرته
هلته يو ګل وريږيده ما ترې خولګۍ غوښتله

لکه خوبونه د سحر چې هېڅ تعبير يې نه وي
ارمان احساس ته ژړيده ما ترې خولګۍ غوښتله

١٣٧٨\١٠\١٥پېښور– بي بي سي

کابل ډېر ښکلی و؟

کابل...؟
هو کابل ډېر ښکلی و
لکه هغه
لکه زموږه د ليدلو لومړنی مازديګر
لکه سپرلی،
لکه ګل

لکه غزل د مینې
لکه د مینې د سندرو موسکا
لکه د ښکلې سپوږمۍ غاړه کې امېل د ستورو
لکه د دوو مینو شپه د وصال
کابل مې ډېر ښکلی دی
لکه د دیو تورو منګولو کې معصومه پري
لکه د مار په خوله کې ښکلی غمی
لکه د مینې خزانه،
چې پري اووه سری ښامار پروت وي،
او خلاصون یې نه وي
لکه د ګلو پاڼه
چې یې سیلۍ د اسویلو په ژور سیند لاهو کړي
لکه یوسف چې خپلو وروڼو،
بندیوان کړ د څاه
چې په خوبو کې لسو ستورو لمر سپوږمۍ ورته سجدې کولې
کابل اوس هم ښکلی دی
لکه زړو جامو کې ښکلې پېغله
لکه د پېغلې اننګیو باندې سپېنې اوښکې
چې خپل مین پسې په چیغو سروي
لکه په دار باندې ختلی مین
چې یې د مینې منکران په تیږو کاڼو وولي

لکه ملنګ چې په کوڅه کې یې سپې وداړي،
امسا یې ورنه اوړکي یوسي
او دی په ورکو لارو سر وي
له یخنی نه ریږدي
کابل اوس هم ښکلی دی
لکه په قبر د شهید د شنو بنګړیو کتار
لکه شهید چې هیڅ وارث نه لري
او لنډه مهال وي سپارل شوی په پردیو خاورو
لکه د کونډې فریاد
لکه د بورې مور یو سوړ اسویلی
چې چا هېڅکله اوریدلی نه دی
هو!
کابل مې ډېر ښکلی دی
خو!...
زه ترې راغلم اوس زموږه نه و!!!

میرانشاه – پښتونخوا

## سوځيدلي ارمانونه

د انـــګار له څـــنګه ناست یو، په ایـــــرو کې وهو خـــلي
ښایې مورډ پکې پـــــیدا کـــــړو ارمــــــــــانونه سوځيدلي

څـــومره ټګه زمـــــــانه شوه، د ژیړ لـــمر خیر به غـــــواړو
خوب کې ګورمه، چې شپه شي، زه مات ستوري رالويدلي

فاتحــــین د پاني پت وو، ګـــــــــوره چا چاته احتــــــیاج شوو
اوس یو بــــل ته خـــــړ خــــړ ګــــــورو، له تـــــورخمه راشړلي

بس پوليس تر زنه نېسو کــــــه مـــو هغې خــــوا ته پريږدي
کــــنډ کــــپـــــر وطـــــن نه راغـــــلو د رنځو پېټي په ولي

علم ګل سحر

تر پښو مو لاندې نه کړئ، موږ يو خــــــپل کـــبر خـــوار کړي
د عظـــــــــمت د غـــــره له سره لکـــه واوره ښويــدلي

چې الف قامت مې دال شو، رنګ مې ژيړ لکه زعفران شو
له زړګـــي مې پـــــورې وورې د نـــــظر غـــــشي وتلي

۱۳۸۰\۱\۲
تورخم

د اوښكو ائينه

دا ستا د سرو شونډو سپرلی يې وليد
بلبلان دلـــــــته، ګـــــلان دلـــــــــته راغــــــــلل

بــــــــــېګا دې لاس زما تر غاړې تاو، و
د اسمــــــان ستوري پريشان دلته راغلل

د شـــــــــــــبنم څاڅكي ستا امېل د غاړې
او د ســـــــــــپرلي مـــــــينان دلته راغـــــــــلل

مـــــــــــا مې د اوښـــــــــــكو ائينه كې لـــــيدل

غـــــــمونه ټول د جــــــانان دلته راغـــــــــلل

کابـــــــل به ولي اورکې نه سوځـــــــــــيږي
له هـــــر خـــــوا ليونـــــــــيان دلته راغــــلل

ښکلا يې غلا، مينه يې غـــــــــــــــــلا کړه رانه
ددې پـــــيرۍ ترابـــــان دلـــــــــته راغــــــــلل

ورتــــــه بـــــه بلي کــــــــړم ډيوې د اوښـــــکو
کــــــه يـــــــکه زار، يا قربان دلته راغلل

مــــــــــــــــورِ ســــــــاده ګان و، د سحر په تمه
د تورتمــــــــــو شيطــــــــــــــــانان دلته راغلل

د کوترو په وزرونو

شاعــــــــران يو چې په باد سندرې لــــــــــــــيکو
د خـــــــورې ميـــــــــنې په ياد ســــــــــندرې ليکو

علم ګل سحر

چا موسکا د غوټۍ خــــوله کې ده وژلې
د بـــلبـــلو د فــــــــرياد سنـــدرې لـــيکو

پکې غواړو د باروت په ځای رانجه مونږ
په مــــرميو په فـــولاد ســـندرې لـــــيکو

دوي مو ولې په ګولۍ مونږ ورته خـــاندو
لـــه ازاره يو آزاد ســــــندرې لـــيکو

بې وسي ده، د کــــوتـــــرو پــــــه وزرونـــــــــو
د ويجــــــــــاړ زخمي هېواد سندرې ليکو

مونږ ژوندون ته، د رڼا جام د لمر غواړو
نه د چــــا د مـــرده باد ســـــندرې لـــيکو

مـــــعشوقــــــو ته د ګــــودر رڼو اوبو کې
مـــونږ په وينو د فــــــــــرهاد سندرې ليکو

چې مو شعر ته نذرانې د حسن راکړي
بس د ښکلو د مــــراد سندرې لـــيکو.

د ۱۳۷۹ کال کب پېښور – بي بي سي

## د خندا فصل

ښکلي راشي زموږ زړونه یوسي ولاړ شي
بس له سترګو مو خوبونه یوسي ولاړ شي

مـــــودې وشوې له کـــــــوم خــــــــوانه را الـــــــوتي
ارمـــانونه مـــــو بــــــادونه یوسي ولاړ شي

د خـــــندا فصل له شونډو زموږ لــــــو کړي
ســـــتا له زلــفو ته ګلـــــونه یوسي ولاړ شي

لـــــه غـــــــرض نه ډک لاسونه را اوږده شي
زمــــــــوږ له منـــــــځه باورونه یوسي ولاړ شي

ســــــاندي راوړي په بـــــــــــدل کې د خوبنیو
بس ســــــندرې غــــــزلـــــونه یوسي ولاړ شي

له کوم خوا به داسې څوک را پیدا نه شي؟
چې مـــــــــــرمۍ او ټوپکو نه یوسي ولاړ شي

علم ګل سحر

خــــبيځه ارواوي ګـــرځي لـــــويه خـــــدايه
زمورږ له شپو نه سحرونه يوسي ولاړ شي

د سحـــر وربمــــې په سرو غـــوټيو راشي
ستا له شونډو نه خوندونه يوسي ولاړ شي

۱۳۷۹\۵\۲ زرمت – اسلام خيل

د غاټول لپه
د زمــــانې لــــه ناکــــــردونه خو چا هيڅ ونه ويل
لــمن دې کاڼو نه خـــــالي شوه خـــــــو ما هـــېڅ ونه ويل

د وينو سور رنګ يې زمـــورږه په لـــــــمر وشيندلى
مــــورږه لــــيدله خــــو مظلــومې رڼا هـــــېڅ ونه ويل

زمورږه توري لوى ښامار پينځلس ځايه ماته کـــــړ
د د فرغون ږيره يې تار تار کړه موسى(ع)هــــېڅ ونه ويل

په حـــــق زمــــا د شهـــــيد شويو ارمــــــانونو کې
خــــــو

علم ګل سحر

د غـــــاټول لــــپه کې هــــــــــم ترې دعــــــا هېڅ ونه وېل

دنـــــګو مـــــانیو نه بي هـــــــــیلې بي نوا راستون شو
سوړ اسویلی یې له خولې ووت ګدا هـــــــــېڅ ونه وېل

ته یې په تمه د وعـــــــدو یې چــــې ســــــبا به راځي
سحره ښکلو پخپل ژوند کې رښتیا هېڅ ونه وېل

۱۳۷۹\۴\۷ زرمت – اسلام خیل

یادونه: د دغه شعر ردیف (وېل) د پکتیا، پکتیکا، غزني او لوګر په ځینو سیمو کې یو ځپیز ادا کیږي چې دلته او ددې کتاب په ځینو نورو شعرونو کې هم یو ځپیز ادا کیږي.

ورک غمي

ګـــــمان مې نه شي خــــــو دوی وایې پســـــــــــــــــرلی به راشي
زه وایم مرګ مـــــــــــوږ سره روږدی دی مـــــــــــــــــرګی به راشي

سپرلی ښکلا پسي د تورو غرونو شاته تللی
دومره په بخت بیداره نه یو چې ژوندی به راشي

یتیم دی، وړی دی، د پلار د قبر خوا ته ناست دی
وایې هډوکي به یې خرڅ کړم کوم پردی به راشي

زموږ له سره بدرنګ سیوری د توپک ورک کوي
پټ ګونګوسی دی د سپین لمر غوندې سړی به راشي

ډېره موده وشوه سیلاب رانه په زوره وړی
خړو اوبو کې لاس وهو چې ورک غمی به راشي

عجیب وطن دی پکې توري شپې خلاصی نه لري

علم ګل سحر

۱۳۸۰\۱۲\۱٦ کابل – څارندوی مېنه

## دشپې اوښکې

دلمر چينې خو خپلې وړانګې
تر افق قربان کړې
شفق دوينو ډنډ کې ولمبېده
رڼا تېپي شوه دماښام په نيزو
خو لا اميد دسباوون ژوندی دی
او ما دشپې دزړه چاودون شيبه کې
زموږ دګلي د شنه بڼ
د شنو مرغو په څوکو
دشپې نا هيلې او ښکې
وليدلې

۱۷/۱۲/۱۳۷۷

## غزل

سويو ارمانو وينو کې ولامبل
هسې مې اسرو وينو کې ولامبل

دا خو ليونتوب زما د مينې و
نن چې مې په سرو وينو کې ولامبل

زه يې د لمبو تناب ته پورته کړم
ستا چې اننگو وينو کې ولامبل

هسې بې خزانه سيلۍ راغله پرې
بڼ کې سرو غونچو وينو کې ولامبل

چاته که ډالۍ يې سره گلونه کړل
دلته خو سپرلو وينو کې ولامبل

علم گل سحر

**۱۵/۳/۱۳۶۹**

**کابل پوهنتون**

**طلايي پلوشې**

**ما په تياره ماښام کې**
**له يو دودجن ماحول نه**
**د تورې شپې له بامه**
**سپينې سپوږمۍ شونډو کې**
**پېغله رڼا وليده**
**چې زموږ په لور يې سترګکونه کول**
**په طلايي پلوشو**
**د رڼه ستوري په لاس**
**موږ ته يې زېرى د سبا راکاوه**

علم ګل سحر

۲۳/۱۲/۱۳٦۸

شېر شاه مېنه

## نیمګړې هیله

خونه د زړه مې له غمو ډکه شوه
مینه دیار له ناکردو ډکه شوه

ما چې یې هیله دګلونو کړله
باغچه دهیلو له ازغو ډکه شوه

وطن مې وسو دباروتو اورکې
کلی، کوڅه په هدیرو ډکه شوه

پیغلې نا امیده له ګودره ولاړې
ویاله له وینو د زلمو ډکه شوه

ماویل ګل یې ستا په زلفو کې رېدم
ښکلې پکتیا مې له لمبو ډکه شوه

۱۹/۲/۱۳۶۲ ښرنه – پکتیکا

## دوړانګو ویر

ته لکه ستر ګه د یو سپین سباوون
زما د خیال په یخ وهلي فصل
زما د هیلو په تنکیو غوټو
وړانګې د لمر خوروې
او په خوږه موسکا دې
د امید و ګلبڼ ته
وږمینه لار جوړوي
خو ما په هر مازیګر
ځوروي ویر د وړانګو

علم ګل سحر

دا نا بللې تيارې
چې مې همېش ځوروي
هو!
دا ستا په سپين مخ باندې
د خورو زلفو سيورى

۱۸/۴/۱۳٦۸ کابل پوهنتون

## د هيلو جنازې

سترې مې ارمان و، تلوسو يې وينې وڅښلې
ګلو کې شبنم و، چې ورېمو يې وينې وڅښلې

غاړو د افق کې مې دهيلو بڼ کرلى و
هيله د سبا وه، خو تيارو يې وينې وڅښلې

اوس به مې د هيلو جنازې په خپلو اوښکو وړم
مينه کې د ښکلو ناکردو يې وينې وڅښلې

څه پوښتې ټپي وجود، زما ددې خوږمن وطن

یو ځلې خو خپلو، بیا پردو یې وینې وڅښلې

راغله د شمال له خوا، سیلۍ د پسرلي په نوم
پاڼې خو لا څه چې د ورېمو وینې یې وڅښلې

څه کوې تپوس له دې سحر چې رنګ یې ژېړ ښکاري
څه دښکلو ناز څه اننګو یې وینې وڅښلې

کابل پوهنتون

دورېمو لارې

هلته هادي دسیورو
دلته شیطان دتیارو
د پیغلتوب له خوبه نوې پاڅېدلې سپوږمۍ
ګوره په کاڼو ولې
غواړي تورتم کې ښکېل کړي
د امیدونو سحر
هلته د وریځو په غرو

علم ګل سحر

دلته د شپې په کمڅو
د سپوږمۍ مخ ته تور پړونی نیسي
د باران څاڅکي وژني
په دوزخي منګولو
زموږ د هیلو د ګلبڼ په لوري
د پسرلي د وږمو لارې نیسي ؟!!!

۳۱/۴/۱۳۶۳غزني ــ دسردې پروژه

د لمبو پر بستر
زړه مې په یاد د دلبر شپې تېروي
لکه مین په ګودر شپې تېروي

په اشارو، کنایو ژوند تېروو
منځ کې د وخت جادوګر شپې تېروي

نشته خوشال زموږ په منځ کې څکه
نن چې مغل په خیبر شپې تېروي

ځه بې پښتو شول غیرتي پښتانه
منځ کې یې بیا سکندر شپې تېروي

تر څو به دا خواره واره پښتانه
په نوم د لر او د بر شپې تېروي

زمونږ دا وران کلی به جوړ شي په څه
په کې دمرګ سوداګر شپې تېروي

دا به سوغات ستا دیاغي مینې وي
چې د لمبو پر بستر شپې تېروي

د مخ رڼا ته رسېدلي نه دي
تورو تیارو کې سحر شپې تېروي

۲۸/۵/۱۳۷۰

### د سپوږمۍ په بڼ کې

د شپې په سیوري کې رڼا دسحر وپړکېده
غوټۍ کې هیله د موسکا ویښه شوه

علم ګل سحر

وړانګې د لمر خورې شوې

خو:

د تورتمونو شيطان

د هسک په پراخه غېږ کې

زړې د وريځو کړي

او د سپوږمۍ په بڼ کې

اغزو ته ساه ورکوي

دا د رڼا قاتلان

له رڼه ستوري اخلي

د شپې د مرګ انتقام!

٦/۴/١٣٦٩ غزني

## دیوې طرحه شوې مشاعرې په لړ کې

### د اوښکو شبنې

د اوښکو په شبنو کې مې غمګینه زنده ګي ده
د مینې تلوسو کې څه نیازبینه زنده ګي ده

دا هیله وه نیمګړې که جنون د چا د مینې
چې دې ښکلي وطن کې مې بې مینه زنده ګي ده

سیلۍوه سپرلي رنګه، په ګلونو باندې راغله
دا چا ویل ګلبڼ کې یې وربمینه زنده ګي ده

نشې دپیغلتوب یې او سپرلي د شونډو وغواړو
رسېږو په تکل یې چې مو مینه زنده ګي ده

یوه شیبه خوښي ده، همدا هم غنیمت دی
بس پاتې له غرمې نه تر ماسپښینه زنده ګي ده

**۴/۷/۱۳٦۹ کابل پوهنتون**

## د افق غاړو کې

مورِ د افق دغاړو هغې خواته
د امیدونو بڼ کې
د ارمانونو سره ګلان وکرل
څه مو په سترو اوښکو
څه مو د تن په وینو
څه د رڼا سحر په پرخه باندې
هسې تازه وساتل
په دې امید چې د سبا ناوې ته
یو د ښکلا امېل شي
خو د زمان لوګرو
په بېګانه لرونو
په د وبنیو سرو غرمو کې ګډ کړل
د سرو غونچولوونه!!!

علم ګل سحر

۱۹/۷/۱۳۶۹

د ښکلا پلوشې

بیا دې ستونه اننګو کې ورک شول
لکه ګلونه ګلکځو کې ورک شول

زما ځواني او امیدونه هسې
ستا د ښکلا په پسرلو کې ورک شول

پښتنې اوښکې توېېدلې کله
چې فریادونه اسوېلو کې ورک شول

دا ستا کاته زما د شونډو تېری
ګلې په ټګنده غرمو کې ورک شول

ښکلا د ګلو او ځلا د ستورو
ستا د ښایست په پلوشو کې ورک شول

کاروان به ورسي منزل ته اخر

علم ګل سحر

که نازولي قافلو کې ورک شول

سحره هغه مينه وړې کاته
د دې حالاتو په ليمو کې ورک شول

۳/۲/۱۳۶۳ پکتيا

## دلمرجنازه

پوه شومه شپه راغله او د لمر جنازه ووته
نن چې يې د مينې د اثر جنازه ووته

تاته خو ګلونه او غوټۍ لا منتظرې دي
ولې دې سپرليه داسې ژر جنازه ووته

پيغلو د مالت مې تور پړونی په سر کړی دی
هر خوا هديرې دي د ګودر جنازه ووته

بيا به مې شهيدې اوښکې زېری د ژوندون راوړي
کله که د مرګ د سوداګر جنازه ووته

هله به ارمان ددې راکړو ځوابو راشي
کله چې په ژوند دې د سحر جنازه ووته

**۱۸/۱۲/۱۳۶۹ کابل– ببرک چمن**

قبر کیندونکی

هلته په شنو فصلو کې
زمورِ د کلي د ګودر په غاړو
په کار لګیا قبرکیندونکي ګورئ
کله یو بل ته شي په قهر ګوري
څو شېبې وروسته د یوبل په غوږ کې
څه سره ووايي
موسکي شي دواړه
او بیا په کار لګیا شي
خومره په بیړه بیړه

زمورږ د کلي کروندو او شنو فصلونو کې دوی
لوی لوی قبرونه کني
او سترړیا نه پېژني
دواړه د کلي د ځوانانو جنازې چې ویني
یوبل ته وګوري
موسکي شي دواړه

ژړا د چا دوی اورېدلی نه شي
خو...
زه یې وینم
ته یې وینې
او مورږ ټول یې وینو
چې د دې دوو قبرکیندونکو
په یوه اشاره
زمورږ د کلي خلک
د یوه او بل جنازې ګور ته لیږي
قبر کیندونکي هم په مینه مینه
ورته قبرونه کني
ځمکه مړه شوه دوی لا نه دي ماړه
او په قبرونو باندې
هدیرې ډکې

ګودرونه ، کروندې ډکې شوې
خو دوی لا سترې نه دي
دواړه په کار لګیا دي !!!

۷/۳/۱۳۷۰ کابل– زرنګار پارک

**د شونډوپسرلی**

د ځوانی عمرمې غمونو وخوړ
د سترې لارې منزلونو وخوړ

اوښکومې ستاپه زړه اثرونکړ
لکه شبنم چې سروګلونو وخوړ

رنګ مې اوله هسې ژېړ کله و
د ښکلومینې اونازونو وخوړ

د مخ رڼا ته مې نیمګړی امید
کمڅۍ کمڅۍ زلفو د نجونو وخوړ

کله سپرلی یې د سرو شونډو ولید
سحر خو هسې تومتونو وخوړ

۲۳/۱/۱۳۷۰ کابل پوهنتون

؟

دهدیرو او د قبرو خوا کې
چې څوک تیریږي
دواړه لاس پورته کړي
او د الله ج دربار کې
د دغو مړو په حق کې
هر یو دعاوې کوي
خو!
خو زموږ د کلي خوا کې
چې څوک تیریږي
پټه خوله تیریږي
نه دواړه لاس جګوي
او نه دعا کوي
زموږ د کلیوالو حق کې

نه کليوالو ته سلام ورکوي
ځکه هغوی
د کليوالو په ژوندون شکمن دي
او نه يې مړو نه يې ژوندو کې شمېري!!!

۱۸/۹/۱۳۷۰ کابل پوهنتون

شهيدې اوښکې

شولې مې تېره بې پروا په قبر
تش دې هم ونه کړه دعا په قبر

د دې راتلو احسان دې نه منمه
خاورې پرتې دي اوس زما په قبر

آسمان به ولې اوښکې نه تويوي
يتيمان ژاړي د بابا په قبر

دلته هر ګام کې هديرې جوړې دي
قدم کښېښږدي د کوم چا په قبر

هغوی شهيد شول د وطن لاره کې

میندې یې ولې کړي ژړا په قبر

سحره ښکلی خو دې اوس لټوي
چې ځلرګې شنې شولې د تا په قبر

۱۵/۹/۱۳۶۸ کابل پوهنتون

د ستورو پل

زه د تیارو
او ترووږمیو غېږ کې
د افق هغې خواته
په تورو لړو کې پټ شوی
ښار کې
شوم د تیارو
لاروی
په سترو سترو ګامو
دې د چوپتیا په ښار کې

د رڼايي په لټون
د ستورو پل لټوم
يو خوا تيارې دي تږولې
بل خوا خوره ده
ډارونکې او مرګونې چوپتيا
او دا نا پايه لاره
لا هم اوږديږي پسې
هلته له ليري په کمزوري آواز
د ستوروکلي
د جومات
د ملاغږ رارسي
زما په زړه کې د رڼا هيلې ته ساه ورکوي
زه هم په سترګو ګامو
دا نا ليدلې اوږده لار لنډوم
او د تيارو په زړه کې
د ستورو پل لټوم

۹/۱۲/۱۳۷۰ کابل– ببرک چمن

دعبدالقادر خان ختټک په يوه شعر د طرحه شوې مشاعرې په لړ کې

د لمبو تناب

د لمبو په تناب زانګو او تيريږي ژوندون هسې
نه تر اوسه چا ليدلی دلته جوړ دی شبخون هسې

اوس زموږ دلته په اوښکو او په وينو ژوند تيريږي
په ارمان يې نن افسوس کړ را يادېږي پرون هسې

موږ په کانوباندې وويشت د يوه او د بل سيوری
په پرديو لارو لاړو دا چې نن يو زبون هسې

علم ګل سحر

د مغل د سر خنجرو خوشال تیښ نه شو پردو ته
وخت څواب راځینې غواړي چې بل شته دی پښتون هسې؟

یوه هیله د سبا وه له ماښام سره شوه ورکه
د شفق کوڅو کې ستړی بس کوم یې لټون هسې

د سحر د ځوانۍ فصل د جفا په لړو لو شو
د الف په شان قامت یې اوس په څېر شو د نون هسې

۱/۱۱/۱۳۷۰ کابل– څارندوی مېنه

خوب(۳)

خوب لکه ټکنده غرمو کې
تر سپیدارو لاندې
زمورږ د زړونو د کیسواو د رازونو ګودر
خوب لکه خوځند سمندر
په خپلو ماتو اوړو
ماته د مینې الهامونه راکړل

خوب یو شاعر دی د نیمګړي غزل

زما د روح په تخته لیکي

د دوو مینو داستان

خوب په اوبو کې

د کوچۍ پېغلې د حسن انځور

او خوب

د سروګلونو بڼ کې یوښکاري ته ورته

چې په ګلونو کې بلبل نه پرېږدي

او د نغمو غږېې په خوله کې وژني

خوب په تی برکې پټلو مې شي د سزار د مینې

خوب د وصال او د هجران پوله ده

خو زه د مینې په وزرونو خوب ته ورسېدم

زما د مینې عظمت ته ګورئ

زه شومه خوب

او

خوب پر مابدل شو

اوس د خوبونو ښار کې

مینه کوم

خوب له کینې نه ډک دی !!!

علم ګل سحر

سلواغه ۱۳۷۷ کابل– خیرخانه مینه

## د ستورو کفن

وژني مې یو ځلې بیا زما ګوره کفن ګنډې
زلفو په تارونو مې اشنا ګوره کفن ګنډې

تته شوه ډېوه چاپې پوښتنه هم ونه کړله
نن تیارې په ګوتو د رڼا ګوره کفن ګنډې

اوس مې د زخمي زړګي داغونه چاته وښیم
دې مالت کې ژوند ته مسیحا ګوره کفن ګنډې

شپه که ده تیاره نو د رڼا مخه به څوک نیسي
ستوروته له وربځو دلته بیا ګوره کفن ګنډي

ژوند کې یې پرما تشه موسکا هم پیروزو نه کړله
هغه د سحر نن په ژړا ګوره کفن ګنډي

۱۳۷۱/۱/۲۸ دپوهنې وزارت

ویرپه نغموکې

د لته ژوند دی په تیاروکې
دلته ویردی په نغموکې
دلته ورځ په شپه بدله
دلته مینه اشارو کې
میکدې مو بتخا نې شوې
دلته ز هرپه پیالوکې
ځوانی په پیلامه کې مورِ قتلیږو

چې په قام دامازونو(۱)کې اوسیږو

امیدونه مو قتلیږي

ژوندشوزهرنه تیریږي

شوې موهیلې ځوانیمرګې

پسرلي موخزانیږي

سره ګلونه دي لو کیږي

د اغزوباغچې جوړیږي

نن په کلیوپه ښاروکې

د مرګي سرود غږیږي

بس د اوښکو وینوسیندکې ورګډیږو

چې په قام د امازونوکې اوسیږو

چې د مرګ سوداګرخوارکړې

نه پیدا دلته اشیل(۲)شو

په وطن کې ژوندون اورشو

دا مالت راته باستیل شو

هرخوا اوښکې دي غمونه

په سرو وینوبدل نیل شو

له وطن نه چې قربان شو

دلته هغه نن ذلیل شو

موږمړه یوکه ژوندي یونه پوهیږو

چې په قام د امازونوکې اوسیږو

۱۳۷۱/٦/۱۲زرمت پکتیا

(۱)امازون قام د ښځويوقام وه چې خپل نارينه اولادونه به يې په ځوانى کې وژل اولونې به يې دجگړې لپاره روزلې.
(۲)اشيل :هغه څوک و چې د دغه قام ملکه يې ووژله.

رنځورژوند

چاوطن پريښود له دياره ولاړل
خزان په لوري له بهاره ولاړل

ژوند دى رنځوردلته څوک ګرم هم نه دي
کلي په لوري چې له ښاره ولاړل

چاته ژوندون تريخ چاته وطن لمبه شو
څوک له رقيب څوک له خپل ياره و لاړل

مورږ د قصاب تر چړې لاندې پراته

هغوی خو ښه شول چې له داره ولاړل

شپني د مېږو به نو چاکوله ؟
پښتانه ځکه له بازاره ولاړل

د هسک په لاره کې هک پک ناست يمه
دوه ځلاندستوري په دې لاره ولاړل

بوی د هلوکواوسرو وينوراځي
بلبلان سترې له ګلزاره ولاړل

۱۳۷۱/ ۷/۲۹ زرمت – پکتيا

دمرګ يون

اوس بې له تابه څه ژوندون تيريږي
د ځوانۍ وخت په ځيګرخون تيريږي

د هغو سترګو بيا ليدو په هيله
زما خو شپه ورځ په لټون تيريږي

د څومغرورو پښتنو له لاسه
سختې شيبې نن په پښتون تيريږي

نغمې په ورو کړئ چې وانه وریدل شي
زمورږ په کلي د مرګ یون تیریږي

سحره مل که تورتمو سره شوې
شپه په امید د سباوون تیریږي

۱۳۷۱/۸/۲۵ کابل – تهیه مسکن

## بې کوره ستر ګې

تا زما ستر ګو سره څه وکول
تا زما دوه ستر ګې بې کوره کړلې
اوس به په توره شپه کې
 چېرې درومي
او دې مابنام کې
به د کوم کور دروازې ټکوي

علم ګل سحر

تا زما سترګوسره څه وکول
او اوس مې دواړه سترګې
لکه یتیمې خوندې
دي سرګردانه لالهانده
په تیارو کې ورکې
او اوس د مینې په کوڅو کې
ځان ته کور لټوي

۱۳۷۳/۱/۲۹ کابل – خیرخانه مېنه

کابل ژاړي

په سرو وینو کې ډوبیږي کابل ژاړي
ځوان بچي یې تباه کیږي کابل ژاړي

دغو خپلو لیونیانو هسې وران کړ
چنګیزیان ورته یادیږي کابل ژاړي

نیرون(۱) خوښ دی ورته ګوري خوشالي کا
لکه ټرای(۲) هسې سوځیږي کابل ژاړی

بس د اوښکووینوسیندکې لاهو شوی
ورته لاس ورکړئ غرقیږي کابل ژاړي

د پردیو تر پښو لاندې فریاد کړي
د مرګ کاڼي پرې اوریږي کابل ژاړي

۱۳۷۲/۳/۲۲

------------------------------

(۱) د لرغوني روم بوالهوس امپراتور
(۲)د تېرای ښار چې د یونان دلښکروله خوا وران او وسوځول شواو یوازې ځوتنه یتیمان ،کونډې...ژوندي پاتې شول.

د ویر کیږدۍ

دومره په ناز دې کبرجنې سترګې مه راړوه
اې د ښکلا د بڼ مېرمنې سترګې مه راړوه

د رقیب خوا کې به نورژوند په اشارو تېروو
ګلې بس پاتې شوې لیدلې سترګې مه راړوه

تا مې له سترګونه د مينې امتحان اخيستو
ځکه مې وکړې غزونې سترګې مه راړوه

زما د مينې په ليدو دې اننګي سره نه شول
دا مې حاصل و د کرنې سترګې مه راړوه

زما مزار ته دې يواځې دعا هم ونه کړه
په بيرته تلو دې درواغجنې سترګې مه راړوه

مينه ظالمه هڅوي مې خو زه هم پښتون يم
بيا به درنه شم بې بلنې سترګې مه راړوه

زموږ د مينې او ګلونو دغه ښکلی وطن
اوس شو ټاټوبی د وژنې سترګې مه راړوه

سحره تا هم له غريب وطنه کډه وکړه
د وير کېږدۍ شوې پرې پلنې سترګې مه راړوه

۱۳۷۲ ميرانشاه

د ګلونو لو

وطن کې مې بلبړی سره اورونه لا تر اوسه
د وینو راروان دي دریابونه لا تر اوسه

په دې اتل هیواد کې د پردو ورمېږمات شوی
خو دلته سره وژني یوبل ورونه لا تراوسه

د ژوند کاروان روان دی ارتقا په لوري درومي
پښتون نه راویښیږی کړي خوبونه لاتراوسه

لوګري بیګانه زموږفصلونو کې ګله شوي
د سروګلونو دوی کوي لوونه لا تر اوسه

قلم جبل کې بندي دی او رښتیا لا زړه کې پاتې
په خوله مې لګېدلي و مهرونه لا تر اوسه

کابل مې ښکلی ګل و، په ایرو باندي بدل شو
بس وینې دي، ژړاده او ویرونه لا تر اوسه

سحره په بریتونو کې دې سپین ویښته پیدا شول
خوستایې په شعروکې ښکلې نجونه لا تر اوسه

علم ګل سحر

۱۳۷۲/۱۲/۱۸ میرا نشاه

## د څپو په وزرو

سېلاب وزرونه نغاړي
له قهره ډک دی په فصلونو راځي
او د څپوپه وزرو
پیغام د وینو راوړي
زه د پنجرې له شانه
زمورِ د بنې پرېکړی لاس وینمه
آه،
څومره بې قدره دي پرتې
دا جنازې ،
د سنګسارشووغونچو
د ونې وچ ښاخونه ساندې وايي
وزې پرې خاندي درومي
اوښان په خوب کې په راتلونکي وياړي
نور له دې کلي ورِمو کډه کړې
او مهاجرې پرخې بيا نه راځي

لمر رانه مخ اړوي

بیا مرور شو

رانه

لمره له تا پوښتمه:

ــــ دباران سترګو کې دې څه ولیدل

سرِکال به څه را پیښ شي

زمورِ فصلونه به راشنه شي کنه ؟

ــــــ سرِ کال به فصل شین شي

خو داغزیو فصل

ونې به پاڼې نه کړي

او په هر ښاخ کې به وزغنې شنې شي

غوټۍ د تل لپاره مخ پټ کړی

نه غوړېږي

سرِ کال به فصل

د اغزو فصل وي

څکه چې ډېر یې ارمانونه کېدل !!!

۲۱/۲۲ــــ۴ـــــ۱۳۷۶ پکتیاــ زرمت

## ناورين

پسرلی ژاړي پورته شوې ده د ګل جنازه
په ارمانجن مالت کې وينو پل په پل جنازه

ارمان مې ستا په اننګو کې هسې مړاوی ولید
لکه د پېغلو په اوږو د کومې نجل جنازه

وحشته نور دې لا په زړه کې ورته پاتې څه دي
اوس خو دې ولیده په سترګو د کابل جنازه

بیا څه غوغا ده په دې کلي کې ناورین د څه دی
بیا پښتانه دې ګور ته لېږي د یو بل جنازه

د زړه په وینو باندې لیک زما د مینې غزل
قلمه ژاړه چې وتلې د غزل جنازه

۱۳۷۱/۱۲/۱۶ میرانشاه

غوښتنه

دا ستاپه ښکلوانګوکې
يې سپرلی کړلی
وخانده!
زموږ د بڼ مړاووګلونوته يې زېړی ورکړه
چې دې خزان خزان وختونومو
نور
زړه
تنګ کړی.

۱۳۷۵/۱/۲۲ کابل

د اوښکو شبنم

علم ګل سحر

زه یم تږی د ژوند اوبه یې

چې مې د مينې له محفله وځي
ورپسې زړه مې له ګوګله وځي

پرې هرسهارشبنم د اوښکواوري
سوي اهونه چې له ګله وځي

مرګ راته هره ورځ په مخه راځي
هيلې تنکۍ مې له اجله وځي

دلته ښکلا دلته ځواني قتليږي
ښکلي ګلونه له اوربله وځي

چاپې د حال پوښتنه ونه کړله
سحربې هيلې له کابله وځي

۱۳۷۵/۱/۲۳ د وردګوتنګی

ماښامونه، سهارونه

له دې ظلمونو اخېر موږه چېرته کډه وکړو
له سرو اورونو اخېر موږه چېرته کډه وکړو

په خپل کاله کې راته ژوند تریخ شوی زړه مو چوي
له خپلو ورونو اخېر موږه چېرته کډه وکړو

موږ د وطن په مینه وسوځېدو سرولمبو کې
یو بې وزرونو اخېر موږه چېرته کډه وکړو

زموږ په ژبو او په سترګو پابندي لګېږي
له دې وختونو اخېر موږه چېرته کډه وکړو

زموږ په ښکلي وطن بل دي سقاوي اورونه
له دې غمونو اخېر موږه چېرته کډه وکړو

یو غریبي بل مې دښکلو فراق زړه تنګوي
له ستمونو اخیر موږه چېرته کډه وکړو

سحر مو غوښت خو په تیارو کې لالهاند پاتې شوو
له ماښامونو اخېر موږه چېرته کډه وکړو

علم ګل سحر

**وږی ۱۳۷۲ زرمت**

**اوبه که وینې؟؟!**

**بېل مې په غاړه دی**

**مزدور یمه**

**اوبه لګوم**

**شپه ده تیاره**

**اوتروږمۍ خوره ده**

**زه د بادار په ځمکه کار کوم**

**اوبه لګوم**

**بادار خوشال دی**

**او له پورته خونې**

**چیغې وهي:**

**–ژر شه اوبه لګوه**

**او له تیارې نه زیاته ګټه واخله**

**چې دا پټي اوبه شي**

**زه هم لګیا ه یمه**

**اوبه لګوم**

**اوبه له کومه کېږي**

علم ګل سحر

ویاله کې وینې راځي
خو دومره وینې چې ویاله یې اخستلای نه شي
آه ،
څومره ستړی یمه
وینې په پولو اوړي
ورخ یې په مخ اخیستی
پټم یې هم مخه نیولی نه شي
شپه ته تیاره
او ترورږمۍ خوره ده
خو زه په توره شپه
او دې تور تم کې
د رڼا څریکه وینم
او باوري یمه
چې شپه تیریږي
ژر به ګهیځ شي
ټولوبه ووینې چې دا اوبه(!)
له کومه راځي؟!

۱۳۷۲/۲/۲۵ زرمت ـــ پکتیا

علم ګل سحر

## ورکه مینه

زه په ویده مالت کې
زه په تیاره ماحول کې
یم سرګردانه
تورې شپې تېروم
او لا په لټه کې یم
دخپلې ورکې مینې
+++
زمانې ودرېږه!
چې زه ویده مالت کې
د ځوانۍ شپې تېروم
او تاته نه در رسم
چې خپله ورکه مینه
او خپل د مینې ژوندون
بیا ومومم!

۱۳۷۲/۵/۲۱ زرمت ــ پکتیا

## مات منګي

په سترګو سترګو کې کاته ليوني
نشه نشه ويده ويده ليوني

په خمارو کتو که ښکلې موسکا
وايه مين دې کړل په څه لېوني

منګي يې مات کړل، پيغلې تشې لاړې
په ګودرونو دي ميشته ليوني

له روغو خلکونه يې ښه درک کړې
چې له دنيا نه دي ماړه ليوني

د يوه بل سيورى په کاڼو ولي
دي له ازله پښتانه ليوني

سحره دا وطن به اور کې سوځي
څو چې ژوندي وي دا اته ليوني

علم ګل سحر

زمری ۱۳۷۸ پکتیا ــ زرمت

**دمینې قتل**

زموږه زړونه خو هغو وخوړل
د انتظار ترخو شېبو وخوړل

لکه شبنم په سرو ګلونو باندې
زما کاته ستا اننګو وخوړل

زما نیمګړي ارمانونه خدایه
څه غریبي څه جینکو وخوړل

د چا بنګلې دچا قبرونه جوړ شول
ځینو پیسې، ځینې پیسو وخوړل

زموږ هستي او تاریخي ویاړونه
خپلوتالا کړل او پردو وخوړل

د اور دبې د منځ تنکي ګلونه
پرخو تازه کړل خو ورېمو وخوړل

علم ګل سحر

زمورږ د مینې روح يې قتل کړلو
لکه ګلونه چې اغزو وخوړل

زمرى ۱۳۷۳ پکتيا ـــ زرمت

د سندرو ژړا

چې نشه لکه بهار يمه له مينې
ما له اوښکو د کوترو شراب څښلي

له دښمن سره احساس د خپلوي کړمه
مورږ په نوم يو د انسان سره پيبلي

ستا مې زلفي تر اړخ لاندې پرون شپه وې
ستوري هم و، ننداري ته راوتلي

چې مې زړه کې و، د مینې څو رازونه
درته ما د لمر په وړانګو دي لیکلي

زموږ زړونو کې د مینې ګلان لوني
څه جادو کوي په موږه دغه ښکلي

راته ښکاري چې ته هم شولي قاتله
مینې! ډېر دې په نامه دار ته ختلي

که راځې نو د وعدو نېټې پوره شوې
د کوکنارو ګلان نوي ټوکیدلي

زما ښکلې خپه نه شي بې وسي ده
مړوندونه دې په زرو نه شول ښکلي

د وطن پېغلې په ښکلې تورپیکې کې
د ګلونو پر ځای، شنه څوځ دې ټومبلي

د اورونو سیند کې لامبي سره ګلونه
دا سپرلي دي کوم ظالم په اور سوځلي

د مغلو تاړاک بیا په وطن راغی
ځوانان وژني، سوځوي زموږه کلي

دا زموږ سرونه لو، ته پاخه شوي
چې تر اوسه په دارنه دي ځړیدلي

حوصلې د زردارانو ختمې نه دي
لاخو غلاوي د رنجو کړي دا ښاغلي!

ارمانجن و، د سرو وینو، چې د ښکلو
له لاسو نه یې نکریزې دي شکولي

د موسکا هیله له ښکلو دلته مه کړه
دې مالت کې خو سندرو دې ژړلي

علم ګل سحر

مېندې ژاړې په کورونو کې یوازې
چې زامن بې د یو بل جنګ ته وتلي

دلته دار باندې رباب بې ګناه زانګي
او سندرې په ټوپکو باندې ولي

د لمر وړانګې دلته بل ډول ښکارېږي
بیا د سرو وینو پرې څاڅکي اوریدلي

له سوالګرې پېغلې تمه د وصال کړې
اننګې یې په یوه ډوډۍ بایللي

د غوټیو پېغلتوب یې دی لوټ کړی
سیلۍ جنګ د پسرلي ته رادانګلي

د جګړې شهیدان چا وې بې ګناه دي
دوی وو، هم د چا وژلو ته وتلي

بس دی مه وژنئ ددې وطن بچیان دي
جنازو نه سترې شوي زمورِ ولې

د رڼا څرېکه چې چېرته شي څرګنده
د تیارو دیوان یې کاږو باندې ولي

د سپوږمۍ پر مخ د زلفو وریځې راغلي
د سحر خو یې لاسونه دي تړلي

لا په خوله مې لګېدلي دي مهرونه
لا مې ډېر څه په زړه پاتي ناویلي...؟

دیوه دوست شعر ته ورته لیک په ځواب کې چې لیکلي یې و:(په دې دنیا کې دمینې ورڅوک پاتې دي؟)

**مینه نه مري**

ولې نه
لا ډېر کسان شته چې دمینې ورږدي
لا خو ډېر څه شته چې مورِ مینه ورکړو
مینه ژوندۍ ده لاهم
مینه هیڅکله نه مري

+ + +

لا ډېرې سترګې دي له مینې ډکې
لا مینه ژوند کوي زمورِ په زړو کې
ګیلاس لا نیم پاتې دی
لا انسانیت ژوندی دی
انسان د مینې نوم دی
لا زړونه شته چې کرکه نه پیژني
لا ډېر کسان شته چې د مینې ورږدي
لا خو ډېر څه شته چې مورِ مینه ورکړو
مینه ژوندۍ ده لاهم
مینه هیڅکله نه مري

+ + +

تا د بې موره وري په سترګو کې ليدلي کله ؟
تا کومه ورځ ګل ته اوبه ورکړې؟
د بلبل اوښکې دې ليدلې کله؟
باران وهلې توتکۍ ته دې پناه ورکړې؟
کتار د زانو دې ليدلی کله؟
د ونې څانګې دې لمس کړې کله؟
دکوم بوډا لاس دې نيولی کله؟
تا له سوالګر سره خواله کړې دي؟
تا ددښمن سترګو ته سم کتلې؟
مينه هغلته هم شته
لا ډير کسان شته چې د مينې وږدي
لا خو ډير څه شته چې موږ مينه ورکړو
مينه ژوندۍ ده لاهم
مينه هيڅکله نه مري
+ + +
اغزي دې ورک شي ،
اغزي ډير بدرنګ دي
چاته يې مه ورکوه
چيرې يوګل پيدا کړه
په موسکو شونډو يې ډالۍ کړه چاته

مينه له مينې پيدا شوې هروخت
كه نور نفرت كړي موږ به مينه كوو
زړه به هينداري غوندې پاک ساتو تل
كينې به نه ورپريږدو
لا ډير كسان شته چې دمينې وږدي
لا خو ډير څه شته چې موږ مينه وركړو
مينه ژوندۍ ده لاهم
مينه هيڅكله نه مري

مينه هيڅكله نه
مري

پای

علم گل سحر

## د دوتني اخير مخ له عکس سره

دليکوال چاپ اثار:

١– دسپوږمۍ ښکالو دشعرونو ټولګه ١٣٧٠

٢– د لمر جنازه // // ١٣٧٧

علم ګل سحر

۳– مینه او وسواس      د لنډو کیسو ټولګه      ۱۳۸۴

۴– د پاریال خوبونه      د شعرونو ټولګه      ۱۳۸۱

۵–مینه او جګړه      ناول      ۱۳

۶–پاس سپوږمۍ، لاندې ته یې   د شعرونو ټولګه ۱۳۸۵

۷– د متلونو کیسې او نور معلومات      ۱۳۸۷

۸– شیطان ځراغ      د طنزیه کیسو ټولګه  ۱۳۸۶

۹– ستوري      د ماشومانو لپاره شعرونه ۱۳۸۷

۱۰– د مینې روغتون  د نړۍ د مشهوروطنزونو ژباړه   ۱۳۸۷

۱۱– خبرې له خبرو پیدا کیږي      ۱۳۸۷

۱۲– بې ځایه غرور      د ماشومانو لپاره کیسې

۱۳– د انارترونې لاندې د تورنتو اوښکې   ناول   ژباړه

۱۴– لاهم ځارمه ستا لارې   د شعرونو ټولګه

۱۵– د ارګ نن او پرون      ۱۳۹۱

۱۶– خاموش فیلیسوف      د مقالو ټولګه –تدوین

۱۷– د کابل لویه تراژیدي      خاطرې او ورځنې یاددښتونه

۱۳۹۰ په پرله پسې ډول په خدمتګار ورځپاڼه کې خپور شو.

۱۸–

همدا اثر

ناچاپ اثار:

۱– بیتونه دریابونه   (د شعرونو غورچاڼ) تدوین

۲– د ښاپيرۍ په لټه        د لنډو کيسو ټولګه

۳– داسې متل نشته چې رښتيا نه وي؟ خيړنيز اثر

۴–کاروانونه د بکوا په دښت تيريږي  فولکوريک اثر

۵– د عرفان مجلې تاريخچه او نيوليک      تحقيقي اثر

۶– ژوند په شيبو کې                    تحقيقي اثر

۷– د دوندرو ليوان              ناول  ژباړه

۸– د حکومت جوړونې بهيرله امان الله تر کرزي– تاريخ ژباړه

۹–د سارک کنفرانس                 //